رواداری
RAWADARI

# د طالبــانو په زندانونو کې شکنجه او ناوړه چلنـد

جـــون
۲۰۲۵



رواداري يو خپلواک او بې پرې بنسټ دی چې پر بشر حقونو د څارنې، په افغانستان کې د بشر حقونو د کلتور د پراختیا، حساب ورکوونی، او د قرباني محوره عدالت د کلتور د تامینولو په موخه رامنځته شوی. دا بنسټ د بې پريتوب د اصل په بشپړ رعايت او د بشر حقونو اړوندو ټولو منل شويو نړيوالو اصولو او معيارونو ته په درنښت، خپلې چارې پر مخ وړي، چې دغه راپور هم په همدې موخه د بشر حقونو د پيښې، څرنګه چې پېښې شوې دي، په ريښتينولۍ خپروي.

# فهرست مطالب


سریزه ۳
د څېړنې کړنلاره ۴
د څېړنې محدودیتونه ۵
حقوقي چوکاټ ۵
د شکنجې تعریف ۵
د شکنجې تحقق شرایط او عناصر ۶
۱. مادي عنصر ۶
۲. رواني عنصر ۶
۳. د شکنجې عامل ۶
٤. د شکنجې هدف ۶
۵. د درد او کړاو شدت ۶
د شکنجې څخه د خلاصون حق تضمینول ۶
الف- د بشر حقونو نړیوال اسناد ۶
ب- کورني قوانین ۷
د دولتونو مکلفیتونه ۷
الف- د شکنجې جرم ګڼل ۸
ب- اجرایي اقدامات ۸
د څېړنې د موندنو ارزونه او شننه ۹
خپلسرې او غیرقانوني نیونې ۹
جبري تري تم کول ۱۱
د خپلسرې نیونې او جبري تري تم کولو انګېزې ۱۳
د مدني فعالیتونو ځینه ۱۳
سیاسي غچ اخستنې ۱۵
د نیونې په لومړیو پړاوونو کې له زور او تاوتریخوالي څخه استفاده ۱۷
د شخصي شتمنیو ضبطول ۱۹
د نیولو او بندي کولو شرایط ۲۰
۱. د بندیانو د ساتلو د ځایونو ډول ۲۰
۲. د لومړنیو اسانتیاوو او شخصي روغتیا ساتنې نشتوالی ۲۱
۳. مناسب خوړو او د څښاک د پاکو اوبو نشتوالی ۲۲
۴. طبي خدماتو ته لاس‌رسی نشتوالی ۲۳
۵. د ښځو لپاره د ځانګړو روغتیا ساتونکو پاملرنو نشتوالی ۲۳
د شکنجې او ناوړه چلند ډولونه ۲۵
الف – فزیکي شکنجه ۲۶
۱. وهل ټکول ۲۶

۲. مصنوعي ډوبول / د اوبو له لارې ساه بندول ۲۹
۳. د غاښونو او نوکانو ویستل ۳۱
۴. پر سر د پلاستیکي خلتې اچول ۳۲
۵. بریښنایي شاک ۳۳
۶. په چت پورې ځوړندول ۳۴
۷. چپه ولچک کول ۳۶
۸. د ساتیرۍ لپاره شکنجه ۳۶
ب – رواني شکنجه او ناوړه چلند ۳۷
۱. تحقیر او سپکاوی ۳۷
۲. په وژلو، سر پرېکولو، اعدامولو، سنگسارولو او ژوندي خښولو باندې د قربانیانو تهدیدول ۳۹
۳. د کورنۍ د غړو د وژلو او سر پرېکولو ګواښ ۴۱
٤. د کورنۍ د غړو د نیولو او ځورولو ګواښ ۴۱
۵. قومي او مذهبي سپکاوی او توهین ۴۲
٦. د مذهبي مناسکو د ترسره کولو مخنیوی ۴۳
۷. په انفرادي تمبو کې ساتنه ۴۶
۸. پرلهپسې پلټنې او جبري اعتراف ۴۷
۹. په پټو زندانونو کې ساتنه او غیر انساني شرایط ۵۰
ج - جنسي ځورونه او آزار ۵۱
۱. بربنډول ۵۲
۲. د بدن لمس کول ۵۲
۳. کلامي جنسي ځورونه ۵۴
د نورو کسانو د شکنجې لیدنه ۵۵
د بندیانو وژنه ۵۶
د شکنجې او ناوړه چلند پایلې ۵۷
۱. فزیکي پایلې ۵۷
۲. رواني پایلې ۵۸
د شکنجې او ناوړه چلند عاملین ۵۸
له خوشې کېدو وروسته ځورونې او تهدیدونه ۵۹
د عدالت او حساب‌ورکونې خنډونه ۶۰
۱. مدافع وکیل ته نهلاسرسی ۶۱
۲. محکمې ته نهلاسرسی ۶۱
۳. د شکایتونو نه اورېدنه او له مجازاتو د شکنجه کوونکو معافیت ۶۴
پایله ۶۷
وړانیزونه ۶۸

# سـريـزه

د ۲۰۲۱ کال د اګست پر ۱۵مه پر افغانستان د طالبانو له بیا واکمنېدو راپدېخوا، د بشر حقونو د نقض ډېر شمېر راپورونه خپاره شوي؛ په ځانګړي ډول د واکمنو چارواکو[1] تر کنټرول لاندې د آزادۍ د سلب په ځایونو کې. د خپلواکو ځارونکو بنسټونو او په دې موده کې د مخه نیوونکو قانوني میکانیزمونو په نشتوالي کې طالبانو په خپلسري او غیر قانوني ډول خلک نیولي، شکنجه کړي او ناوړه چلند یې ورسره کړی.

دا  راپور د خپلسرو نیونو، اجباري تري تم کولو او شکنجې له قربانیانو سره د مخامخ مرکو پر بنسټ، او په کره توګه د هغوی د تجربو او داستانونو د مستندولو په برخه کې، د آزادۍ د سلب په مرکزونو کې د شکنجې د بېلګو د ژور درک، د عامه پوهاوي د زیاتوالي ،او همدا راز د شکنجې او ناوړه چلند د عاملانو د ځواب ویونکي کولو په موخه، د عدالت غوښتونکو پر بنسټ برابر شوی دی.

البته شکنجه او ناوړه چلند په افغانستان کې نوې پدیده نه ده او په دې هیواد کې په بېلابېلو نظامونو کې اوږده مخینه لري؛ خو په دې راپور کې راټول شوي داستانونه، له نیول شویو کسانو سره د چلند بوګنوونکی انځور وړاندې کوي او د طالبانو تر کنټرول لاندې د آزادۍ د سلب پر مرکزونو د حاکمو غیرانساني شرایطو عکاسي کوي.

**د دې څېړنې د موندنو پر بنسټ، طالبان د هر ډول ځواب وینې، او بین المللي اصولو او موازینو ته له پاملرنې پرته؛ چې د شکنجې په بې قید و شرطه ممنوعیت ټینګار کوي، خلک یې په خپلسري ډول نیولي، او وروسته یې له هغوی څخه د اعتراف او اقرار اخستلو لپاره له ویرولو، تنبیه کولو او یا تحقیرولو څخه استفاده کړې.**

له مرکه شویو څخه ترلاسه شوي اطلاعات هم ښیي چې شکنجه د مدني او عدالت غوښتونکو اعتراضونو د ځپلو او هم د مخکني حکومت له کارکوونکو او د طالبانو له منتقدینو څخه د غچ اخستنې د وسلې په توګه کارول شوې ده.

په دې راپور کې مستند شوي اطلاعات ښیي چې طالبان له قانوني الزاماتو او د بشر حقونو د بنسټیزو اصولو له رعایتولو پرته، د خلکو د نیولو له لومړیو مرحلو څخه تر خوشې کولو پورې، په بېلابېلو بڼو خلک شکنجه کړي او ناوړه چلند یې ورسره کړی. دا چلندونه فزیکي او رواني شکنجې، جنسي ځورونې، د تورو تمبو شاته او په شخصي زندانونو کې د زیاتې مودې لپاره ساتل، له روغتیایي خدمتونو څخه قصدي محرومول، مدافع وکیل ته له لاسرسي څخه محرومول، له کافي خوړو څخه محرومول او نور تحقیروونکي او غیر انساني شرایط رامنځته کول رانغاړي.

**په ځینو مواردو کې، ډېری مهال حاکمو چارواکو او په ځانګړي ډول د دوی د استخباراتو د اداري کارکوونکو، قربانیان د تفریح او ساتېرۍ لپاره هم شکنجه کړي، او همدا راز یو شمېر یې له خوشې کولو وروسته هم ځورولي دي.**

تمه کېږي چې په دې راپور کې وړاندې شوې موندنې او اطلاعات چې د قربانیانو لومړی لاس روایتونه دي، د بین المللي بنسټونو او ټولنو د جدي پاملرنې وړ وګرځي او د لا نورې څېړنې لپاره د بېړنیو اقداماتو او د طالبانو تر کنټرول لاندې د آزادۍ د سلب د مرکزونو وضعیت ته د رسېدنې لپاره زمینه برابره کړي، د شکنجې او ناوړه چلند د دوام مخه ونیسي او د قربانیانواغېزناک ملاتړ وکړي.

1 . په دې راپور کې د «طالبان» او «واکمن چارواکي» اصطلاح د دې ډلې د نوم اخستلو لپاره کارول شوې ده.

# د څېـــړنې کړنــلاره

دغه راپور د کیفي څېړنې پر بنسټ جوړ شوی، او موخه یې له بندیانو سره د طالبانو د چلند ډول مستندول، په ځانګړې توګه له بندیانو سره له تاوتریخوالي د ډک او ناوړه چلند د بېلګو ثبتول دي.

**په دې څېړنه کې له ۳۴ هغو کسانو سره چې د طالبانو له بیا واک ته رسېدو وروسته نیول شوي او بندیان شوي، نېغ په نېغه مرکې شوې دي، او په مرکه شویو کې ۷ تنه یې ښځې دي. مرکه شوي کسان په هدفي ډول غوره شوي دي؛ رواداری له دغو کسانو څخه له ځینو سره په تېرو څو کلونو کې مستقیم تماس درلود، او یو شمېر نور د نورو مرکه شویو کسانو له لارې معرفي شوي دي. دغه کسان د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵مې څخه تر ۲۰۲۵ کال د جنورۍ تر ۴مې نېټې په موده کې نیول شوي دي. ټولې مرکې د دې کسانو له خلاصون وروسته ترسره شوې دي، د ټولو ۳۴ مرکه شویو کسانو له دې ډلې ۲۲ تنه یې دا مهال له افغانستان څخه بهر ژوند کوي. همداراز، د دغو کسانو د بند موده له لږ تر لږه ۴ ساعتونو تر زیات نه زیات درې کلونو پورې ثبت شوې ده. مرکه شوي کسان د افغانستان له ۱۶ ولایتونو څخه دي[2]، او له قومي، مذهبي، جنسي، او مسلکي پلوه متنوع ترکیب منعکسوي؛ چې پکې د پخواني حکومت کارکوونکي، مدني فعالان، خبریالان، او د بشر حقونو ملاتړي شامل دي.**

مرکې د ۲۰۲۵ کال د اپرېل له نهمه د جون تر دریمې نېټې پورې د رواداري د تجربه لرونکي څېړونکي ډلې له خوا، د ټیلیفون له لارې او هم په حضوري بڼه ترسره شوې دي؛ دا کسان د شکنجې له قربانیانو سره د خبرو او مرکو تجربه لري. موږ په دې څېړنه کې له یو ډول او نیمه ساختتاري پوښتنلیک څخه کار اخیستی، او ټولې سرغړونې مو له نیونې تر خلاصون پورې د قربانیانو د تجربو او روایتونو پر بنسټ ثبت او مستندې کړې دي. مرکې په دوه ژبو، دري او پښتو ترسره شوې دي، او هرې مرکې له یو نیم ساعت څخه تر درې ساعتونو پورې وخت نیولی دی.

**همداراز، له مرکې مخکې د مرکه شویو کسانو اګاهانه او شفاهي رضایت تر لاسه شوی، او د څېړنې موخې، د خوندیتوب تدابیر، او د معلوماتو د کارونې څرنګوالی هم په تفصیل ورسره شریک شوی دی. د دې څېړنې د ګډونوالو د ساتنې او امنیت ډاډمنولو لپاره، ټول راټول شوي معلومات؛ د مرکه شویو کسانو د هویت اړوند د معلوماتو په ګډون، محرم او خوندي ساتل کېږي.**

د قربانیانو له مرکو څخه د ترلاسه شویو معلوماتو د شننې لپاره، له کیفي شننې کار اخیستل شوی، او ټولې مرکې د پوښتنلیک د منځپانګې او د څېړنې د مهمو موضوعاتو پر بنسټ کوډ شوې او وېشل شوې دي. له همدې امله، دا راپور د قربانیانو د تجربو پر مستندولو او کیفي تحلیل ولاړ دی، او په بېلابېلو برخو کې چې کومې شمېرې وړاندې شوې دي، هدف یې یوازې د قربانیانو په داستانونو کې د مشترکو بېلګو او د بشر حقونو د نقض د شاخصونو پېژندنه ده، نه دا چې دغه وضعیت دې پر ټولو بندیانو او د طالبانو تر ولکې لاندې د آزادۍ د سلب په ټولو ځایونو تعمیم شي.

2 . بامیان، بدخشان، بلخ، بادغیس، پروان، دایکندي، جوزجان، غور، غزني، کندهار، کاپیسا، کابل، سرپل، سمنګان، میدان وردګ او هرات

## د څېـــړنې محدودیتــونه

دې ته په پام سره چې طالبانو معلوماتو ته پر لاسرسي سخت محدودیتونه لګولي، او په ځانګړي ډول د بشر حقونو د نقض د پېښو اړوند د معلوماتو خپرېدو مخه د زور، وېرولو او ګواښ له لارې نیسي؛ نو له قربانیانو سره د اړیکو محدودیت او د هغوی له خوا د خپلو تجربو له شریکولو څخه ډډه کول، د دې څېړنې لومړنی خنډ بلل شوی دی.

لکه څنګه چې د دې راپور موندنې هم ښیي، طالبانو قربانیان له بند څخه تر خلاصون وروسته له نورو کسانو سره له خبرو او معلوماتو شریکولو څخه منعه کړي دي، او ډېری یې د بیا نیول کېدو او شکنجې له وېرې، په ازآد ډول د خپلو تجربو له بیانولو څخه ډډه کوي. سربېره پر دې، یو شمېر قربانیان د ځواب وینې پر میکانیزمونو او د بشر حقونو پر بنسټونو د باور نه لرلو له امله مرکو ته نه دي حاضر شوي.

له بل پلوه، د دې لپاره چې ترلاسه شوي معلومات په خپلواکه توګه وڅېړل شي رسمي اسنادو او اړوندو شواهدو ته لاسرسی ممکن نه و؛ ځکه چې لګول شویو محدودیتونو ته په پام سره، اوس مهال حقوق بشري بنسټونه د طالبانو تر ولکې لاندې د آزادۍ د سلب د مرکزونو د څار حق نه لري. د دې ټولو یادو شویو محدودیتونو سره سره، دا راپور توانېدلی چې د قربانیانو د مخامخ او لومړی لاس تجربو پر بنسټ، د بشر حقونو د نقض د تجربو یو باوري او پر ژوندیو تجربو ولاړ انځور؛ په ځانګړي ډول د طالبانو له خوا د شکنجې او ناوړه چلند یو تصویر وړاندې کړي.

**د یادونې وړ ده، چې د ځینو قضیو په اړه له کره معلوماتو، لکه د پېښو د نیټې او ځای له څرګندولو څخه ډډه شوې، څو د قربانیانو د هویت له څرګندولو ډډه وشي، او همداراز، د شکنجې د قربانیانو د انساني کرامت د درناوي لپاره، د دوی د داستانونو ځینې جزئیات قصداً حذف شوي دي.**

## حقوقي چوکاټ

له شکنجې خلاصون د خلکو مطلق، نه سلبېدونکی او نه ځنډېدونکی حق دی، چې د بشر حقونو په ګڼو بین المللي اسنادو کې په رسمیت پېژندل شوی دی. په دې مبحث کې لومړی د شکنجې تعریف او عناصر ارزول کېږي، او وروسته به په لنډه توګه په اړوندو بین المللي اسنادو او د افغانستان په کورنیو قوانینو بحث وشي.

## د شکنجې تعریف

د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکوونکو چلندونو یا سزاګانو د منع نړیوال کنوانسیون د ۱ مادې له مخې، شکنجه داسې تعریف شوې ده:

«هر هغه عمدي عمل چې له امله یې یو شخص ته شدید فزیکي یا رواني درد یا کړاو ورکړل شي، د دې لپاره چې له هغه یا له بل چا نه معلومات یا اعتراف تر لاسه شي، شکنجه بلل کېږي. همداراز، که یو څوک د هغه عمل له امله چې هغه یا بل څوک یې ترسره کوي، یا اټکل کېږي چې ترسره به یې کړي، د مجازاتو، ګواښ یا زور لاندې ونیول شي، او دغه کړاو یا خو د دولتي مامور په تحریک، اجازه، رضایت یا غفلت سره ترسره شي، دا هم شکنجه ګڼل کېږي»[3].

د استانبول پروتوکول د شکنجې له امله د درد او کړاو ډولونه، طریقې، او موخې په تفصیل سره بیان کړي، او دا د شکنجې د پېژندنې او مستندسازۍ لپاره یو مؤثر لارښود دی[4].

3 . د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې، د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکوونکو چلندونو یا سزاګانو د منع نړیوال کنوانسیون، (۱۰ دسمبر ۱۹۸۴)، اوله ماده

4 . د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمېشنري، د استانبول پروتوکول: د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني یا سپکوونکو چلندونو یا سزاګانو د مؤثرې څېړنې او مستندسازۍ لارښود، (۲۰۲۲)، څلورم فصل، برخه B.1

## د شکنجې تحقق شرایط او عناصر

د شکنجې د کنوانسیون له مخې، د شکنجې جرم هغه وخت رامنځته کېږي چې لاندې عناصر هممهاله شتون ولري

### ۱ - مادي عنصر

یعنې د داسې عمدي عمل ترسره کول یا نه ترسره کول، چې د شدید فزیکي یا رواني درد لامل شي. دا کیدای شي مستقیم عمل وي (لکه وهل، سپکاوی)، یا د مسؤلیتونو نه ترسره کول (لکه خواړه، دوا نه ورکول، د کورنۍ له اړیکو منع کول).

### ۲ - رواني عنصر

شکنجه باید د مخکېني قصد او نیت پر بنسټ ترسره شوې وي. هغه اعمال چې تصادفي وي یا له غلطۍ سره ترسره شي، حتی که درد هم رامنځته کړي، شکنجه نه ګڼل کېږي.

### ۳ - د شکنجې عامل

شکنجه باید یا د دولت د مامور لخوا مستقیم، یا د هغه په رضایت، تحریک یا سکوت سره ترسره شوې وي. که دا عمل د عامو خلکو ترمنځ ترسره شي پرته له دولتي لاس‌وهنې، نو شکنجه نه ګڼل کېږي.

### ٤ - د شکنجې هدف

د شکنجې تر شا موخه باید معلومات یا اعتراف تر لاسه کول، ګواښ، سزا ورکول، یا د تبعیض پر بنسټ درد ورکول وي.

### ٥ - د درد او کړاو شدت

د پورتنیو څلورو عناصرو په پام کې نیولو سره، هر کله چې د یو عمل عمدي ترسره کول یا پرېښودل، قرباني ته تر ټولو زیات فزیکي یا رواني درد او کړاو ورسوي، نو دا عمل شکنجه بلل کېږي.

## د شکنجې څخه د خلاصون حق تضمینول

د بشر د حقونو نړیوال اسناد او همداراز د افغانستان کورني قوانین، د شکنجې نه خلاصي ته د یو نه‌سلبېدونکي بشري حق په توګه په ښکاره ډول ضمانت ورکړی دی.

### الف- د بشر حقونو نړیوال اسناد

د بشر حقونو نړیواله اعلامیه په پینځمه ماده کې څرګندوي، چې هېڅوک باید شکنجه نشي او ظالمانه، غیرانساني یا سپکوونکي چلند او مجازاتو سره مخامخ نه شي.[5] همداراز، د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق په اوومه ماده کې ټینګار کوي چې: «هیڅوک باید شکنجې، ظالمانه، غیرانساني او سپکوونکو مجازاتو یا چلندونو ته ونه سپارل شي.»[6] د شکنجې او نورو ظالمانه، غیرانساني یا سپکوونکو چلندونو د مخنیوي نړیوال کنوانسیون، چې په دې برخه کې تر ټولو مهم نړیوال سند ګڼل کېږي، شکنجه یې په هر ډول حالت کې او پرته له قید او شرطه، منعه کړې ده. د دې کنوانسیون د دویمې مادې په دویم بند کې راغلي: «هیڅ ډول استثنایي وضعیت، لکه د جګړې ګواښ، کورنۍ بې ثباتي، ناامني یا هر بل بیړنۍ حالت، شکنجه نشي توجیه کولای.[7] د شکنجې د مخنیوي کمېټه، چې د دې کنوانسیون د څار بنسټ دی، د خپلو عمومي سپارښتنو او قضایي رویو له لارې د دې سند تفسیر کوي، او په ځانګړي ډول د شکنجې د مخنیوي په برخه کې د دولتونو

5 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د بشر حقونو نړیواله اعلامیه، ۱۹۴۸ کال، ۵مه ماده.
6 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، ۱۹۶۶ کال، ۷مه ماده.
7 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني او سپکوونکو چلندونو او مجازاتو د مخنیوي بین المللي کنوانسیون، ۱۹۸۹ کال، ۲مه ماده، ۲ بند.

مکلفیتونه روښانه کوي، د شکنجې په مخنیوي کې یې مهم رول لوبولی.[۸] استانبول پروتوکول هم د نړیوالې مرجع د لارښود په توګه، څارونکو بنسټونو سره مرسته کوي چې شکنجه، او نور ظالمانه، غیرانساني یا سپکوونکي چلندونه وپېژني او مستند یې کړي.[۹]

**هممهاله، د نړیوالې جزایي محکمې د اساسنامې له مخې، شکنجه یو نړیوال جرم بلل کېږي، او که دا عمل د ملکي وګړو پر ضد د پراخ یا سازمان شوي برید یوه برخه وي، د بشر ضد جنایت ګڼل کېدای شي.[۱۰]**

## ب- کورني قوانین

د افغانستان کورني قوانین، په ځانګړې توګه د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون، د بشر حقونو د نړیوالو اسنادو په پیروۍ، له شکنجې څخه د خلاصون حق په مطلق ډول تضمین کړی دی.

د دې اساسي قانون ۲۹مه ماده په صراحت سره وایي: « د انسان تعذیب منع دی. هیڅوك نه شي کولای چې له بل شخص څخه حتی د حقایقو د ترلاسه کولو لپاره که څه هم تر تعقیب، نیونې یا توقیف لاندې وي او یا په جزا محکوم وي، د هغه د تعذیب لپاره اقدام وکړي یا یې د تعذیب امر ورکړي.».[۱۱] په ۳۰مه ماده کې راغلي: « له متهم یا بل شخص څخه په زور تر لاسه شوي څرګندونې، اقرار یا شهادت اعتبار نه لري. په جرم اقرار د متهم هغه اعتراف ته وایي چې په بشپړه خوښه او د عقلي روغتیا په حالت کې یې د با صلاحیته محکمې په وړاندې کړی وي.»[۱۲]

**د افغانستان د جزا کوډ چې په ۲۰۱۸ کال کې تصویب شوی، د اساسي قانون د ۲۹مې مادې د حکم په چوکاټ کې، د شکنجې د عناصرو د تعریفولو تر څنګ، دا عمل جرم بللی او مرتکبینو ته یې جزا ټاکلې ده.[۱۳] له بل پلوه، د افغانستان د شکنجې د مخنیوي قانون، چې په ۲۰۱۷ کال کې تصویب شوی، ټول دولتي کارکوونکي د قضایي تعقیب په ټولو پړاوونو کې د وګړو له شکنجه کولو څخه منعه کړي دي، او ټینګار کوي چې په هېڅ حالت، حتا د جګړې په شرایطو یا د جګړې د پېښېدو د ګواښ پر مهال، د سیاسي بې‌ثباتۍ یا په هر بل حالت کې، نشي کولای د وګړو د شکنجه کولو او تعذیبولو اقدام وکړي.[۱۴]**

سره له دې، طالبان واک ته بېرته له رسېدو وروسته د یادو شویو قوانینو، لکه د اساسي قانون، د جزا کوډ، او د شکنجې د مخنیوي د ځانګړي قانون پلي کول ځنډولي دي. له همدې امله، دا مهال په افغانستان کې د شکنجې د جرم د مخنیوي او د مرتکبینو د قانوني تعقیب لپاره هېڅ مؤثر قانوني مېکانېزم نشته.[۱۵]

# د دولتونو مکلفیتونه

د بشر حقونو د بین المللي اسنادو له مخې، ژمن دولتونه دا مسؤلیت لري چې د انساني کرامت درناوی، د قربانیانو اغېزناک ملاتړ، او د اړینو قوانینو او مقرراتو پلي کولو له لارې، له شکنجې او ناوړه چلند سره مبارزه وکړي. د شکنجې د مخنیوي اصل، د نړیوالو آمره قواعدو[۱۶] له جملې څخه دی؛ یعنې دولتونه، که د اړوندو نړیوالو اسنادو غړي وي او که نه، په هېڅ حالت کې د شکنجه کولو حق نه لري. سره له دې، په ځانګړي ډول د غړو هېوادونو لپاره، لاندې تعهدات عملي کول،

8 . د شکنجې د مخنیوي کنوانسیون، ۲ شمېره عمومي تفسیر، ۲مه ماده: د کنوانسیون د ۲مې مادې  پلي کول، ۲۰۰۸ جنوري.

9 . د ملګرو ملتونو سازمان د بشر حقونو عالي کمیساري، د استانبول پروتوکول: د شکنجې او نورو بې رحمانه او غیر انساني یا سپکوونکو چلندونو او مجازاتو د اغېزناکو مستندولو او څېړلو لپاره بین المللي لارښود، ۲۰۰۴.

10 . د ملګرو ملتونو عمومي غونډې د روم اساسنامه، ۷مه ماده، ۱ بند (الف).

11 . د افغانستان جمهوري اسلامي دولت، د افغانستان اساسي قانون، ۲۰۰۴ کال، ۲۹مه ماده.

12 . هماغه سرچینه، ۳۰مه ماده.

13 . د افغانستان جمهوري اسلامي دولت، د جزا کوډ، ۲۰۱۸ کال، ۴۵۰ او ۴۵۱ مواد.

14 . د اجمهوري اسلامي افغانستان د شکنجې د مخنیوي قانون، ۲۰۱۷، رسمي جریده؟؟؟ ۶ او ۷ مادې.

15 . رواداري، د طالبانو په عدلي او قضایي نظام کې عدالت ته د لاسرسي وضعیت، ۲۰۲۳ کال جون، ۱۳ مخ. https://rawadari.org/wp-content/uploads/2025/03/RW_Rule-of-Law-Report-Dari.pdf

16 . د دولتونو د مسؤولیت د اصولو د مسودې له مخې، چې په ۲۰۰۱ کال کې د بین المللي حقونو د کمیسیون له خوا تصویب شوی، د شکنجې مخنیوی د بین المللي حقوقو له آمره قواعدو څخه ګڼل کیږي، چې دولتونه په هیڅ ډول شرایطو کې نشي کولای له رعایت کولو څخه یې سرغړونه وکړي.

اړین دي او پرېښودلای يې نه شي.

## الف- د شکنجې جرم ګڼل

د شکنجې د مخنیوي بین المللي کنوانسیون د څلورمې مادې له مخې، دولتونه مکلف دي چې شکنجه په ښکاره توګه د خپلو کورنیو قوانینو په چوکاټ کې جرم وګڼي، او مرتکبینو ته اغېزناکې، متناسبې او مخنیوی کوونکې جزاوې وټاکي، او پلې يې کړي.[17] همداراز، د دې کنوانسیون د دویمې مادې له مخې، دولتونه دا مکلفیت لري چې د شکنجې د بشپړ مخنیوي لپاره، قانوني، اجرایي او قضایي اقدامات تر سره کړي.[18]

هممهاله، د شکنجې د مخنیوي بین المللي کنوانسیون د څوارلسمې مادې له مخې: «هر غړی دولت مکلف دی چې د خپل قانوني نظام له لارې داسې ترتیب برابر کړي چې د شکنجې قرباني د تاوان د اخیستلو، مناسب، عادلانه او کافي جبران او غرامت غوښتلو حق ولري...»[19] په عین وخت کې، د شکنجې جرم ته د رسېدنې لپاره د کورنیو محکمو د صلاحیت ټاکل بله هغه دنده ده چې غړي دولتونه يې باید ترسره کړي.[20]

## ب- اجرایي اقدامات

د غړو دولتونو اجرایي اقدامات د شکنجې د ټولو ادعاوو څېړنه، ورته رسېدنه او د شکنجو د عاملانو تعقیب او قانوني مجازات رانغاړي.[21]

**همداراز، د شکنجې د مخنیوي په موخه، دولتونه باید د زندانونو د کارکوونکو، امنیتي ځواکونو، او عدلي-قضایي مامورینو لپاره منظم روزنیز پروګرامونه پلي کړي، او هم باید خپلواکې ملي اداري جوړې کړي چې د زندانونو، توقیف ځایونو او بند خونو منظمه څارنه وکړي، څو د شکنجې پېښې تشخیص او مخنیوی يې وشي.[22]**

د قربانیانو لپاره د رواني، حقوقي او ټولنیزو خدماتو برابرول، او د شکنجې د مخنیوي کنوانسیون د مفادو او مقرراتو د پلي کولو په برخه کې د ترسره شویو اقداماتو دوره يي راپورونه وړاندې کول، د غړو دولتونو له نورو مهمو مکلفیتونو څخه دي.[23]

افغانستان د هغو ګڼو بین المللي اسنادو غړیتوب لري چې د شکنجې او ناوړه چلند ممنوعیت تضمینوي؛ لکه د شکنجې د مخنیوي بین المللي کنوانسیون، د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق، او د ماشوم د حقونو بین المللي کنوانسیون.[24]

پر همدې بنسټ، طالبان د حاکمې ډلې په توګه مکلف دي چې د دغو اسنادو اړوند تعهدات رعایت کړي. دغه مکلفیت یوازې د افغانستان د غړیتوب له مخې نه، بلکې د بین المللي آمره قواعدو پر بنسټ هم باید عملي شي. د همدې اصل له مخې، د شکنجې مخنیوی یو نړیوال او نه تعلیقېدونکی تعهد دی، او هېڅ جوړښت یا واکمنه ډله نه شي کولای له دې اصولو تېری وکړي.

17 . د شکنجې د مخنیوي کنوانسیون، ۴مه ماده.
18 . هماغه سرچینه، ۲مه ماده.
19 . هماغه سرچینه، ۱۴مه ماده.
20 . هماغه سرچینه، ۵مه ماده.
21 . هماغه سرچینه، ۱۲ او ۱۳مادې.
22 . هماغه سرچینه،، ۱۰ او ۱۱ مادې.
23 . د کنوانسیون ۱۴ او ۱۹ مواد.
24 . د ملګرو ملتونو سازمان د اطلاعاتو مرکز، «د بشر حقونو معاهدات چې افغانستان ورسره تړلی دی»

## د څېړنې د موندنو ارزونه او شننه

**د راپور په دې برخه کې، د راټولو شويو مرکو او داستانونو په استناد، د طالبانو له خوا له بنديانو سره د چلند څرنګوالی – له نيولو تر خوشې کېدو پورې – د بين‌المللي معيارونو په چوکاټ کې، په ځانګړې توګه د شکنجې د مخنيوي کنوانسيون او د استانبول د پروتوکول په چوکاټ کې تحليل او ارزول کېږي. لومړی به د نيولو د لومړنيو پړاوونو پر سرغړونو بحث وشي، بيا به د طالبانو تر کنټرول لاندې د ازادۍ د سلب پر ځايونو حاکم شرايط، وروسته به د شکنجې او ناوړه چلند ډولونه او فزيکي او رواني پايلې يې، او په پای کې به د عدالت د تحقق او حساب ورکونې خنډونه تحليل شي.**

## خپلسرې او غيرقانوني نيونې

د مدني او سياسي حقونو د بين المللي ميثاق د نهمې مادې له مخې، هر انسان د شخصي آزادۍ او امنيت حق لري. هيڅوک بايد د په خپل سر توقيف يا و نه نيول شي. هيڅ څوک بايد له خپلې آزادۍ او شخصي امنيت څخه بې برخې نه شي، پرته له دې چې دا کار د عادلانه محاکمې د قانوني اصولو پر بنسټ وشي.[25]هر څوک چې ونيول شي، بايد سمدستي د نيونې د علت او تورونو په اړه خبر کړل شي، او په معقوله موده کې محاکمه يا خوشې کړل شي.[26] همداراز، د همدې ميثاق د نهمې مادې پر بنسټ، که يو څوک د کورنيو قوانينو پر اساس هم ونيول شي، خو دا نيونه ناعادلانه، نه اټکلېدونکې، نامتناسبه يا د عادلانه محاکمې اصول پکې نه وي مراعات شوي، دا به يوه خپلسرې نيونه وي چې منعه ده.[27]

**سره له دې، د دې څېړنې موندنې ښيي چې طالبانو د ټولو هغو کسانو له ډلې چې رواداري بنسټ سره يې مرکې کړې دي د ۳۳ تنو د نيولو اړوند قانوني حکم نه دی صادر کړی او دا ټولې نيونې بې له کوم رسمي سند، د تور اعلان، يا د قانوني الزاماتو او د عادلانه محاکمې له اصولو پرته تر سره شوي دي. د دې کسانو له ډلې يوازې يو تن ويلي چې د نيول کېدو حکم يې موجود و، خو خپله يې نه دی ليدلی. درې تنو مرکه شويو ويلي چې له نيول کېدو وړاندې د استخباراتو د ادارې له خوا د ټلفون له لارې احضار شوي ؤ.**

همداراز، ۱۵ نورو کسانو ويلي چې پرته له قانوني تشريفاتو، له شخصي نقليه وسايطو په استفادې، لکه موټرسايکل او په ځينو واردو کې په داسې حالت کې چې توره پلاستيکي خلته يې پر سر ور اچول شوې او لاس پښې يې تړل شوې، د شخصي موټر په ډاله کې اچول شوي او د بند ځای ته وړل شوي دي. که څه هم دا توقيفونه د طالبانو له‌خوا شوي، خو په ډېرو واردو کې نيوونکو کسانو نه رسمي يونيفورم درلود او نه يې خپل ځان معرفي کړی.

له بلې خوا، د ټولو ۳۴ تنو مرکه شويو له ډلې ۲۸ تنو ويلي چې د عدلي تعقيب په هېڅ پړاو کې يې مدافع وکيل ته لاسرسی نه درلود، او همدا راز، د ۲۴ تنو دوسيې، چې ډېری يې د استخباراتو اداري له خوا نيول شوي ؤ، هېڅ محکمې يا قضايي مرجع ته نه دي استول شوي. د يادونې وړ ده چې له مرکې شويو کسانو څخه ۲ تنه د طالبانو له‌خوا له ۲ تر ۴ ساعتونو پورې په بند کې ساتل شوي دي.

**نيول شوي کسان يا له مخکني حکومت سره د کار له امله، يا د طالبانو پر تبعيض ولاړو سياستونو پر ضد د اعتراض، يا مدني اقداماتو او عدالت غوښتنې، او يا حتا پر ټولنيزو شبکو يوازې د يو انتقادي کلنې له کبله نيول شوي او د طالبانو په زندانونو کې په ورځو او آن مياشتو شکنجه شوي دي. د دغو کسانو له ډلې ۲۴ تنه د استخباراتو ادارې، ۶ تنه د پوليسو، ۲ کسان د طالبانو د دفاع وزارت اړوند ځواکونو لخوا نيول شوی، يو کس په ګډه د پوليسو او استخباراتو لخوا، او بل کس د نورو سيمه‌ييزو مسؤلينو لخوا نيول شوی دی.**

25 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د مدني او سياسي حقونو بين المللي ميثاق، ۱۹۶۶ کال، ۹مه ماده.

26 . هماغه سرچينه، ۱ماده.

27 . «قانوني دلايل او قانوني اقدام د عادلانه محاکمې د رويو په چوکاټ کې د وګړو د آزادۍ د سلب لپاره دوه بنسټي شرطونه دي. دلته د خپلسري مفهوم د نيولو له غيرقانوني والي څخه پورته دی او هغه موارد رانغاړي چې که نيول حتا د داخلي قوانينو پر بنسټ ترسره شي خو ناعادلانه، نه اټکلېدونکې، نامتناسبه يا د عادلانه محاکمې د اصولو له رعايتولو پرته وي»، د بشر حقونو کمېټه، عمومي ۳۵ شمېره تفسير (۹مه ماده: آزادي او شخصي امنيت)، CCPR/C/GC/35، 16 ډسامبر ۲۰۱۴.

په دې اړوند یو تن قرباني ویلي:

**«شاوخوا د سهار لس بجې وې، خپل کور ته څېرمه، د یو دوکان مخې ته ناست وم چې څلور تنه وسله‌وال طالبان په شخصي کالیو کې، تور لونګي پر سر، په دوو موټرسایکلونو سپاره راغلل او زما مخې ته ودرېدل. کله چې یې زما نوم وپوښت، له هغوی یوه کس خپل کلاشینکوف راباندې ونیو او زه یې پر موټرسایکل سپور کړم. هغوی د اختطاف چیانو په څېر، سملاسي زما لاسونه او پښې وتړلې او یوې سیمه ییزې پوستې ته یې بوتلم. کله چې هلته ورسېدو، یو یې وویل: «دا په تشناب کې بندي کړئ.»** [28]

همداراز، بل مرکه شوی کس داسې کیسه وکړه:

**«څو تنه په شخصي لباس کې راغلل او زما د نوم پوښتنه یې وکړه. کله چې مې ځواب ورکړ، یوه توره خلته یې راواغوستله او پرته له دې چې څه ووایي، زه یې له ځان سره بوتلم. شاوخوا نیم ساعت په موټر کې لاړو چې یوې بندي‌خانې ته ورسېدو. په لومړي سر کې یې هېڅ راته ونه ویل، او هر څه چې مې پوښتل، هېڅ ځواب یې نه راکاوه. وروسته پوه شوم چې زه د طالبانو د دفاع وزارت اړوند په یوه نظامي قطعه کې بندي یم.»** [29]

بل مرکه شوی کس چې یوازې د یو فیسبوک په ټولنیزه شبکه کې د یوه پوسټ د خپرولو له امله نیول شوی و، داسې کیسه کوي:

**«کله چې یې زه ونیولم، د نیونې دلیل راته نه و معلوم. وروسته راته وویل شول چې د نیونې علت مې دا و چې ما د طالبانو د وژل شویو مخالفو کسانو په اړه په فېسبوک کې د خواخوږۍ یو پیغام خپور کړی و. ما یوازې یو د تسلیت او خواخوږۍ پیغام لیکلی و، نه زیات.»** [30]

بل مرکه شوی کس د طالبانو له‌خوا د خپلو نیول کېدو څرنګوالی داسې بیانوي:

**« جومات کې له لمانځه وروسته کور خوا ته روان وم، چې یو رینجر موټر او یو توري شیشې لرونکی فیلډر موټر راڅرګند شول، په رینجر کې شاوخوا اووه یا اته وسله‌وال کسان ؤ، زه یې ودرولم. ټول مسلح ؤ، ځایي کالي پر ځان او لونګۍ یې وهلې وې... هغوی زما د نیونې لپاره هېڅ حکم یا سند را و نه ښود. د نیونې په وخت پوه نه شوم چې دا کسان د طالبانو په کومې اداري پورې اړه لري، خو وروسته پوه شوم چې زه د استخباراتو اداري د کارکوونکو له خوا نیول شوی یم.»** [31]

28 . رواداري، لومړی شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د می ۸مه.
29 . رواداري، ۱۱ شمېرې قرباني سره مرکه، ۲۰۲۵ د اپرېل ۲۷مه.
30 . رواداري، ۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د جون ۳مه.
31 . رواداري، ۱۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۹مه.

# جبري تري تم کول

جبري تري تم کول هغو نیولو، توقیف، تښتولو یا هر ډول له ازادۍ محرومولو ته ویل کېږي، چې د دولت له خوا، یا د هغو اشخاصو او ډلو له لوري ترسره کېږي، چې د دولت په رضایت، ملاتړ یا چوپتیا کې عمل کوي. د دې عمل اصلي ځانګړنه دا ده چې د نیولو د دلیل، برخلیک او د قرباني د ساتلو د ځای په اړه عمداً معلومات نه ورکول کېږي. [۳۲] جبري تري تم کول په ځانګړې مودې پورې اړه نه لري، بلکې د نیونې په ماهیت، پټولو، او له قانوني ملاتړ څخه د قربانیانو په محرومولو پورې اړه لري. [۳۳]

**د ترلاسه شویو معلوماتو ارزونه ښیي چې له ۳۴ مرکه شویو کسانو څخه ۱۰ تنه لومړی د طالبانو له خوا جبري لادرکه شوي او بیا شکنجه شوي او ناوړه چلند ورسره شوی دی. په دوی کې ۵ پېښې د استخباراتو اداري له خوا او ۳ نورې د کورنیو چارو وزارت او د دفاع وزارت اړوندو ځواکونو له لوري ترسره شوې دي. قربانیان نه یوازې د محکمې حکم یا خبرتیا پرته نیول شوي، بلکې له نیولو وروسته هم د دوی د ځای، برخلیک یا د نیونې د علت په اړه د دوی کورنیو ته هېڅ معلومات نه دي ورکړل شوي.**

طالبانو دا ټول قربانیان له لاسونو او سترګو تړلو سره، او په ډېری مواردو کې د شخصي موټرو یا موټر سایکلونو له لارې بندي خانو ته انتقال کړي، چې ځینې یې، لکه څرنګه چې وروسته به بحث پرې وشي، په پټو زندانونو کې ساتل شوي دي.

د دې راپور موندنې ښیي چې ځینې کورنۍ د طالبانو امنیتي ادارو ته ورغلي، ترڅو د خپلو عزیزانو برخلیک او ساتنې ځای معلوم کړي، خو طالبانو عمداً له معلوماتو ورکولو ډډه کړې او د هغوی له نیولو یې انکار کړی دی.

په دې اړه یو مرکه شوي کس داسې روایت کړی:

**«هغه وخت چې زه د کندهار د پولیسو د یوې حوزې اړوند په یو کانتینر کې بندي وم، زما کورنۍ او دوستان څو څو ځل یادې حوزې ته ورغلي ؤ، او زما په اړه یې پوښتنه کړې وه، خو د حوزې مسؤولینو نه یوازې هلته زما له موجودیته انکار کړی و، بلکې ویلي یې ؤ چې موږ نه پوهېږو، موږ نه دی نیولی.»** [۳۴]

همداراز، یوه معترضه ښځه چې د مدني فعالیتونو او د نجونو د زده کړو د بندیز پر ضد یې غږ پورته کړی و، او د طالبانو استخباراتو نیولې وه، داسې ویلي:

**«زما د کورنۍ غړي څو ځله د طالبانو بېلابېلو ادارو ته تللي ؤ، چې زما په اړه معلومات پیدا کړي، خو طالبانو ورته هېڅ معلومات نه ورکول، بلکې ویل یې چې شاید لور مو له کوم هلک سره تښتېدلې وي او تاسو خبر نه یئ. دا خبرې یې قصداً د کورنۍ د ځورولو لپاره کړې وې.»** [۳۵]


32 . د اجباري تري تم کولو په مقابل کې د ملاتړ کنوانسیون ۲مه ماده، د ملګرو ملتونو سازمان د عمومي غونډې له خوا تصویب شوی، ۲۰۰۶ کال، د ډسامبر ۲۰مه.

33 .د بشري حقونو شورا، د جبري یا غیر ارادي تری تم کېدو د کاري ډلې، د خپل شپاړسمې ناستې راپور، 48/A/HRC/16، جنوري ۲۰۱۱، عمومي تفسیر، بند ۱

34 . رواداري، لومړی مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د می ۸مه.

35 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۸مه.

«شاوخوا د سهار لس بجې وې، خپل کور ته څېرمه، د یو دوکان مخې ته ناست وم چې څلور تنه وسلهوال طالبان په شخصي کالیو کې، تور لونګي پر سر، په دوو موټرسایکلونو سپاره راغلل او زما مخې ته ودرېدل. کله چې یې زما نوم وپوښت، له هغوی یوه کس خپل کلاشینکوف راباندې ونیو او زه یې پر موټرسایکل سپور کړم. هغوی د اختطاف چیانو په څېر، سملاسي زما لاسونه او پښې وتړلې او یوې سیمه ییزې پوستې ته یې بوتلم. کله چې هلته ورسېدو، یو یې وویل: «دا په تشناب کې بندي کړئ.»



یو بل مرکه شوي کس هم چې د ښځو د زده کړو د ملاتړ او بشر حقونو اړوند د فعالیتونو له امله بندي شوی و، ورته کیسه کړې ده:

**«له ۲۱ ورځو وروسته مې ډېر خراب حالت درلود، ډېر مې وژړل او زاری مې وکړې، چې اجازه راکړي کورنۍ ته ټیلیفون وکړم، ځکه پلار او مور مې ناروغه ؤ، او نه پوهېدل چې زه په څه حال کې یم. و یې منله او ما خپل کورنۍ ته وویل چې زه د استخباراتو ریاست کې بندي یم. په دې ۲۱ ورځو کې زما کورنۍ ډېر لټون کړی و، د استخباراتو ادارو، امنیه قوماندانۍ او اړوندو حوزو ته یې عریضې کړې وې، خو هغوی ورته ویلي ؤ چې دا زموږ سره نه شته. د استخباراتو ریاست زما کورنۍ ته ویلي ؤ چې شاید لور مو له چا سره تښتېدلې وي.» [۳۶]**

په ځینو واردو کې طالبانو پر قربانیانو فشار راوړی، چې خپلو کورنیو ته دروغ معلومات ورکړي. یوه مرکه کوونکي چې د استخباراتو ځواکونو نیولی و، داسې بیان کړی دی:

**«دویمه شپه یې راته وویل چې کورنۍ ته ووایه کار ته تللی یم، دلته ټیلیفون کار نه کوي. ما همداسې وکړل او کورنۍ ته مې ونه ویل چې طالبانو نیولی یم او زه په زندان کې یم. پلار مې له کلي کابل ته راغلی و، ډېره هڅه یې کړې وه چې زما په اړه معلومات پیدا کړي. استخباراتو، امنیې قوماندانۍ او ۴۰ ریاست ته تللی و، خو هغوی هېڅ معلومات نه ؤ ورکړي. له ۲۸ ورځو وروسته وتوانېدم له کورنۍ سره اړیکه ونیسم.» [۳۷]**

د یادونې وړ ده چې دا ټول کسان د بند پر مهال له نورو قانوني حقونو لکه د مدافع وکیل او قضایي مراجعو ته له لاسرسي څخه محروم ؤ. که څه هم د دې نیونو ډېری قضیې په رسمي ځایونو، لکه د استخباراتو د نظارت خونو او د طالبانو د امنیې قوماندانیو کې دي، خو د ملګرو ملتونو د جبري لادرکه کېدو پر ضد د ملاتړ کمېټې له عمومي تفسیر سره سم، که مسؤل مقامات د بندي د برخلیک یا ځای په اړه معلومات ورنه کړي او له قانوني ملاتړ څخه یې محروم کړي، نو حتی په رسمي ځای کې نیونه هم د جبري لادرکه کېدو مصداق بلل کېږي. [۳۸]

# د خپلسرې نیونې او جبري تري تم کولو انګېزې

**د دې راپور پر بنسټ، د خپلسرو نیونو او جبري تري تم کولو قربانیان زیاتره درې ډوله خلک دي: د بشري حقونو ملاتړي او د پخواني حکومت کارکوونکي، یا هغه کسان چې د طالبانو د مخالفو ډلو د غړیتوب تور ورباندې لګېدلی، واکمنو چارواکو، په ځانګړې ډول د دوی د استخباراتو ادارې، د ځینو او سیاسي غچ اخېستلو په موخه دغه کسان په خپلسرې ډول نیولي او جبري تري تم کړي دي.**

## د مدني فعالیتونو ځپنه

د قربانیانو له روایتونو ښکاري چې د بیان آزادۍ او د مدني فعالیتونو ځپنه د طالبانو له مهمو انګېزو څخه ده، چې د بشر حقونو ملاتړي لکه معترضې ښځې، خبریالان او د زده کړې د حق فعالان ونیسي، تري تم او شکنجه یې کړي. د واکمنو

36 . رواداري، ۳۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د می ۲۴مه

37 . رواداري، ۳۰ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د می ۲مه.

38 . د اجباري تري تم کولو اړوند د ملګرو ملتونو کمېټه، د اجباري تري تم کولو پر وړاندې د ملاتړ بین المللي کنوانسیون د ۳مې مادې اړوند لومړی ګڼه عمومي تفسیر، د ۲۰۱۰ کال د اکتوبر پر ۱۰مه تصویب شوی، د سند ګڼه CED/C/GC/1، ۶ بند.

چارواکو د استخباراتو ادارې د وېرې، بې‌باورۍ او د بیان آزادۍ د ځپلو لپاره خلک غیرقانوني نیولي او بیا یې په سختو طریقو شکنجه کړي دي. د بشر حقونو د څار نړیوال سازمان د ۲۰۲۴ کال راپور هم دی موضوع ته اشاره کړې او وايي چې طالبانو د بیان ازادي او رسنۍ محدودې کړې دي، خبریالان او نور منتقدان یې په خپل‌سري توګه نیولي او ترې تم کړي دي.[۳۹]

په دې راپور کې په مرکه شویو کسانو کې یو شمېر هغه کسان هم شامل دي، چې د طالبانو د تولیزي سیاستونو پر ضد یې انتقادي لیکنې خپرې کړې وې، دا کسان له همدې امله نیول شوي او بیا په ورځو او حتا په میاشتو میاشتو په بې‌رحمۍ سره شکنجه شوي دي. د قربانیانو روایتونه هم ښیي چې طالبانو معترضې ښځې او نور بشري فعالان، چې د دوی د تبعیضي سیاستونو—لکه د ښځو پر زده‌کړه بندیز—پر ضد یې اعتراض کړی و، نیولي او شکنجه کړي دي. نو ځکه، خپل‌سري او غیرقانوني نیونې، جبري ترې تم کول او شکنجه د مخالفو غږونو د غلي کولو او د مدني فعالیتونو د مخنیوي ابزار ګرځېدلي دي.

طالبانو تل پر دغو کسانو د نورو هېوادونو لپاره د جاسوسۍ او د اعتراضونو په بدل کې د پیسو اخیستو تورونه لګولي، نیولي یې دي، او لکه څنګه چې وروسته به تشریح شي، شکنجه کړي یې دي. په دې تړاو، یو کس د بشر حقونو فعال چې د نجونو پر مخ د ښوونځیو د بندیدو پر ضد یې پر خپله فېسبوک پاڼه یو انتقادي مطلب خپور کړی و او وروسته طالبانو نیولی او شکنجه کړی و، داسې ویلي دي:

> **«ما وپوښتل چې زما ګناه څه ده؟ ما څه جرم کړی؟ د حوزې آمر راته وویل چې تا ډېر جرمونه کړي دي، ته د امریکایانو، بهرنیانو او کافرانو لپاره جاسوسي کوې، هغوی ته راپورونه استوې، پخوا دې ځوانان له جهاده منع کړي ؤ، نجونې دې زده کړې ته هڅولې چې فاحشې شي، او ته د بشري حقونو او کفري ډیموکراسۍ لپاره کار کوې...»[٤٠]**
>
> یو بل مرکه شوی کس چې له نیول کېدو وروسته یې د شکنجې او ناوړه چلند بېلابېلې بڼې زغملې دي، په دې اړه داسې ویلي دي:
>
> **«کله مې چې وویل ښځه او نارینه دواړه باید زده‌کړه وکړي او زده‌کړه د ټولو افغانانو حق دی، هغه په څپېړه ووهلم او ویې ویل: ته خبیث د حق خبره کوې؟ نجونې باید په کور کې پاتې شي، که نه فاحشې کېږي، ته څه کوې؟ په کابل کې فاحشې کمې دي چې تاسې یې شمېر زیاتوی؟ ویې ویل: ته او نور هغه کسان چې د اسلامي امارت پر ضد اعتراض کوئ، له بهرنیانو پیسې اخلئ»[٤١]**

د دې راپور موندنې ښیي چې طالبانو د بشر حقونو فعالین له نیول کېدو وروسته شکنجه کړي او یو شمېر یې د مفسد فی الارض، ملي خیانت، د مجاهدینو سپکاوی، بغاوت، او مظاهرو ته د ښځو د هڅونې په تور محاکمه او مجازات کړي دي.

39 . د بشر حقونو څار، World%20Report%202025.pdf/01/https://www.hrw.org/sites/default/files/media_2025
40 . رواداري، ۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د مۍ ۸مه.
41 . رواداري، ۲۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپریل ۲۱مه.

## سیاسي غچ اخستنې

یو بل لامل چې په خپلسرو نیونو او جبري ترې تم کولو کې یې مهم رول درلود، سیاسي غچ اخستنې دي، چې د قربانیانو په څرګندونو او روایتونو کې روښانه لیدل شوي دي. نو له دې امله، د قربانیانو دویمه ډله د پخواني حکومت کارکوونکي او هغه کسان دي چې د طالبانو د وسلهوالو مخالفو ډلو په غړیتوب تورن شوي، او د طالبانو لخوا د خپلسرو نیونو او جبري ترې تم کولو ښکار شوي دي. د بښنې نړیوال سازمان هم په خپل کلني راپور کې تایید کړې چې طالبانو د پخواني حکومت د کارکوونکو، د بشري حقونو د مدافعینو او خپلو منتقدینو خپلسرو نیونو، جبري ترې تم کولو او نورو ناوړه چلندونو ته دوام ورکړی دی.[42] د ملګرو ملتونو پلاوي هم ویلي چې د ۲۰۲۵ کال د جنورۍ له لومړۍ د مارچ تر درییمې پورې د پخواني حکومت د امنیتي ځواکونو لږ تر لږه ۲۳ د خپلسرو نیونو پېښې ثبت کړې دي.[43]

یو کس د پخواني حکومت پوځي چارواکی چې د طالبانو د عمومي عفوې د فرمان پر بنسټ کابل ته ستون شوی و، د طالبانو د استخباراتو له خوا پېژندل شوی او بیا نیول شوی و:

**«زه خپلوانو او ملګرو سره د لیدو لپاره کلي ته تللی وم، کله چې بیرته کابل ته روان وم، څو وسلهوال طالبان چې پر موټرسایکلونو سپاره ؤ، زموږ له موټر نه تېز تېر شول او ما ته وېره پیدا شوه. د همدې له امله د خپل یو خپلوان کور ته لاړم، او کله چې بېرته کابل ته روان شوم، د طالبانو د استخباراتو یو کارکوونکی چې زه یې پېژندم، ولیدم. په یوه ګوښه سیمه کې، د یوه کوتل لاندې، شپږو وسلهوالو طالبانو چې پر دریو موټرسایکلونو سپاره ؤ، زما موټر ته د درېدو امر وکړ. د خپلې کورنۍ تر مخه یې زه له موټره په زور ښکته کړم او له ځان سره یې یووړم...»** [44]

د قربانیانو له مرکو څخه ترلاسه شوي معلومات ښیي چې طالبانو ډېری وختونه د پخواني حکومت کارکوونکي په بېلابېلو پلمو، لکه د وسلې درلودلو په تور نیولي او ځورولي دي.

لکه څرنګه چې یو له مرکه شویو کسانو چې نیول شوي او شکنجه شوي، ویلي دي:

**«یوه ورځ د طالبانو د استخباراتو کسان زموږ کور ته راغلل او ویې ویل چې پو چا پر تا عریضه کړې او ته باید موږ سره لاړ شې. ما ته یې ولچکونه واچول او بو یې تلم... وروسته یې رانه پوښتنه کوله چې وسلې دې چېرې دي؟ څو کاله دې له پخواني حکومت سره کار کړی؟ څو طالبان دې وژلي؟»**[45]

لکه څنګه چې د دې څېړنې موندنې ښیي، خپلسري او غیرقانوني نیونې، او همدارنګه د قربانیانو جبري ترې تم کول، د پراخو سرغړونو زمینه برابره کړې، چې پکې د شکنجې او ناوړه چلند بېلابېل ډولونه شامل دي، او دا به په راتلونکو برخو کې په ترتیب سره تشریح شي.

42 . د بښنې نړیوال سازمان، https://www.amnesty.org/en/location/asia-and-the-pacific/south-asia/afghanistan/report-afghanistan/

43 . د ملګرو ملتونو سازمان مرستیال پلاوی، https://unama.unmissions.org/sites/default/files/dari_-_unama_hrs_update_on_human_rights-.pdf

44 . رواداري، ۲۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۱۸مه.

45 . رواداري، ۱۶ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د می ۴مه.

«له ۲۱ ورځو وروسته مې ډېر خراب حالت درلود، ډېر مې وژړل او زارۍ مې وکړې، چې اجازه راکړي کورنۍ ته ټیلیفون وکړم، ځکه پلار او مور مې ناروغه ؤ، او نه پوهېدل چې زه په څه حال کې یم. و یې منله او ما خپل کورنۍ ته وویل چې زه د استخباراتو ریاست کې بندي یم. په دې ۲۱ ورځو کې زما کورنۍ ډېر لټون کړی و، د استخباراتو ادارو، امنیه قوماندانۍ او اړوندو حوزو ته یې عریضې کړې وې، خو هغوی ورته ویلي ؤ چې دا زموږ سره نه شته. د استخباراتو ریاست زما کورنۍ ته ویلي ؤ چې شاید لور مو له چا سره تښتېدلې وي.»



# د نیونې په لومړیو پړاوونو کې له زور او تاوتریخوالي څخه استفاده

د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق د لسمې مادې د لومړي بند له مخې، له هغو ټولو کسانو سره چې ازادي یې سلبیږي، باید د انسانیت او هغه درناوي له مخې چلند وشي، کوم چې د انسان ذاتي حیثیت دی.[٤٦] په دې ماده کې درج شوي احکام بندیانو سره د چلند په ټولو اړخونو واکمن دي، او د هر ډول غیر ضروري زور کارول یې منع کړي دي.

**د دې راپور د معلوماتو پر بنسټ، له ټولټال ۳۴ مرکه شویو کسانو څخه، ۳۱ تنو ویلي چې د نیول کېدو او انتقال پر مهال د طالبانو له خوا وهل شوي، ټیپې شوي یا د قومي، مذهبي او جنسي توهینونو سره مخ شوي دي. د دې څېړنې موندنې ښيي هغه نیونې چې د استخباراتو اداري له خوا ترسره شوې، تاوتریخوالی او د فزیکي او رواني ناوړه چلند سره مل وې. لکه څنګه چې له هغو ۲۳ کسانو څخه چې د استخباراتو له خوا نیول شوي، ۲۴ تنه د نیونې او انتقال پر مهال له سختې فزیکي بدسلوکۍ سره مخ شوي.**

د دې څېړنې موندنې ښيي چې تاوتریخوالی او ناوړه چلند په ډېرو مواردو کې د قربانیانو د ویرې او سزا ورکولو په موخه ترسره شوي. په دې اړه یو قرباني داسې کیسه کوي:

«هغوی زما مبایل په زور واخیست، کله مې چې پاسورډ ور نه کړ، زما مخ ته یې څو درنې څپېړې راکړې. زه ډېر ویریدلی وم او خبرې مې نشوای کولای. هغوی زه په زور موټر ته پورته کړم، لاسونه یې له شا راته وتړل، او پر سر مې راته یوه توره خلته واچوله. یو طالب زما ښي اړخ ته ناست و بل چپ اړخ ته، او دواړو زما سر ښکته نیولی و او دواړو اړخونو ته یې وهل کول. زه ډېر وېرېدلی وم... چیغې مې وهلې او ژړل مې.»[٤٧]

یو بل قرباني چې د طالبانو د استخباراتي ځواکونو له خوا د نیونې پر مهال له تاوتریخوالي او بدسلوکۍ سره مخ شوی، داسې ویلي دي:

«د یوې اعتراضي غونډې د ګډون لپاره روان وم، د طالبانو له خوا تعقیب شوم. څو وسله‌والو پر ما برید وکړ، داسې سختې څپېړې یې راکړې چې پر ځمکه ولوېدم. ښکنځلې یې کولې، له مټ مې ونیولم او له ځمکې یې پورته کړم. ما سخت مقاومت وکړ، چیغې مې وهلې، خو هغوی زما خوله په لاس کلکه ونیوله او زه یې رېنجر موټر ته وغورځولم. بیا یې لاسونه راوتړل او پر سر مې یو پټو واچوله. بیا یې د خپلې وسلې قنداق زما پر غاړه کلک وواهه، زه څو شېبې ګنګس وم او داسې احساس مې کاوه چې غوږونه مې بند شوي دي.» [٤٨]

46 . د مدني او سیاسي حقونو کنوانسیون ۱۰ مه ماده لومړی بند.

47 . رواداري، ۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۱۵مه

48 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۸مه.

همدارنګه، یو بل مرکه شوي کس د نیونې پر مهال د طالبانو د چلند په اړه داسې روایت کړی دی:

**«ځلور تنه طالبان چې نظامي کالي یې پر ځان ؤ او کلاشنکوفونه ورسره وو، زه یې ونیولم. د نوم تر پوښتنې وروسته یې سمدلاسه زما لاسونه ولچک کړل او په زور یې له کوره وایستم. کله چې د استخباراتو حوزې ته ورسېدو، هغوی د ولچک کیلي ورکه کړې وه او د نیونې په ځای کې یې هېره کړې وه. بیا یو کس وویل چې غواړو دا ولچک د مرمۍ په ډز خلاص کړو. ما ورته زارۍ وکړې چې خدای لپاره دا کار مه کوئ. وروسته یې دا ولچک په اره پرې کړ، داسې چې مات شوی ولچک مې په یوه لاس کې و، بل ولچک مې په بل لاس کې، او زه یې په یوه خونه کې بندي کړم.»** [49]

یو بل قرباني کیسه کوي چې طالبانو د ده د نیولو پر مهال له بې ځایه زور او تاوتریخوالي کار اخستی:

**«کله چې کور ته روان وم، د وسلهوالو کسانو له برید سره مخ شوم. تېښته مې وکړه، خو هغوی زما پر پښه ډز وکړ. وروسته یې د ټوپک میل زما خولې ته ونیو او ویې ویل: ووایه چې ستا نور ملګري چېرې دي، که نه ډز کوو. شاوخوا ۴۰ دقیقې مې وینې بهېدلې، هغوی زما دستمال واخیست او زما پښه یې وتړله چې د وینې بهېدنه ودروي.»** [50]

له بل پلوه، ځینو مرکه شویو کسانو ویلي چې د نیولو او انتقال پر مهال د طالبانو له خوا د سپکاوي ډکو لفظي ځورونو او بد چلند سره هم مخ شوي دي. طالبانو به پرلهپسې له داسې سپکاوي ډکو ټکو کار اخیست، لکه: کافر، مرتد، خاین، بغاوت کوونکی، خبیث، حیوان، د امریکایانو او لوېدیځوالو غلام، او همدارنګه له ښځو سره د کرکې ډک لفظونه لکه فاحشه او رنډۍ، ترڅو دغه کسان وځوروي او تحقیر کړي.

په دې اړوند یو قرباني داسې کیسه کړې:

**«د شپې ناوخته یې زما کور محاصره کړ او له سخت تاوتریخوالي سره یې زه ونیولم. چې موټر حرکت وکړ، پر لار یې راته بد رد ویل. ویل یې، ته کافر بغاوتکوونکی یې، څنګه دې جرأت وکړ چې د اسلامي امارت پر ضد ودرېږې؟ ډېر بد رد یې ویل. سترګې یې راباندې پټې کړې وې او لاسونه یې له شا ولچک کړي ؤ. کله چې د استخباراتو ریاست ته ورسېدو، یو طالب وویل: دا حیوان تشناب ته واچوئ، سبا یې اعداموو.»** [51]

49 . رواداري، ۷ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۷مه.
50 . رواداري، ۳۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د مۍ ۲۵مه.
51 . رواداري، ۲۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۱مه.

بل قرباني هم چې د نيونې پر مهال د طالبانو له خوا لفظي ځورول شوی و، داسې بیانوي:

**«کله چې استخباراتو ته انتقال شوم، سترګې مې ترلې وې. طالبانو له یو بل سره ویل، فاسد مو راوستی، کافر مو راوستی، او هر څه به يې چې پر خوله راتلل، هماغسې يې ويل.»** [۵۲]

یو بل مرکه‌شوی کس بیا د طالبانو د چلند بله بڼه داسې بیانوي:

**«...کله چې یې زه ونیولم، وهلم یې او ډېرې سپکې خبرې یې کولې. قومي، مذهبي او جنسي بد رد یې ویل، چې حتا یادول یې هم ما ته دردناک دي»** [۵۳]

د طالبانو چلند د نيونې په لومړيو پړاوونو کې، لکه څنګه چې د قربانیانو په مستقیمو روایتونو کې راغلي، د بدسلوکۍ، غیر انساني او سپکاوي ډک چلند څرګند مثالونه ګڼل کېدای شي. د دغو کړنو یو شمېر، د واردو شویو زیانونو او موخو له مخې، د شکنجې ځانګړنې هم لري، چې دا موضوع په تفصیل سره د شکنجې او ناوړه چلند په ځانګړې برخه کې څېړل شوې.

## د شخصي شتمنيو ضبطول

د ملګرو ملتونو د بنديانو د چلند د حداقل معیارونو له مخې (مانډيلا قواعد)، هغه ټول شخصي توکي چې د توقیف پر مهال له یو بندي اخیستل کېږي، باید د خوشې کېدو پر مهال بېرته ورکړل شي، پرته له دې چې قانوناً مصادره شوي وي. همداراز، د دغو توکو لیست باید بندي ته وسپارل شي. [۵۴]

د دې څېړنې پر بنسټ، له ۳۴ مرکه شویو کسانو څخه ۹ تنه وايي چې طالبانو له خوشې کېدو وروسته، هغوی ته خپل شخصي توکي بېرته نه دي ورکړي. یاد توکي موټر، نغدي پیسې، غوږوالۍ، ساعتونه، ګوتمې، لپټاپ کمپيوټرونه، موبايلونه، بکسونه او جامې شاملې دي، چې د نيونې په لومړيو شېبو کې ترې اخيستل شوي او هېڅکله بېرته خپلو مالکانو ته نه دي سپارل شوي.

یوه مرکه شوې کس داسې روایت کړی:

**«زما دوه موبايلونه، ۴۰۰ ډالره او یوه کامره یې ضبط کړه. که څه هم ډېرې هڅې وشوې، خو بېرته يې را نه کړل. همداراز زموږ له مرکز څخه يې څو لپټاپونه او نور وسایل هم له ځان سره یوووړل.»** [۵۵]

بل مرکه شوی کس داسې بيان کړی:

**«وروستی ورځ چې خوشې کېدم، یواځې موبایل یې راکړ، خو پکې یې یو شمېر اپلیکیشنونه انسټال کړي ؤ. جامې، بوټان او زما ساعت یې بېرته رانکړل. حتی د بند پر مهال مې لیدل چې زما جمپر د نظارت‌خونې آشپز اغوستی و.»** [۵٦]

52 . رواداري، ۵ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۷مه.
53 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۸مه.
54 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، له بنديانو سره د چلند لپاره د ملګرو ملتونو سازمان معیاري قواعد (د مانډیلا قواعد)، پرېکړه لیک، 175/A/RES/70، ۱۷ ډسامبر ۲۰۱۵، ۳۴ اصل.
55 . رواداري، ۳۰ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د می ۳مه.
56 . رواداري، ۲۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۳مه

> بل کس هم، چې شخصي توکي يې ضبط شوي، داسې شکايت لري:
>
> **«کله چې يې نظارت‌خونې ته بوتلم، بکس، يو څه نغدي پيسې، غوړوالی، ساعت او ګوتمۍ يې راڅخه واخيستل، خو بېرته يې را نه کړل.»** [۵۷]

د قربانيانو د روايتونو له مخې، د شخصي اموالو ضبط او نه سپارل، د بدرفتارۍ يوه بېلګه او د طالبانو عدلي او قضايي نظام له خوا د زندانيانو د قانوني حقونو ښکاره سرغړونه بلل کېږي.

## د نيولو او بندي کولو شرايط [۵۸]

په دې برخه کې د نيول شويو کسانو د ساتلو مرکزونه ارزول کېږي، لکه د بند ځايونو ډول، د انساني او روغتيايي اسانتياوو شتون، خوړو او پاکو اوبو ته لاسرسی، طبي پاملرنې ته لاسرسی او له کورنيو سره د زندانيانو د اړيکو څرنګوالی.

### ۱. د بنديانو د ساتلو د ځايونو ډول

د دې راپور د موندنو پر بنسټ، له ۳۴ مرکه شويو څخه ۲۲ تنه په نظارت خونو او د استخباراتو په نورو بندځايونو کې، ۶ تنه د پوليسو په نظارت خونو او بندځايونو کې او ۴ تنه نور په غيررسمي يا شخصي زندانونو کې ساتل شوي دي. له دې جملې، ۱۴ تنه د بېلابېلو مودو لپاره په داسې انفرادي تورو تمبو کې ساتل شوي چې لومړنۍ اسانتياوې يې نه درلودې. همداراز، ۸ تنو مرکچيانو ويلي چې د طالبانو د محکمو لخوا له پرېکړې وروسته، عامو زندانونو ته لېږدول شوي او پاتې د بند موده يې هلته تېره کړې ده. يوشمېر مرکه شويو ويلي، چې د دوی د بند ځايونه لکه ورکتون، د ولسواليو او ولايتونو د ادارو ودانۍ، کانتينرونه، زېرزمينۍ، تشنابونه، او د ښارونو او ولسواليو د پوليسو او استخباراتو څانګې وې. يو کس هم د لارې په اوږدو کې د استخباراتو اړوند کسانو لخوا له موټره ښکته کړل شوی او شکنجه شوی دی.

> يو مرکه شوی په دې اړه وايي:
>
> **«ورنه مې وپوښتل چې ولې مو نيولی يم؟ زما ګناه څه ده؟ ويې ويل: ته خپله پوهېږې چې څه دې کړي، او خپلو وسلوالو ته يې امر وکړ چې ما د حوزې په انګړ کې يو کانتينر ته بوځي او بندي مې کړي. يو سور رنګه کانتينر و، نه فرش و، نه توشک، دننه هوا ډېره يخه وه.»** [۵۹]
>
> همداراز، يو بل مرکه شوی چې د طالبانو د استخباراتو لخوا نيول شوی و، داسې کيسه کوي:
>
> **«زه د استخباراتو د نظارت‌خونې په يوه يخه او لنده زېرزمينۍ کې بندي وم. هلته څو وچ بوتلونه او يو بې ټايره موټر سايکل هم پروت و. دې ځای فرش نه درلود، ماته يې يوازې يو نری کمپل راکړی و.»** [۶۰]

57. روادارۍ، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۸مه.
58. د زندانونو د چارو د تنظيم قانون د درېيمې مادې پر بنسټ، زندانون نظارت خونه، توقيف خونه، او د ماشومانو د اصلاح او تربې مرکز لري او هغه اشخاص چې آزادي يې د قانون په حکم سلب شوې هلته ساتل کېږي.
نظارت خونه: هغه ځای دی چې مظنونين پکې د جرم د کشف په مرحله کې د قانون د حکمونو سره سم ساتل کېږي.
توقيف خونه: هغه ځای دی چې تورن پکې د څارنوالۍ يا د محکمې د حکم پر بنسټ ساتل کېږي.
محبس: هغه ځای دی چې محکوم علیه پکې د محکمې د حکم پر بنسټ د حبس د سزا د تېرولو لپاره د ټاکلې مودې لپاره ساتل کېږي.
59. روادارۍ، ۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د می ۸مه.
60. روادارۍ، ۱۵ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۷مه.

یوه بل قرباني چې د طالبانو لخوا د غیرانساني شرایطو لاندې بندي شوی و، داسې وایي:

**«سترګې مې ترلې وې او لاسونه یې راته شاته ولچک کړي ؤ. یو یې وویل: دا حیوان تشناب کې واچوئ، سبا یې اعداموو. زه یې یوې خونې ته بوتلم چې سخت بد بوی یې درلود. تر سهاره ویښ وم. ټوله شپه مې لاسونه او سترګې تړلي ؤ. سبا یې د تحقیق لپاره بلې خونې ته بوتلم.»** [٦١]

سربېره پر دې، د دې څېړنې یو مرکچي چې د طالبانو استخباراتو نیولی و، داسې معلومات ورکوي:

**«زه څلور ساعته بندي وم، خو ونه پوهېدم چې چېرته یم، ځکه ټوله موده مې پر سر یوه توره کڅوړه اچول شوې وه. کله کله مې د لاسونو په وسیله دیوال او فرش لمس کاوه چې کاشي شوی و. له دې پرته د دې ځای په اړه نور معلومات نه لرم.»** [٦٢]

لکه مخکې چې یادونه وشوه، د پام وړ شمېر مرکه شویو ویلي، چې د وخت په بېلابېلو پړاوونو کې په انفرادي تورو تمبو یا شخصي زندانونو کې او د غیر انساني شرایطو لاندې ساتل شوي دي؛ دا وضعیت د شکنجې، ظالمانه، غیرانساني او سپکوونکي چلند بڼه لري. له همدې امله، یادې شوې پېښې به په تفصیل سره د شکنجې او ناوړه چلند په ځانګړې برخه کې، د قربانیانو د مستقیمو روایتونو پر بنسټ وړاندې شي.

## ۲. د لومړنیو اسانتیاوو او شخصي روغتیا ساتنې نشتوالی

د ملګرو ملتونو د زندانیانو لپاره د چلند د حداقل معیارونو له مخې، اړینې روغتیایي اسانتیاوې باید په توقیفځایونو کې برابرې شي. [٦٣] همدا راز، د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق په لسمه ماده کې ویل شوي چې له ټولو هغو کسانو سره چې ازادي یې اخیستل شوې، باید د انسانیت او انساني کرامت له مخې چلند وشي. [٦٤]

د مرکه‌شویو کسانو له خبرو څخه د ترلاسه شویو اطلاعاتو پر بنسټ، د طالبانو تر کنټرول لاندې ډېری توقیفځایونه د نظافت، خوب، مینځلو او روغتیا ساتنې لپاره ابتدایي امکانات نه لري. د هوا د تودوخې او رڼا نشتوالی هم د بلې جدي ستونزې په توګه یاد شوی.

یو مرکه‌شوي کس د دې په اړه داسې ویلي:

**«یوازې یو زوړ فرش او زوړ توشک و. موږ په ناسته ویده کېدو، دیوال ته مو تکیه کوله. خونه دومره تیاره وه چې ورځ او شپه مو نه پېژنده.»** [٦٥]

همداراز، بل مرکه‌شوي کس د زندان د حیاتي اسانتیاوو د نشتوالي په اړه داسې ویلي:

**«په دوو میاشتو کې مې یوه ورځ هم لمر ونه لید. د حمام اجازه نه وه او جامې مې نشوای مینځلای. د نورو بندیانو خیرنې شوې جامې به موږ ته راکول کېدې. زما او نورو بندیانو بدنونه د نظافت نشتوالي له امله عفونتي شوي ؤ.»** [٦٦]

61 . رواداري، ۲۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۲۱مه.
62 . رواداري، ۱۶ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د مې ۴مه.
63 . له بندیانو سره د چلند لپاره کم تر کمه معیاري قواعد، له ۱۵ څخه تر ۱۸ اصول.
64 . د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه، د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق ۱۹۶۶ کال، ۱۰مه ماده.
65 . رواداري، ۳۴ شمېره مرکه شوی،۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۰مه.
66 . رواداري، ۲۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۳مه.

د قربانیانو له کیسو او اطلاعاتو څرګندیږي چې نیول شوي کسان په هغو ځایونو کې ساتل شوي چې هېڅ انساني او روغتیایي اسانتیاوې نه لري؛ دا حالت د غیرانساني او له سپکاوي د ډک چلند نښه او د انساني کرامت سرغړونه ګڼل کېږي.

## ۳. مناسب خوړو او د څښاک د پاکو اوبو نشتوالی

د ملګرو ملتونو د زندانیانو د چلند د حداقل معیارونو له مخې، ټولو بندیانو ته د کافي خوړو او د څښاک پاکو اوبو برابرول ضروري ګڼل شوي. له دې حقونو محرومول نه یوازې د بندیانو د ژوند حق ته ګواښ پېښوي، بلکې د بدسلوکۍ او انساني کرامت د سرغړونې نښه هم ده.[٦٧]

**د دې څېړنې پر بنسټ، ټولو ۳۴ مرکه شوي کسان، په ځانګړې توګه د استخباراتو او پولیسو په توقیفخونو کې، مناسب او کافي خوارړو او پاکو اوبو ته لاسرسی نه درلود.**

یوشمېر کسانو ویلي چې په دې موده کې یوازې سپوره ډوډۍ او اوبه ورکول شوي دي؛ ځینې بیا وایي چې ځینې وختونه ورته دال، نخود، کچالو قورمه، هګۍ، بینډۍ او په ځینو شپو کې وریجې او قورمه ورکول شوي ده. یو شمېر نور بیا وایي چې په هرو ۲۴ ساعتونو کې دوه ځله سپوره ډوډۍ او اوبه ورکول شوي، او ډېری کسانو په ټینګار ویلي چې د شپې په لوږې ویده شوي دي.

په دې اړوند یو مرکه شوي کس دا ډول ویلي:

> **«کله نا کله یې یو بوتل معدني اوبه او یوه ټوټه سره پاتې شوي ډوډۍ راکوله. ډوډۍ به یې پر ډېر ناپاک فرش ایښووله.»[٦٨]**

بل مرکه شوی کس ورته کیسه کوي:

> **«په ۲۴ ساعتونو کې  یې دوه ځله یوه ټوټه ډوډۍ او یوه کاسه ناپاکې اوبه راکولې چې د څښلو نه وې. لکه د سپي یا بل ځاروي خواړه چې راوړي. یو نورۍ مې هم نه تېرېده. رښتیا خو دا دي چې اشتها مې نه وه او نه مې خوراک ته زړه کېده، په داسې حالت کې وم چې لوږه مې هېره شوې وه.»[٦٩]**

برسېره پر دې، بل مرکه‌شوي کس د خپلو خوړو وضعیت داسې واضح کړی:

> **«د خوړو او اوبو کیفیت ډېر خراب و، روغتیا ساتنه هېڅ نه مراعتېده. ډوډۍ او چای، کچالو قورمه او بامیه مهم خواړه ؤ. البته ځینې شپې به ښاري سوداګرو خیراتي خواړه (عموماً وریجې او قورمه) زندان ته راولېږل.»[٧٠]**

یو بل مرکه شوی د خوړو د غیر صحي والي په اړه داسې ویلي دي:

> **«د خوړو وضعیت ډېر خراب و. اوبه د څښلو نه وې او په خوړو کې یوه ورځ تیګې راوتلې بله ورځ نسوار.»[٧١]**

67 . د ملګرو ملتونو عمومي غونډه، له بندیانو سره د چلند لپاره د ملګرو ملتونو کم تر کمه معیاري قواعد، ۱۲ او ۱۳ اصول.
68 . رواداري، له ۳ شمېره مرکه شوی، د مرکې نېټه؟
69 . رواداري، ۱۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۲۷مه.
70 . رواداري، ۲۴ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۲۶مه.
71 رواداري، ۳۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د می ۲۴مه.

## ۴. طبي خدماتو ته لاسرسی نشتوالی

د ملګرو ملتونو د زندانیانو د چلند د ۲۴ او ۲۵ اصولو له مخې، ټول بندیان باید له توپیره پرته طبي پاملرنې ترلاسه کړي، او دننه په زندان کې درملنه باید د بهر ټولنې په کچه وي.[۷۲] له همدې امله، نیول شویو کسانو ته د طبي خدماتو نه ورکول کېدل د غیرانساني یا سپکاوي ډک چلند نښه ده.

**د راپور له شمیرو څرګندېږي چې له ۳۴ مرکه‌شویو کسانو یوازې یو تن د نیونې پر مهال د ټپي کېدو له امله طبي معاینه ترلاسه کړې، نور هېڅ یو ته د زندان مسؤلینو طبي معاینه نه ده کړې. همداراز، له ۳۴ کسانو څخه ۲۷ تنه وايي چې د نیونې پر مهال يې روغتیايي او درملیزو خدمتونو ته لاسرسی نه درلود.**

لکه یو مرکه‌شوي کس په دې اړه ویلي:

«هیڅ درملنه او دوا نه وه. هر ټپ به پخپله وچېده یا به یې عفونت پیدا کواوه. څو څو ځله مې تبه لرله، زړه مې غوښتل چې مړه شم او خلاص شم.»[۷۳]

بل مرکه‌شوي کس ویلي چې:

«د نیونې په درېیمه شپه مې پښه وینې شوه، ځکه چې په خونه کې یې زه په خرابو بېړیو سره کلک تړلی وم. هیڅ لومړنۍ مرسته نه وه. هغوی د د غاړې په دسمال زماپښه وتړله ترڅو وینه بند شي.» [۷٤]

همداراز، بل مرکه شوی کس طبي پاملرنې ته د د لاسرسي وضعیت داسې بیانوي:

«په نظارت‌خونه کې مې یوه ورځ ډاکټر ولید چې ملاډوله سړی و. کله مې چې ستونزې ورته وویلې، ویې ویل: خدای دې روغتیا درکړي. نوره مرسته یې ونه کړه. خو عمومي زندان ته تر انتقال وروسته، د سره صلیب ډاکټران کله نا کله راتلل او لومړنۍ مرستې یې کولې.» [۷۵]

## ۵. د ښځو لپاره د ځانګړو روغتیا ساتونکو پاملرنو نشتوالی


**له هغو ۷ ښځو څخه چې ورسره مرکه شوې، څلور یې وايي چې د نیولو پر مهال یې ځانګړې حفظالصحې ته اړتیا درلوده، خو لاسرسی یې ورته نه درلود.**

یوې مرکه‌شوې ښځې داسې ویلي:

«د نیونې پر مهال مې میاشتنۍ عادت پیل شوی و جامې مې لمدې شوې وې؛ ځکه څو څو ځله یې یخې اوبه راباندې واړولې. په داسې خونه کې وم چې کامره مې د سر له پاسه وه. ډېر درد مې لرلو. څو ځله مې دروازه ووهله او ورته مې وویل چې میاشتنۍ عادت لرم او درد لرم؛ لږ تر لږه یوه د درد د ارامتیا تابلیت راکړئ. پوښتنه یې وکړه چې میاشتینۍ عادت څه شی دی؟ مې وویل چې دا د ښځو میاشتنۍ عادت دی. خو هېڅ پاملرنه یې ونه کړه.»[۷٦]

72 . د ملګرو ملتونو سازمان کم تر کمه معیاري قواعد.
73 . رواداري، ۹ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د مۍ ۱۲مه.
74 . رواداري، ۱۶ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ دی مۍ ۴مه.
75 . رواداري، ۵ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۲۷مه.
76 . رواداري، ۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۱۵مه.

«ډېره سخته ده چې دا حالت تشريح کړم. د زياتې شکنجې او وهلو ټکولو له امله مې ملا درديده او مياشتنی عادت مې درلود. درملو ته مې اړتيا لرله. څو کسانو ته مې وويل چې درملو ته اړتيا لرم. يا نه پوهېدل يا يې غوښتل چې تفصيل يې ورکړم. بالاخره مې له هغه چا سره خبرې وکړې چې معمولا يې رانه پلټنه کوله او پوهېده. درې ورځې وروسته يې درمل راوړل او ويې ويل قانون موږ ته اجازه نه راکوي چې زندانيانو ته درمل ورکړو.»



بلې ښځې ویلي:

**«مور او دېرې نورې ښځې د شدیدې وېرې او رواني فشار له امله میاشتنی عادت درلود؛ خو هېڅ روغتیایي اسانتیاوې نه وې. د خونې د چټلو توشکونو ټوټې به مو د دې لپاره کارولې.»** [۷۷]

یو بلې ښځې د بند پر مهال خپل حالت په دې ډول بیان کړی:

**«ډېره سخته ده چې دا حالت تشریح کړم. د زیاتې شکنجې او وهلو ټکولو له امله مې ملا دردیده او میاشتنی عادت مې درلود. درملو ته مې اړتیا لرله. څو کسانو ته مې وویل چې درملو ته اړتیا لرم. یا نه پوهېدل یا یې غوښتل چې تفصیل یې ورکړم. بالاخره مې له هغه چا سره خبرې وکړې چې معمولا یې رانه پلټنه کوله او پوهېده. دري ورځې وروسته یې درمل راوړل او ویې ویل قانون مور ته اجازه نه راکوي چې زندانیانو ته درمل ورکړو.»** [۷۸]

## د شکنجې او ناوړه چلند ډولونه

د دې راپور په لومړي فصل کې، د شکنجې د مخنیوي د نړیوال کنوانسیون له مخې، د شکنجې او نورو بې رحمه، غیر انساني او سپکوونکو سزاګانو او د پېښېدو شرایط یې تعریف شوي دي. اوس به د همدې حقوقي چوکاټ پر بنسټ، هغه مستند موارد وڅېړو چې له قربانیانو سره د مرکو له لارې، د طالبانو تر ولکې لاندې زندانونو کې د شکنجې او ناوړه چلند څرنګوالي ته اشاره کوي.

د دې څېړنې د موندنو له مخې، ټول ۳۴ مرکه شوي کسان، یا د نیولو په لومړیو ورځو کې او یا هم د تحقیق او پلټنو پر مهال، د فزیکي شکنجې، رواني فشار، جنسي ځورونې او نورو ډولونو ناوړه چلند سره مخ شوي دي. شکنجه کوونکو دا کار په قصدي ډول، د معلوماتو ترلاسه کولو، اعتراف اخیستو، وېرولو او یا د قرباني د سپکاوي لپاره کړی دی. دا ډول کړنې د نړیوالو اسنادو په ځانګړې توګه د شکنجې د مخنیوي کنوانسیون د لومړۍ مادې له مخې، څرګنده شکنجه او ښکاره د بشر حقونو نقض بلل کېږي.[۷۹]

**لکه څنګه چې د راپور په لومړۍ برخه کې هم یادونه شوې، د خلکو شکنجه له نیولو سره سم پیل شوې او د تحقیق او پلټنو پر مهال یې لا پسې زور اخیستی دی. د هغو قربانیانو داستانونه چې په دې څېړنه کې یې ګډون کړی، ښیي چې طالبانو په پراخ او سیستماتیک ډول شکنجه ترسره کړې ده.**

د بشر د حقونو مدافعان، معترضې ښځې، د پخواني حکومت کارکوونکي، او هغه کسان چې د طالبانو د وسلهوالو مخالفو ډلو غړي یا همکاران ګڼل شوي، د دې شکنجو قربانیان دي. په دې ډله کې دوه کسان د قتل او د الکولي مشروباتو د څرښلاو په تور د استخباراتو له خوا نیول شوي او شکنجه شوي دي. دا هم د یادونې وړ ده چې په ځینو مواردو کې، وروسته له سختو شکنجو دا ثابته شوې چې قربانیان په تېروتنه نیول شوي، یا د طالبانو محکمو هغوی بې‌ګناه ګڼلي دي.

77. رواداري، ۲۵ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپریل ۲۰مه.
78. رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپریل ۲۸مه.
79. د شکنجې د مخنیوي قانون، لومړۍ ماده.

مرکې شویو کسانو ویلي، چې پلټنې او شکنجه عموماً د شپې لهخوا ترسره کېده، او ډېر وخت شکنجه کوونکو یا نقاب درلود، او یا یې د قربانیانو سترګې تړلې، څو خپل هویت پټ وساتي.

د ملګرو ملتونو مرستیال پلاوي (یوناما) اعلان کړی چې د ۲۰۲۳ کال د جنورۍ له لومړۍ د جولای تر ۳۱ مې نېټې، د طالبانو له خوا د نیونې او بند په تړاو د بشر حقونو ۱۶۰۰ سرغړونې ثبت شوې دي، چې تر نیمايي زيات يې شکنجه، ظالمانه، غیر انساني یا تحقیر کوونکي چلندونه دي.[80] همدارنګه، د بخښنې نړیوال سازمان په خپل کلني راپور کې ویلي، چې په ۲۰۲۴ کال کې هم طالبانو د پخواني حکومت د کارکوونکو، د بشر د حقونو مدافعانو، خبریالانو او منتقدینو شکنجې او له دوی سره ناوړه چلند ته دوام ورکړی دی.[81]

## الف – فزیکي شکنجه

د شکنجې د مخنیوي نړیوال کنوانسیون د لومړۍ مادې له مخې، هر هغه عمل چې قرباني ته شدید جسمي زیان ورسوي، فزیکي شکنجه بلل کېږي. دا زیانونه ښايي په غیر مستقیم ډول د قرباني کورنۍ او نږدې کسانو ته هم واوړي.[82] استانبول پروتوکول چې د شکنجې د تحقیق او مستندسازۍ جامع لارښود دی، هغه طریقې لکه وهل، ځړول، برقي شوک، مصنوعي غرق، د نوکانو او غاښونو ایستل، د بدن پرېکول، سوځول، او سخت جسمي محرومیتونه د څرګندو فزیکي شکنجو له جملې ګڼي.[83]

**د دې تحقیق ارزونې ښیي چې له ۳۴ کسانو څخه ۳۲ تنو له نیول کېدو وروسته د فزیکي شکنجې بېلابېلې طریقې تجربه کړې دي. وهلټکول، په دُرو وهل، له چت ځړول، مصنوعي ډوبول، پر سر پلاستیک ور اچول، پښې برمه کول، د نوکانو او غاښونو ایستل، برقي شوک او «چپه ولچک» (چې یوه لاس له پاسه او بل له لاندې د شا له خوا تړل کېږي) هغه طریقې دي چې طالبانو د اعتراف اخستلو، معلوماتو ترلاسه کولو یا د قربانیانو ګواښولو او وېرولو لپاره کارولې دي.**

د قربانیانو له خوا راپور شوې فزیکي شکنجې ښيي چې ۲۲ تنه د طالبانو استخباراتو، ۴ تنه د پولیسو او دوه کسان د طالبانو د دفاع وزارت اړوندو ځواکونو له خوا او یو کس د لارې په اوږدو کې د استخباراتو لخوا، او درې نور کسان د استخباراتو، پولیسو، او نورو سیمهییزو مسؤلینو لهخوا شکنجه شوي دي. په دوام کې به د قربانیانو د داستانونو او تجربو پر بنسټ، د فزیکي شکنجې طریقه، سختوالی او بڼه یې وڅېړل شي. دا هم د یادونې وړ ده چې طالبانو ډېری قربانیان په یو وخت له څو بېلابېلو طریقو شکنجه کړي دي.

### ۱. وهل ټکول

د دې راپور د معلوماتو او شواهدو له مخې، د فزیکي شکنجې له ټولو قربانیانو څخه ۲۵ تنو ویلي چې د نیول کېدو او پلټنو پر مهال، د خپل بدن پر حساسو برخو لکه سر، غاړه، مخ، شا، لاسونو او پښو باندې د سوک، لغتو، د ټوپک قنداق او میل، لرګي، دُرې، زنځیر، د اوبو نل ، رسی، قلف او کیبل په واسطه وهل شوي دي.

قربانیان تر ډېره په درې ځایونو کې وهل شوي: خلاص میدان، د تحقیق خونه، او خپلو بندخونو کې، په داسې حال کې چې لاسونه او پښې یې تړلې ؤ. طالبانو دا کړنې په قصدي توګه ترسره کړې دي، د اعتراف اخیستو، د معلوماتو ترلاسه کولو، یا د ګواښ او سزا ورکولو په موخه. په دې تړاو، یو تن مرکه شوي دردناک روایت بیان کړی، چې د طالبانو د خشن چلند طبیعت او پراخوالی ښکاره کوي:

«کالي مې یې ایستل، پر بدن مې یې اوبه شیندلې، یو نفر به مې پر پښو کیناست او بل به مې سر کلک نیولی و، داسې سخت یې وهلم چې ویل به مې ای خدایه، مرګ، یوازې مرګ، او هره شیبه مې د مرګ غوښتنه کوله. ځینې وختونه به

80 . په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان مرستیال پلاوی، په افغانستان کې له بندیانو سره چلند، د بشر حقونو رعایت: د باور عامل، ۷ **مخ.**
81 . د بښنې نړیوال سازمان، ۲۰۲۴ کال راپور، https://www.amnesty.org/en/location/asia-and-the-pacific/south-asia/afghanistan/report-afghanistan/
82 . د شکنجې د مخنیوي کنوانسیون، لومړۍ ماده.
83 . استامبول پروتوکول، ۴ فصل، B.1.a برخه

يې زما کالي ايستل او په داسې زنځير به يې وهلم چې سر يې له تېرو تيغونو ډک و، او بدن يې څيرلو، هر ځل چې به يې وهلم وينه به مې لکه فواره بهېدله او زه به بې‌هوښه کېدم. درې يا څلور ځل، کله چې مې مقاومت کاوه همدغه زنځير يې زما د شکنجې لپاره کاراوه.»[۸۴]

په ځينو مواردو کې د بنديانو وهل-ټکول د دې لپاره شوي چې معلومات ورکړي، اعتراف وکړي، ووېرېږي يا تنبيه شي، او دا به په داسې طريقه ترسره کېدل چې فزيکي او رواني درد يې يوځای ورباندې راوسته:

«زه يې يوې ځنګلي ساحې ته يوورم. يو تن وپوښتل چا سره چاره شته؟ ما فکر وکړ چې غواړي سر مې پرې کړ . ومې ويل چې تشناب ته ځم، و يې منله... بېرته له راستنېدو سره، لاسونه مې چې مخکې تړلي ؤ د شا له لوري يې وتړل، پر ځمکه يې واچولم، خوله يې راته بنده کړه، پښې يې هم په رسۍ راوتړلې. پښې يې راته پورته کړې، پر ما به يې اوبه شيندلې، او په لرګي يې وهلم. څو دقيقې وروسته يې وويل چې دا پښې يې بې حسه شوې، نو وهلو ټکلو ته يې د ورنونو پر برخه کې دوام ورکړ.»[۸۵]

همدا راز يوې بل قرباني هم داسې کيسه کړې:

«څلور شپې يې په يوه تياره خونه کې پر ما يخې اوبه اچولې، لاسونه مې تړلي ؤ، پر ځمکه يې را چپه کولم او شکنجه کولم يې. يو کس به مې سر او اوږې نيولې وې او بل پښې. دريېم کس به په ربړي دُره وهلم چې د موټر له ټايره جوړه وه، پر شا، ملا او ورونونو لګېده، او کله ناکله به مې د درد له سختوالي هوش له لاسه ورکاوه... يوه بله ورځ د استخباراتو مشر راغی، غوښتنه يې وکړه چې اعتراف وکړم او دوی ته معلومات ورکړم. کله چې مې ورته وويل چې د اعتراف لپاره هېڅ نه لرم، نو زه يې د نظارت خانې انګړ ته بوتلم او هلته يې په داسې دُره ووهلم چې سر يې تېره فلزي نوکه درلوده. زما بدن په وينو لړلی و.»[۸۶]

لکه څنګه چې د دې راپور په لومړۍ برخه کې ويل شوي، ډېری قربانيان له نيول کېدو سره سم د معلوماتو د ترلاسه کولو، وېرولو يا سزا په موخه د طالبانو له لوري شکنجه شوي دي.

په دې اړه يوه قرباني داسې ويلي دي:

«...له کوره ونيول شوم. ۴۰ تر ۵۰ پورې وسله‌وال له څو موټرو سره راغلي ؤ. يوشمېر کسانو راباندې يرغل راوړ او وهل ټکول يې راباندې پيل کړل. د سوک، لغتو او د ټوپک د قنداق په وهلو يې د بدن هره برخه ووهله. د دوی د ټوپک په يو قوي ګوزار سره مې د پښې د زنګون هډوکی مات شو، وروسته مې څه ياد نه دي،

84 . رواداري، ۱۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۲۷مه.
85 . رواداري، ۳۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۱۷مه.
86 . رواداري، ۲۴ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۲۶مه.

او یوه موده بې‌هوښه شوم. کله چې بیا په هوش راغلم، په مخ، سینه او پښو کې مې سخت درد محسوسېده.» [۸۷]

د قربانیانو روایتونه ښيي چې د طالبانو استخباراتو د خپلو معترضینو، منتقدینو او د پخواني حکومت کارکوونکو پر وړاندې تر ټولو شدید ډول شکنجه کارولې ده. په دې اړه یوې معترضې ښځې، چې د یو دادغوښتونکي پروګرام له امله نیول شوې او شکنجه شوې وه، داسې روایت کړی دی:

«هر څه چې به یې په لاس کې ؤ، زه به یې پرې وهلم او شکنجه کولم. د غوږ پرده مې څیرې شوه، کله چې یې غوښتل د کلاشینکوف په میل زما سر ووهي د ښي لاس ګوته مې سخته ټپي شوه. هغومره به یې شکنجه کولم چې بې‌هوښه کېدم، او اوس هم ډېر وخت نه شم کېناستلی، ځکه پښه او ملا مې درد کوي... تندی مې او د سر یوه برخه مې د طالبانو د ټوپک میل او لغتو له امله زخمي شوې ده.» [۸۸]

همداراز، یوې بلې معترضې ښځې ویلي دي:

«کله مې چې وویل زه جاسوسه نه یم او یوازې د خپل حق لپاره مې مظاهره کړې، نو په وهلو یې شروع وکړه، لاسونه یې راته ولچک کړل او پر ما یې بیا بیا سړې اوبه تویولې، او هغومره یې ووهلم چې بې‌هوښه به شوم. په دوی کې مې هېڅ رحم نه لیده. هر ځل یې دومره سخت په خېټه په لغته وهلم چې بې‌هوښه به شوم. هېڅکله یې فکر نه کاوه چې دا ګوزارونه ښايي زما د مرګ سبب شي.» [۸۹]

د پخواني حکومت د یوه کارکوونکي تجربه د طالبانو د شکنجو بله وحشتناکه څېره افشا کوي:

«زه یې پر ځمکه واچولم او د ټوپک په قنداق، سوکانو او لغتو یې ووهلم. یوه یې وویل: باید به سر یې وولو او همدلته یې ووژنو. دویم وویل: مه کوئ، ډزې کېږي، افشا کېږو. درېیم وویل: د وهلو لاندې یې لکه سپی وژنو. او هماغه شېبه یې زما پر سر ډېر سخت ګوزار وکړ چې بې‌هوښه شوم او نور څه مې نه یادېږي چې څه وشول.» [۹۰]

برسېره پر دې، یو بل قرباني چې د ملي مقاومت جبهې سره د اړیکو په تور شکنجه شوی، داسې څرګندونه کړې ده:

«سترګې مې پټې وې، او لاسونه مې په زنځیر تړلي ؤ. دوه تنه له دواړو خواوو په کیبل وهلم، پر پښو، ملا او اوږو مې یې وارونه کول. ویل یې: اعتراف وکړه، ووایه چې د مقاومت له جبهې سره دې اړیکه لرله. ما ویل: هېڅ همکاري مې نه ده

87 . رواداري، ۱۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۲۷مه.
88 . رواداري، ۲۶ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۲۵مه.
89 . رواداري، ۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۱۵مه.
90 . رواداري، ۲۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۱۸مه.

کړې، څه ووایم چې هېڅ نه شته؟ خو هغوی ته دا مهمه نه وه، هغوی حقیقت نه غوښت.»[91]

همداراز، راټول شوي داستانونه ښیي چې طالبانو آن هغه کسان هم چې یوازې یې ساده نیوکه کړې وه نیولي، او هغوی یې سخت شکنجه کړي دي:

«خپلو وسله والو ته یې امر وکړ چې زما لاسونه او پښې وتړي. یوه پښه یې پر بله کېښوده او و یې تړله، لاسونه مې له شا په دستمال سره وتړل شول، او خوله مې یې په لونګۍ وتړله. بیا یې پر ما د کیبل ګوزارونه پیل وکړ. ماته یې وویل: کله چې د اعتراف لپاره چمتو شوې، لاس دې وخوځوه. همداسې یې وهلو ته دوام ورکړ، وروسته یې لنګۍ زما له خولې لرې کړه او و یې ویل: اعتراف کوې؟ ما زارۍ وکړې او قسم مې وخوړ چې بې‌ګناه یم او له هېڅ سره اړیکه نه لرم.»[92]

لاندې د بل قرباني کیسه ده چې د بهرنیو ځواکونو سره د کار په تور د طالبانو له خوا شکنجه شوی دی:

«زه یې یوې تر ځمکې لاندې کوټې ته بوتلم. نه فرش و، نه څوکۍ؛ پر لوڅه ځمکه یې کښېنولم. ویل یې: ولې دې له امریکایانو او کفارو سره کار کړی او د دوی پروژې دې تطبیق کړې؟ بیا یې پر ځمکه واچولم او له یوه لرګي سره چې دننه یې اوسپنه وه، پر لاسونو، پښو او ټول بدن یې وهلم. دومره سخت وهل چې بې‌هوښه شوم. درې یا څلور بجې به وې چې بیرته په هوښ شوم، او پوه شوم چې لا هم له مخه پر ځمکه پروت یم. سر، بدن، او ځانګړې توګه پښې مې سخت درد کاوه. کینه پښه مې درز شوې وه او لا هم د درد له امله په عذاب یم.»[93]

### ۲. مصنوعي ډوبول / د اوبو له لارې ساه بندول


**یو بل عام او منظم ډول شکنجه چې د طالبانو تر کنټرول لاندې زندانونو کې کارول کېږي او مرکه شویو یې یادونه کړې، د «مصنوعي ډوبول» یا د اوبو په مټ ساه بندول دي، چې د مرکو پر بنسټ د قربانیانو د اعتراف اخیستلو یا سزا ورکولو په موخه ترسره شوي. په دې طریقه کې، شکنجه کوونکي د قرباني خوله د یو دستمال یا پلاستیکي کڅوړې په ټوټه پټوي، او بیا یې په تکراري توګه پر مخ او خوله اوبه اچوي ترڅو د سختې ساه بندېدو او ډوبېدو حس رامنځته شي.**

دا ډول شکنجه د خپل فزیکي او رواني اغېز له مخې د شکنجې یوه بله بېله ګڼل کېږي، او د شکنجې مخنیوي په اړه د نړیوال کنوانسیون ښکاره سرغړونه ده.[94] د مرکه کوونکو له ډلې څخه ۶ تنه یې وایي چې د شکنجې له نورو ډولونو د زغملو سربېره په همدې طریقه شکنجه شوي دي.

یو د بشري حقونو فعال، چې د طالبانو په زندان کې له ګڼو شکنجو سره مخ شوی، داسې وایي:

«یوه ورځ زه او بل بندي د نظارت‌خونې انګړ ته بوتلل شوو. هلته یو لویه د مرمرو ډبره پرته وه چې شاوخوا څلوېښت یا پنځوس کیلو وزن به یې درلود. ډبره یې

91 . رواداري، ۹ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د مۍ ۱۲مه.
92 . رواداري، لومړي شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د مۍ ۸مه.
93 رواداري، ۱۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ ۹ اپریل.
94 . د شکنجې د مخنیوي کنوانسیون، لومړۍ ماده.



«کله مې چې وویل زه جاسوسه نه یم او یوازې د خپل حق لپاره مې مظاهره کړې، نو په وهلو یې شروع وکړه، لاسونه یې راته ولچک کړل او پر ما یې بیا بیا سړې اوبه تویولې، او هغومره یې ووهلم چې بې‌هوښه به شوم. په دوی کې مې هېڅ رحم نه لیده. هر ځل یې دومره سخت په خېټه په لغته وهلم چې بې‌هوښه به شوم. هېڅکله یې فکر نه کاوه چې دا ګوزارونه ښایي زما د مرګ سبب شي.»

زمورې پر نسونو کېښوده، د اوبو پايپ يې زمورې خولو ته دننه کړ. ډېره يې ځکه ايښې وه چې اوبه سږو ته لاړې نه شي، ځکه په هغه حالت کې به مړه شوي وای… شکنجه کوونکي اووه يا اته تنه ؤ. يو شمېر يې زما پر پښو ناست ؤ، نور يې لاسونه او اوږې کلکې نيولې وې. هر ځل يې شاوخوا يوه دقيقه اوبه خولو کې را اچولې، بيا يې لږ وقفه کوله او هماغه عمل يې تکراروه.» [95]

يو بل قرباني چې طالبانو د اعتراف اخيستلو په موخه شکنجه کړی، داسې بوګنوونکې کيسه لري:

«…بيا يې يوه توره لونګۍ پر خوله راکېښوده او اوبه يې پرې اچولې. ساه مې نشوه اخستلای. داسې احساس مې کاوه چې ډوبېږم. اوبه زما نس ته تللې، تر هغې چې بې‌هوښه شوم. کله چې بيا په هوښ شوم، ماته يې وويل: اقرار وکړه، کنه وژل کېږې. هر ځومره چې مې زارۍ وکړې، نه يې منله. دا ډول يې څو ځل نور هم شکنجه راکړه، او هر ځل بې‌هوښه کېدم.»[96]

يو بل مرکه شوی د دې غيرانساني شکنجې نور ابعاد داسې روښانه کوي:

«دستمال يې زما له خولې لرې کړ او و يې ويل: له کوم ځايه او له چا امر اخلې؟ څوک دې ملاتړ کوي؟ څومره وسله لرې؟ ولې زمورې پر ضد پر ټولنيزو شبکو نيوکې کوې؟ بيا يې زه پر ځمکه وغورځولم، په دستمال سره يې خوله راوتړله. يو تن زما پر پښو کېناست او پر دستمال چې زما مخ يې پټ کړی و، مسلسل اوبه اچولې. کله کله يې د پښو خاورې هم پر دستمال شيندلې، چې ستونې ته مې تللې او زه تر ساه بنديدو رسېدم. کله به چې نيږدې شوم چې مړ شم، شکنجه به يې بنده کړه.» [97]

## ۳. د غاښونو او نوکانو ويستل

له شواهدو داسې ښکاري چې د طالبانو استخباراتي ارګانونو د اعتراف، معلوماتو اخيستلو يا د سزا ورکولو لپاره د شکنجې نورې بې‌رحمانه طريقې هم کارولې، لکه د نوکانو يا غاښونو ايستل. دوه تنه مرکه کوونکي وايي چې د پلټنو پرمهال د همدې طريقې سره مخ شوي، او يو دربيم کس وايي چې په شکنجه کې يې دوه غاښونه مات شوي دي.

يو پخوانی امنيتي افسر، چې د طالبانو لخوا په بېلابېلو طريقو شکنجه شوی، خپله کيسه داسې بيانوي:

«…بيا يې زما نوکان يو په يو وايستل. چيغې مې وهلې. نه پوهېدم دا چيغه د درد ده، که د سپکاوي؟ زارۍ مې کولې، د خدای قسم مې خوړ، خو ګټه يې نه کوله. شکنجه کوونکي خوند اخيسته. يو يې هر ځل چې ما چيغه وهله، لوړ لوړ خندل.»[98]

95 . رواداري، ۵ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپریل ۲۷مه.
96 . رواداري، لومړی شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د می ۸مه.
97 . رواداري، ۳۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپریل ۱۷مه.
98 . رواداري، ۹ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د می ۱۲مه.

یو بل قرباني چې د یوه کس د وژنې په تور د درې میاشتو لپاره شکنجه شوی، او وروسته محکمې بې‌ګناه پېژندلی، داسې وایي:

**«د استخباراتو په نظارت‌خانه کې یې له ربړي رسی، د موټر زنځیر او برقي شاک سره شکنجه کولم. یوه شپه یې په انبور سره زما دوه غاښونه وایستل. کاشکې یې وژلی وای، ځکه دا به راته اسان وای. حتی ورته مې وویل: مه مې شکنجه کوئ، مړ مې کړئ. اوس نه شم کولای کار وکړم. غاښونه مې خراب شوي او ویښته مې سپین شوي. باور وکړه، لا هم د شپې خوب نشم کولی.»** [99]

یو د بشر حقونو فعال، چې د ښځو د تعلیم د ملاتړ په تور شکنجه شوی، ویلي:

**«د شکنجې پر مهال مې یو غاښ مات شو. په وینه لړلی یې بلې خونې ته بوتلم. لږ وروسته یو طالب راغی، یو ګیلاس اوبه یې راوړې. ماښام نیږدې و، بل طالب یوه د درد ارامتیا ټابلیټ راکړ. ټول بدن مې درد کاوه. د شپې یې یو څه سره ډوډۍ راوړه، لاسونه یې لا هم راتړلي ؤ چې درد یې زیات کړی و، او تر سهاره مې خوب نه و کړی... بیا یې د تحقیق خونې ته بوتلم او شکنجه یې راکړه. دا ځل مې دویم غاښ هم مکمل مات شو.»** [100]

## ۴.پر سر د پلاستیکي خلتې اچول

۶ تنه له مرکې شویو کسانو څخه راپور ورکړی چې د طالبانو د استخباراتو مامورینو د تحقیق او پلټنې پر مهال د هغوی سرونه په پلاستیکي خریطو کې اېښي او د تنفس لارې یې بندې کړې دي. دا طریقه ډېری وخت له نورو فزیکي یا رواني شکنجو سره یوځای کارول شوې، د قرباني د سخت درد، کړاو او د اقرار یا معلوماتو د اخیستلو په موخه، چې دا د شکنجې اصلي عناصر ګڼل کیږي.[101]

د یوه مدني فعال قرباني کیسه، چې په همدې طریقې قرباني شوی، د شکنجې وېرونکې بڼه داسې بیانوي:

**«د حوزې آمر وویل: دا وحشي جاسوس اقرار نه کوي، باید ووژل شي. یوه بل طالب ته یې وویل: پلاستیکي خلته راوړه. خلته یې پر سر را واچوله او و یې تړله. ساه مې بنده شوه، چیغه مې وهله خو غږ مې نه ووت. تر هغې چې بې‌هوښه شوم. کله چې بیا په هوښ شوم، زارۍ مې وکړې، ویل مې بې‌ګناه یم، خو نه یې منله. څو ځل یې نور هم همدا طریقه تکرار کړه. وروسته چې یې بیرته کانتینر ته بوتلم، له ستوني مې وینه راتله او غږ مې نه ووت.»** [102]

همدا راز، یو بل قرباني وایي:

**«زما سر یې  پلاستیکي خلته کې دننه کړ، ساه مې بندېده، هوښ مې له لاسه ورکاوه. ۱۱ ځله بې‌هوښه شوم. ټینګار یې دا و چې ووایم د کوم هېواد لپاره**

99 . رواداري، ۱۹ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د مې لومړی.
100 . رواداري، ۲۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۱۲مه.
101 . د شکنجې د مخنیوي کنوانسیون، لومړۍ ماده.
102 . رواداري، لومړي قرباني سره مرکه، ۲۰۲۵ د مې ۸مه.

**جاسوسي کوم او د کومې سیاسي څېرې له خوا ملاتړ کېږم. هر څومره چې مې ویل زه جاسوس نه یم او له بهرنیانو پیسې نه اخلم، نه یې منله او شکنجه کولم یې.»[103]**

یوې معترضې ښځې، چې ورته تجربه لري، د دې ډول شکنجې په اړه داسې وایې:

**«د تحقیق پر مهال، چې ما د دوی پوښتنو ته ځواب ورکاوه، یوه تن له خپل جېب نه پلاستیکي خلته را وایسته، هغې ته یې هوا ورکړه. بیا یې زما سر وردننه کړ، شاته ودرېد او خلته یې کش کړه. د پلاستیک ټوټه زما پر پزه او خوله نښتې وه، ساه مې نه شوه اخیستلای. هماغه وخت مې لاسونه هم تړلي ؤ. [104]**

له مرکو راټول شوي معلومات ښیي چې طالبان پرته له دې چې د فزیکي او رواني دردونو پر پایلو غور وکړي، دا طریقه یې بیا بیا کارولې ده:

**«بیا یې د زندۍ کولو هڅه وکړه، شاوخوا پنځلس یا شپاړس ځله یې زما سر د پلاستیکي خلتې دننه کړ او د غاړې شاوخوا یې وتاړه، داسې چې شدیده ساه بندي مې احساسوله. څه هم نه و چې و یې وایم یا اعتراف وکړم. وروسته یې کوټې ته بوتلم، هر درې یا څلور ساعته وروسته به راتلو، او بیا به یې شکنجه شروع کوله.»[105]**

## ۵. برېښنايي شاک

د دې څېړنې د موندنو پر بنسټ، یو د شکنجې له عامو میتودونو څخه چې تر ډېره د طالبانو د استخباراتو کارکوونکو لخوا کارول شوی، برقي شاک یا د برېښنا له لارې شکنجه ده. په دې طریقه کې، طالبان د قربانیانو د اقرار، اعتراف یا وېرولو په موخه، دوی پر څوکۍ کښېنول، وروسته یې د برېښنا سیمونه د بدن برخو ته وصل کول ترڅو د برېښنا له جریان څخه شدید درد رامنځته کړي. د شکنجې دا بڼه، د شکنجې د مخنیوي نړیوال کنوانسیون د لومړۍ مادې له مخې، چې شدید فزیکي او رواني دردونه تعریفوي، څرګنده او صریحه شکنجه بلل کېږي. ځکه دا نه یوازې د قربانیانو د بدني خوندیتوب سرغړونه ده، بلکې د هغوی انساني کرامت ته هم سپکاوی ګڼل کېږي.[106]

له مرکو راټول شوي معلومات ښیي چې برقي شاک، د طالبانو له خوا د شکنجې د یوې بڼې په توګه، له شدید فزیکي او رواني درد سره مل و:

«...زه یې سخت ووهلم. یوه وسپنه یې زما په لاس کې کېښوده، وروسته نه پوهېدم څه وشول، ټول بدن مې ولړزېد او بې‌هوښه شوم. کله چې بیرته په هوښ شوم، ډېر ستړی وم، له ساتونکو مې اوبه وغوښتې خو را یې نه کړې. کله چې تشناب ته لاړم چې اوبه وڅښم، بیا بې‌هوښه شوم. کله چې راویښ شوم، په لاس کې مې سیروم وصل و. دوه یا درې ځایه یې مې لاسونه ستن سوري کړي ؤ، نښې یې ښکاره وې. درې ورځې وروسته مې د ناتوانۍ، بې‌وسۍ احساس وکړ او سخت مې وژړل.» [107]

103 . رواداري، ۲۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۲۱مه.
104 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۲۸مه.
105 . رواداري، ۵ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۲۷مه.
106 . د شکنجې د مخنیوي قانون، لومړۍ ماده.
107 . رواداري، ۲۹ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۱۸مه.

یوې معترضې ښځې د همدې شکنجې په اړه داسې ویلي:
«زما د مبایل پین‌کود یې غوښت، ما ور نه کړ. ویې ویل دا نجلۍ ډېر مقاومت کوي، خبره نه مني، پورته یې یوسئ، برقي شاک ورکړئ. شاک راکړل شو، نیم ساعت بې‌هوښه وم. نه پوهېدم چې په دې موده کې څه پېښ شول. کله چې راویښه شوم، ساه مې تنګه شوې وه، خبرې مې نشوې کولای، پر مخ یې راته اوبه شیندلې...» [108]

یو بل قرباني، چې د مدني فعالیتونو له امله نیول شوی و، د برقي شکنجې ترڅنګ له سپکاوي او لفظي تاوتریخوالي سره هم مخ شوی دی:
«بیا یې زه یوې خوټۍ ته کلک وتړلم او برقي شاک یې راکړ. ویل یې: د جمهوریت سپیه، اوس خپل باداران راوغواړه چې له مونږ دې خلاص کړي! ما چیغې وهلې، ژړل مې. یوه ساعت وروسته بېرته راغلل، شکنجه او شاک ته یې دوام ورکړ. له کیبل سره یې پر سر او مخ وهلم، او ویل یې: ته باغي یې، ته د جمهوریت سپی یې.» [109]

د راپور نورې موندنې ښیي چې برقي شاک د قربانیانو پر رواني او فزیکي روغتیا ویجاړوونکې پایلې درلودې:
«د تحقیق درېیمه ورځ، تر وهلو، مصنوعي ډوبولو وروسته یې یو جنراتور چالان کړ چې د تحقیق خونې ته نږدې و. دوه لینونه یې زما بدن ته ولګول. دومره شاک یې راکاوه چې پورته مې ټوپ کاوه، بیا به پر ځمکه پرېوتلم. هغوی هېڅ رحم نه درلود. زه دومره تر شکنجې لاندې شوم چې مرګ ته راضي شوم، دومره ناتوانه شوم چې هره شپه به بې‌اختیاره انزال کېدم. اوس مې د همدې شکنجو له امله جنسي توان له لاسه ورکړی.» [110]

## ۶. په چت پورې ځوړندول


د دوو قربانیانو د روایت له مخې، یو بل د شکنجې میتود چې د طالبانو استخباراتو په زندانونو کې کارول شوی، دا و چې قربانیان له چت څخه ځوړند شوي. په دې طریقه کې، د قرباني لاسونه یا پښې په چت پورې تړل کېږي، او ساعتونه په هماغه حالت پرېښودل کېږي.

یوه معترضه ښځه وایي:

> **«یوه شپه او ورځ یې زه له چت څخه ځوړند کړې وم. دواړه لاسونه مې د کوټې د چت له یوې اوسپنې سره تړلي ؤ، د پښو ګوتې مې په زحمت سره ځمکې ته رسېدې. بیا یې پر شا د کیبل وارونه راکول. لاسونه او پښې مې پړسېدلي ؤ، ملا مې درد کاوه، نه شوم درېدلی. په دې موده کې، نه راته د خوړو اجازه وه، نه تشناب ته تګ. کله چې یې بېرته له چت نه ښکته کړم، لاسونه او پښې مې فلج شوي ؤ، او ملا مې سخت درد کاوه. لا هم د غاړې درد لرم او پیاده تګ نشم کولای.»[111]**

108 . رواداري، ۳۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د می ۲۴مه.
109 . رواداري، ۲۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۲۱مه.
110 . روادار، لومړی شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د می ۸مه.
111 . رواداري، له ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۲۸مه.

«زما سر يې  پلاستيکي خلته کې دننه کړ، ساه مې بندېده، هوښ مې له لاسه ورکاوه. ۱۱ ځله بې‌هوښه شوم. ټينګار يې دا و چې ووايم د کوم هېواد لپاره جاسوسي کوم او د کومې سياسي څېرې له خوا ملاتړ کېږم. هر څومره چې مې ويل زه جاسوس نه يم او له بهرنيانو پيسې نه اخلم، نه يې منله او شکنجه کولم يې.»



یو پخوانی دولتي مامور، چې له نورو سختو شکنجو سره سره له همدې طریقې سره هم مخ شوی، وایي:

«د وروستي پړاو په توګه، شاوخوا دوه ساعته یې زه له پښو ځوړند کړم، او لکه د د سوک وهنې کڅوړه یې وهلم. پر نس او پښو یې وهلم، ویل یې: ولې اعتراف نه کوې؟ آخر یې وویل چې تا به علني اعدام کړو چې نورو امریکایي جاسوسانو ته عبرت شي. داسې یې شکنجه کولم، چې هره لحظه به مې مرګ غوښت، ویل مې: ماته مهمه نه ده، ژر مې ووژنئ، نور دا درد نشم زغملی.» [112]

## ۷. چپه ولچک کول

د قربانیانو له مجموعې څخه ۴ کسانو ویلي چې طالبان یې د "چپه ولچک" په نوم طریقه هم په شکنجه  کړی دي.

یو قرباني د دې شکنجې د طریقې په اړه داسې کیسه کوي:

«د شکنجې یوه بله طریقه چپه ولچک و. یو لاس به له پورته (د اوږې له سره) او بل به له شا د ولچک سره داسې تړل کېده چې دواړه لاسونه به نه سره رسېدل. شدید درد او فشار به رامنځته کېده چې اغېز یې دوه یا درې ورځې پاتې کېده. یو تن به مې پر ملا پښه ایښودله او له فشار سره به یې په ولچک کلک کوله. تر نیم ساعت څخه تر درې ساعتو پورې به یې په هماغه حالت کې ساتلم. هر څوک چې به دا ډول شکنجه کېده، چیغې به یې وهلې او ویل به یې: هر څه چې غواړئ، اعتراف کوم.» [113]

یو بل قرباني هم ویلي چې:

«بېرته راغی، ولچک یې خلاص کړ، یو لاس مې له اوږې پورته، بل یې له شا وتاړه. بازو او اوږو کې مې سخت درد حس کاوه. غاړه یې د کړکۍ له لاستي سره په رسۍ را تړلې وه... بیا یې ویډیو رانه واخیسته، توهین یې کاوه، له وېښتو یې راکښلم، ویل یې: اوس دې توبه ایستې؟.» [114]

## ۸. د ساتیرۍ لپاره شکنجه

**د تحقیق موندنې ښیي چې طالبانو له هېڅ ډول ظالمانه او غیرانساني چلنده ډډه نه ده کړې. لکه څنګه چې دوه تنه قربانیان وایي، طالبانو هغوی کله ناکله یوازې د تفریح او ساتیرۍ لپاره شکنجه کړي.**

یوه معترضه ښځه وایي:

«دستمال به یې زما د غاړې شاوخوا را تاواوه، او زه به یې خفه کولم. کله چې به مې ټوخی وکړ، هغوی به خندل. یا به یې ناڅاپه پر ما یخې اوبه شیندلې، او کله چې به وېریدلم، ټولو به په لوړ آواز خندل، داسې خندا چې فکر به دې کاوه زړه به

112 . رواداري، له ۱۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۲۷مه.
113 . رواداري، له ۵ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۲۷مه.
114 . رواداري، له ۳۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۱۷مه.

> **يې ودريږي. ډېر بد احساس مې درلود، چې ليدل مې هغوی زما له شکنجې خوند اخلي.»** [115]

يو بل قرباني، د ډېر بوګنوونکي حالت بيان وړاندې کوي:

«بل ځل يې يوه کمپله زما پر ملا کلکه وتړله. دوه کسانو به له دواړو خواوو هغې ته زور ورکاوه، دومره فشار يې راکاوه چې کنټرول مې له لاسه ورکړ... او جامې مې ناپاکې شوې. هغوی به راباندې خندل، او زه دومره شرمېدم چې مرګ مې غوښت.» [116]

## ب – رواني شکنجه او ناوړه چلند

رواني شکنجه د شکنجې له ځرګندو بڼو څخه يوه ده. دا ډول شکنجه د قرباني د روحيې د سختو دردونو او کړاو له لارې ترسره کېږي، که مستقيم خپله پر قرباني وي او که غير مستقيم د هغه پر کورنۍ يا نژدې خپلوانو. د شکنجې د مخنيوي نړيوال کنوانسيون د لومړۍ مادې له مخې، که يو دولتي مامور قصداً او د معلوماتو يا اعتراف اخيستو، يا جبري اعتراف ورکولو، يا د تبعيض پر بنسټ، يو څوک له سختو رواني کړاوونو سره مخ کوي، نو دا عمل رواني شکنجه ګڼل کېږي.[117] استانبول پروتوکول رواني شکنجه په تفصيل تشريح کړې ده او ټينګار کوي چې رواني دردونه هم کولای شي د شديدو فزيکي شکنجو په اندازه ويجاړوونکي وي.[118]

**په دې څېړنه کې پر ټولو مرکه شويو کسانو د نيول کېدو له شيبې تر ازادۍ پورې، په ځانګړي ډول د تحقيق پر مهال، د رواني شکنجې ډولونه تطبيق شوي دي. دې ډول شکنجه کې توهين، تحقير، سپکاوی، د وژنې، اعدام، سنګسار يا سر پرېکولو ګواښ، د کورنۍ د غړو د نيولو ګواښ، او قومي-مذهبي سپکاوی شامل دي.**


د دې راپور موندنې ځرګندوي چې طالبانو قصداً د قربانيانو د اعتراف اخيستو، معلوماتو ترلاسه کولو، يا د هغوی د ارعاب او تحقير لپاره له رواني شکنجې کار اخيستی دی. دا اعمال د بشر حقوقو له نړيوالو معيارونو، د انسان له کرامت، او د شکنجې د مخنيوي کنوانسيون له لومړۍ مادې سره ښکاره مخالفت لري.[119]

### ۱. تحقير او سپکاوی

د راپور له معلوماتو ښکاري چې لفظي زورزياتی، توهين او تحقير د طالبانو د رواني شکنجو يو عام ډول دی. ټول ۳۴ مرکه شوي کسان وايي، دوی د نيول کېدو پر مهال او وروسته بيا، په دوامداره توګه له توهين سره مخ شوي دي.

**قربانيانو لپاره دغه سپکوونکي ټکي بيا بيا کارول شوي دي: «جاسوس»، «بغاوت کوونکی»، «مرتد»، «کافر»، «فاحشه»، «رنډۍ»، «ضعيفه»، «د امريکايانو نوکر»، «خائن»، «بې‌ناموس»، «سپی»، او «خبيث». ښځو نيول شويو کسانو ته داسې توهين کوونکي او جنسي سپکاوی کوونکي کلمات هم ويل شوي چې ځينو مرکه شويو له اخلاقي پلوه د هغې له بيا ويلو ډډه کړې ده.**

115 . رواداري، له ۳ شمېره قرباني سره مرکه، ۲۰۲۵ د اپرېل ۲۷مه.
116 . رواداري، له لومړي شمېره مرکه شوی، د مرکې نېټه؟ د دې نقل قول ځينې نارامه کوونکي جزئيات د قرباني انساني کرامت ته د درناوي له امله نه دي راوړل شوي.
117 . استامبول پروتوکول، څلورم فصل، B.1.d برخه
118 . استامبول پورتوکول، څلورم فصل، B.1.d برخه
119 . د شکنجې د مخنيوي کنوانسيون، لومړۍ ماده.



همداراز، په ځینو مواردو کې طالبانو د قربانیانو د کورنیو توهین او بې‌احترامي هم کړې، څو خپله پر قرباني فشار زیات کړي:

«رواني یې ډېر شکنجه کړم. زما ښځې او بچیانو ته به یې ښکنځل کول. هغوی فکر کاوه چې ما سلګونه طالبان وژلي دي.» [۱۲۳]

یوه ښځینه قرباني چې د بند په موده کې د طالب ځواکونو له خوا جنسي تحقیر او ژبنی سپکاوی ورته شوی، داسې وایي:

**«راته به یې ویل ته خو ضعیفه یې، حتا سمه په لاره نه شې تلی، څنګه دې زمونږ د نظام پر ضد اعتراض کولو، له کوم ځایه دې ملاتړ کیږي، او په دې وضعیت سره دې څنګه جرات کړی چې د نظام پر ضد لاریون وکړې؟.»[۱۲۰]**

یو بل قرباني ویلي دي:

**«یو له هغو کسانو څخه په تنده لهجه او ښکنځلو راته وویل چې ته جاسوس او غلام یې، ولې د اسلامي امارت پر ضد تبلیغات کوې؟ ما ورته وویل، هېڅکله مې تبلیغات نه دي کړي، نه جاسوس یم، نه د امارت مخالف یم. یو تن را ته نږدې شو او په سخت زور یې څپېړه راکړه، بل کس راغی او زه یې د ټوپک په قنداق او لغتو ووهلم. هر څه مې ورته ویل چې ولې مې وهئ؟ زما ګناه څه ده؟ ویل به یې: خبرې مه کوه، بې‌ناموسه او جاسوسه! ستا قواره مسلمان ته ورته نه ده.»[۱۲۱]**

همداراز، یو بل قرباني د دې ډول رواني شکنجې په اړه داسې څرګندونې کړې دي:

**«په لاره کې به یې ویل چې وژنو دې. د دوی قوماندان وویل، لرګی داسې په زور د مقعد له لارې ور داخل کړئ چې له خولې یې ووځي. زه به یې فاسد او کافر باللم. یو یې وویل: د ده شکل خدای بدل کړی، انسان ته ورته نه دی.»[۱۲۲]**

## ۲. په وژلو، سر پرېکولو، اعدامولو، سنګسارولو او ژوندي خښولو باندې د قربانیانو تهدیدول

د دې څېړنې له مرکه شویو ۲۸ کسانو ویلي دي چې طالبانو د تحقیق پر مهال، د اعتراف اخیستو او معلوماتو راټولولو لپاره، د نورو شکنجو ترڅنګ، دوی ته د وژل کېدو، اعدام، سنګسار او ژوندي خښولو ګواښونه هم کړي دي. د زندانیانو د اعدام یا د هر ډول وژنې ګواښ، د رواني شکنجې له څرګندو مصداقونو څخه دی، چې د قربانیانو پر رواني روغتیا ډېر زیان واردوي.

120 . رواداري، له ۲۶ شمېره مرکه شوی، د مرکې نېټه؟
121 . رواداري، له ۷ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۷مه.
122 . رواداري، له ۳۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۱۷مه.
123 . رواداري، ۱۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۹مه.

لاندي روايتونه يوازې هغه بېلګې دي چې د دې ډول شکنجې ښکار شوي زندانيان يې بيانوي:

**«کله چې زه يې له لومړي ځايه بل زندان ته انتقالولم، ويل يې: اودس وکړه، لمونځ وکړه، چې در ته د مرګ سزا درکړو. ما ورته وويل چې نور څه نه دي را پاتې، که هر څه کوئ، زر يې وکړئ، ځکه دا دومره شکنجه نشم زغملی. وروسته مې کلمه ولوستله او د وژل کېدو انتظار مې ايست.»** [١٢٤]

بل قرباني هم ورته تجربه شريکوي:

**«د لومړۍ شپې وروسته چې زه يې شکنجه کړم، ويل يې: لمونځ وکړه، کلمه ووايه، سبا دې وژنو. ما هغه شپه بالکل خوب ونه کړ، يوازې په دې فکر وم چې سبا به څنګه وژل کېږم... بيا يو بل شکنجه کوونکی راغی، له جېبه يې چاړه را وايسته، ويې ويل: ستا غاړه پرې کوو، ته به حلال شې. چاړه يې زما د سترګو مخې ته د خپل لاس پر ورغوي کېښوده او ويې ويل: وګوره، څومره تېره ده.»** [١٢٥]

لکه څنګه چې مخکې هم يادونه وشوه، د قربانيانو د رواني شکنجې يوه عامه طريقه دا وه چې هغوی ته به د اعدام ګواښ کاوه. په دې اړه د بشر حقوقو يو فعال وايي:

**«ټوپک يې زما پر سر نيولی و او ويل يې: که اعتراف ونه کړې، همدلته دې وژنو. ويل يې: تا چې د امارت خلاف عمل کړی، ژر به اعدام شې.»** [١٢٦]

يو بل مرکه شوی هم ورته تجربه لري:

**«په خپل منځ کې يې ويل: د دې سړي وژل روا دي، بايد اعدام شي، چې نورو ته عبرت شي، څو نور زموږ د دولت بدنامولو لپاره اعتراض ونه کړي. بيا يو تن راغی، راته ويې ويل: دا درته د زړه سوي له مخې وايم، سبا حقيقت ووايه، که نه اعدام به شې.»** [١٢٧]

د دې څېړنې د مرکه شويو له روايتونو داسې څرګندېږي چې د قربانيانو د وژلو ګواښ يوه عامه کړنلاره وه چې پر بېلابېلو تورونو باندې نيول شويو کسانو باندې تطبيق شوې ده. لکه څنګه چې طالبانو يو شمېر معترضې ښځې، چې بندي کړې يې وې، د ژوندي خښولو او سنګسارولو ګواښ يې ورته کړی و:

**«ښځينه ساتونکو به موږ ته ويل: چمتو شئ، ژوندۍ به مو خښوو، سنګسار به شئ. کله به يې ويل: د پښو تلو باندې به مو ووهل شئ، بيا به پر مالګو باندې ګرځئ.»** [١٢٨]

124 . رواداري، ۱۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۷مه.
125 . رواداري، ۷ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۷مه.
126 . رواداري، ۲۴ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۴مه.
127 . رواداري، ۲۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۱مه.
128 . رواداري، ۲۵ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۰مه.

همداراز، یوه بله معترضه ښځه وایي:

**«سرببېره پر دې چې به يې ويل تول ستا د کورنۍ غړي، حتی پلار او مور دې، مور پلچرخي زندان ته راوستي دي، ما ته يې د سنګسارولو ګواښ هم کاوه او ويل به يې: ژر به سنګسار شې.»** [129]

### ۳. د کورنۍ د غړو د وژلو او سر پرېکولو ګواښ

د کورنۍ د غړو د وژلو یا زیان رسولو ګواښ، که قصداً او د اعتراف یا ارعاب لپاره تر سره شي، د رواني شکنجې یوه جدي بڼه ده او د شکنجې د مخنیوي کنوانسیون د یوې مادې له مخې په کلکه منع شوې ده؛ ځکه دغه عمل نه یوازې د قرباني انساني کرامت تر پښو لاندې کوي، بلکې پر هغه د شدیدو رواني کړاوونو بار هم اچوي. [130]

**د مرکه شویو کسانو څخه ۴ ویلي چې د طالبانو استخباراتي ارګانونو د دغو کسانو د کورنۍ غړو ته د وژلو او سر پرېکولو ګواښ کړی دی.**

**«راته به يې ويل چې اعتراف وکړه، که يې و نکړې نو د کورنۍ غړي به دې ووژنو. د کورنۍ یوه غړي سره چې بهر يې ژوند کاوه تلفني اړيکه نيولې وه او ويل يې چې که د کورنۍ د غړو د موقعيت معلومات رانکړې د کورنۍ غړو ته دې خطر شته؛... وروسته يې وويل که د نيولو خبر مو له رسنيو لرې نکړئ، د کورنۍ غړي به مو ووژنو.»** [131]

په بله پېښه کې طالبانو یو بل قرباني د اعتراف او معلوماتو د ترلاسه کولو په موخه په لاندې ډول شکنجه کړی دی:

**«د دريمې شپې په جريان کې چې د تحقيق خونې ته يې بوتلم، زما د ماشومانو انځورونه يې راښودل او ويل يې که هغوی در باندې ګران وي اعتراف وکړه چې د کوم هېواد جاسوس يې او د چا له خوا لارښوونه درته کېږي. هغه شېبه مې وضعيت ډېر خراب و؛ له ژړا سره مې هغوی ته په عاجزۍ وويل ماشومانو ته مې زيان مه رسوئ. ما وويل که اعتراض جرم هم وي، هغه مې کړی دی. خو هغوی هېڅ ونه ويل؛ په رښتيا يوه وېروونکې شپه مې تېره کړه، عقل مې له لاسه ورکړی و او ځان مې نشو کنټرولولی. حتی په مرګ راضي وم.»** [132]

همدارنګه، په بل مورد کې طالبانو قربانیانو ته د هغوی د ماشومانو د سرونو د پرېکولو ګواښ هم کړی چې د رواني شکنجې تر ټولو بوګنوونکی ډول دی:

**«ويل به يې چې ستا زوی به ونيسو او سر به يې ستا پر وړاندې پرې کړو؛ کله چې مې دا صحنه رایاده شي، زړه مې مې بد شي.»** [133]

129 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۸مه.
130 . د شکنجې د مخنیوي کنوانسیون، لومړۍ ماده..
131 . رواداري، ۳۴ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۰مه.
132 . رواداري، ۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۱۵مه.
133 . رواداري، ۱۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۷مه.

### ٤. د کورنۍ د غړو د نیولو او ځورولو ګواښ

د رواني شکنجې یوه بله بڼه، لکه څنګه چې مرکه شویو کسانو ویلي، د قربانیانو د کورنۍ د غړو د نیولو ګواښ و. په ځینو مواردو کې طالبانو یواځې ګواښ نه بلکې عملي اقدام هم کړی او د قربانیانو کورنۍ یې د وېرې او رواني فشار د زیاتولو لپاره په رښتیا هم نیولي دي.

**له دې ډلې، ۹ کسانو ویلي چې د طالبانو د استخباراتو لخوا د تحقیق پر مهال په نیولو تهدید شوي یا ځورول شوي دي. دا کړنې طالبانو په قصدي توګه د اعتراف اخیستو لپاره کارولي دي.**

لکه څنګه چې یو قرباني په دې اړه ویلي:

**«راته ویل یې که د کورنۍ غړو باندې دې زره خوږیږي، باید رښتیا ووایې. که یې و نه وایې، موږ مو د استوګنې ځای ښه پېژنو او په اسانۍ سره دې کورنۍ بندیانولی شوو.»** [134]

همدا راز بل قرباني ویلي دي:

**«کله به یې ویل چې پلار دې راولو، له تا سره به یې بندي کړو. یا به یې ویل چې کورنۍ دې زموږ له لاسه نشي تښتېدلی، موږ د ټولو معلومات لرو.»** [135]

په ځینو پېښو کې، طالبانو د قربانیانو پر کورنیو واقعي فشار راوړی او هغوی یې د تحقیق لپاره نیولي دي:

**« دا چې د هغوی درواغجن اعتراف مې نه کاوه کوم چې هغوی یې غوښتنه کوله، نو پلار مې یې راوست او زما پر وړاندې یې شکنجه کاوه. زه اړ شوم هغه څه ورته برابر کړم چې غوښتل یې، تر څو پلار مې شکنجه نکړي.»** [136]

په ځینو نورو مواردو کې، شکنجه کوونکو له ګواښ نه هاخوا اقدامات کړي، او د کورنیو غړي یې په نورو بڼو هم ځورولي دي. د یو بل قرباني کیسه دا حالت ښه انځوروي:

**«د تحقیق وروستۍ مرحله زما د تلیفون کتنه وه. د عکسونو ګالري یې خلاصه کړه او ټول عکسونه یې وکتل، حتا د کورنۍ انځورونه مې. چې زما د ښځې عکس یې ولید، یوه طالب بل ته وویل دا خو ښکلې ښځه لري... ویې ویل امر ورکړو چې راوستل شي، له هغې هم تحقیق وکړو. دا خبره راته ډېره درنه تمامه شوه، له ځان سره مې وویل زه د څومره بې‌غیرته خلکو لاس ته لوېدلی یم... څو ورځې وروسته چې کورنۍ مې د لیدو لپاره راغله، د ښځې او اولادونو مې پوښتنه مې وکړه. راته یې وویل طالبانو هغوی څو ځله د تحقیق لپاره بوتللي او ځورولي یې دي. له همدې امله مجبوره شول چې له هېواده بهر وتښتي.»** [137]

134 . رواداري، ۲۶ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپریل ۲۵مه.
135 . رواداري، ۳۰ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د می ۳مه.
136 . رواداري، ۳۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د می ۲۵مه.
137 . رواداري، ۲۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپریل ۲۱مه.

يو بل قرباني يوه متفاوته تجربه بيانوي:

«راته ويل يې كه اعتراف ونه كړې، ښځه به دې طلاقه كړو، يا به يې فلاني ته وركړو. كله به يې ويل چې ستا نسل به ورک كړو.» [138]

## ۵. قومي او مذهبي سپكاوى او توهين

د دې څېړنې موندنې ښيي چې د قربانيانو قومي او مذهبي هويت د دوى پر وړاندې د تاوتريخوالي او شكنجې پر سختوالي مستقيم اغېز كړى.

**يو شمېر نيول شويو كسانو ويلي چې دوى، د فزيكي شكنجې ترڅنګ، د قومي او مذهبي سپكاوي هدف هم ګرځول شوي. له دې ډلې، اته كسانو څرګنده كړې چې له نيولو څخه تر پلټنو پورې، دوى تل د قومي او مذهبي توهينونو سره مخ ؤ. طالبانو دغه ډول سپكاوى د روحي فشار د زياتولو او د قربانيانو د تحقير لپاره كاراوه.**

هغه سپكاوى كوونكي عبارتونه لكه "هزاره كافر"، "هزاره لعنتي"، "هزاره فاحشه"، او "رافضي" هغه څه دي چې طالبانو د قربانيانو د سپكولو لپاره كارولي. يو قرباني وايي:

«يوازې د دې لپاره چې هزاره وم، سپكې خبرې يې راته كولې. ويل يې هر ډول تېرى درباندې روا دى... مطلق كافر يې بللم او ويل يې چې بايد زموږ مذهب ومنې». [139]

بل مركه شوي ويلي:

«له هماغه پيله يې ماته قومي او مذهبي بدې ردې ويلې، كافر او رافضي يې بللم. ويل يې چې كلمه دې زده ده؟ كله به يې اريستلم چې كلمه ووايه، بيا به يې ويل، نه ته كافر يې، دا بايد داسې ووايې». [140]


يو بل قرباني ويلي:

«هزاره يې راته ويل او كنځل يې كول، زما قوم ته يې سپكاوى كاوه، ويل يې چې تاسې دومره ارزښت نه لرئ چې يوه مرمۍ هم درباندې ضايع كړو. يوه مرمۍ هم درباندې ډېره ده.» [141]

د دوو نورو قربانيانو په بيان كې داسې راغلي دي:

«موږ يې د بندي كولو پر مهال له ترلو لاسونو او سترګو سره د استخباراتو رياست ته يوړو، هلته يې ساتونكو ته وويل چې د هزاره فاحشو ډله مو راوستلې». [142]

138 . رواداري، ۱۸مه شمېره مركه شوى، ۲۰۲۵ كال د اپريل ۲۸مه.
139 . رواداري، ۲۶ شمېره مركه شوى، ۲۰۲۵ كال د اپريل ۲۵مه.
140 . رواداري، ۳ شمېره مركه شوى، ۲۰۲۵ كال د اپريل ۲۸مه.
141 . رواداري، ۲۴ شمېره مركه شوى، ۲۰۲۵ كال د اپريل ۲۰مه.
142 . رواداري، ۲۹مه شمېره مركه شوى، ۲۰۲۵ كال د اپريل پر ۱۸مه.



«د تحقیق وروستۍ مرحله زما د تلیفون کتنه وه. د عکسونو ګالري یې خلاصه کړه او ټول عکسونه یې وکتل، حتا د کورنۍ انځورونه مې. چې زما د ښځې عکس یې ولید، یوه طالب بل ته وویل دا خو ښکلې ښځه لري... ویې ویل امر ورکړو چې راوستل شي، له هغې هم تحقیق وکړو. دا خبره راته ډېره درنه تمامه شوه، له ځان سره مې وویل زه د څومره بې‌غیرته خلکو لاس ته لوېدلی یم... څو ورځې وروسته چې کورنۍ مې د لیدو لپاره راغله، د ښځې او اولادونو مې پوښتنه مې وکړه. راته یې وویل طالبانو هغوی څو ځله د تحقیق لپاره بوتللي او ځورولي یې دي. له همدې امله مجبوره شول چې له هېواده بهر وتښتي.»

«د نیول کېدو پر مهال به یې موږ ته ویل: هزاره کافران، هزاره لعنتیان، او نور توهینونه. ویل یې تاسې کافران یئ، باید ووژل شئ.» [۱۴۳]

د دې برخې داستانونه ښیي چې قومي او مذهبي سپکاوی او توهین د فردي سپکاوي د وسیلې په توګه او پر قربانیانو د فشار واردولو د طریقې د یوې برخې په توګه کارېږي. دا چلندونه نه یواځې د تبعیض مصداق دی، بلکې د رواني شکنجې په زمره کې هم راتلای شي.

## ٦. د مذهبي مناسکو د ترسره کولو مخنیوی

که د مذهبي مناسکو د ترسره کولو مخنیوی عمداً، پر تبعیض ولاړ او د رواني درد او کړاو سره مل وي، نو کولای شي د رواني شکنجې یا ظالمانه، غیر انساني او سپکوونکي چلند څرګند مصداق وبلل شي. [۱۴۴] سره له دې، له مصاحبه شویو کسانو څخه پینځو تنو ویلي دي چې د بند پر مهال په خپلو مذهبي مناسکو کې آزاد نه ؤ، یا یېهم ورته لاسرسی نه درلود.

په دې اړه له دغو قربانیانو څخه یو تن ویلي دي چې:

«دوی له ما سره بشپړ تبعیضي چلند کاوه، زما د لمانځه د ادا کولو طریقې باندې به یې نیوکې کولې، بد چلند به یې کاوه، او ډېری وختونه یې زه دې ته مجبورولم چې له تشناب ته تلو او اودس کولو پرته لمونځ وکړم.» [۱۴۵]

یو بل قرباني داسې روایت کړی دی:

«د لومړیو دوو ورځو په اوږدو کې یې ما ته د لمانځه اجازه نه راکوله، وروسته له دویمې ورځې مې ورته وویل چې زه هم مسلمان یم، اجازه راکړئ چې تشناب ته لاړ شم، اودس وکړم او لمونځ وکړم. خو دوی ویل چې تاسې کافران یاست، ښکنځل او سپکاوی به یې کاوه.» [۱۴۶]

همداراز، یو بل قرباني چې د بند پر مهال د خپل مذهب او مذهبي باورونو خلاف د لمانځه اداء کولو ته مجبور شوی و، داسې څرګندونه کړې ده:

«زه دې ته مجبور وم چې له نورو زندانیانو سره یو ځای، په تړلو لاسونو او په یوه لیکه کې لمونځ وکړم. په شیعه مذهب کې په ورځ کې درې ځله لمونځ کېږي؛ خو زه دې ته مجبور وم چې له نورو زندانیانو سره په ورځ کې پنځه ځله، د هغوی د طریقې مطابق لمونځ وکړم. همداراز، دوی موږ د داعش له غړو سره په یو بندخونه کې اچولي وو، هغوی ډېر توندرو او خطرناک کسان ؤ، او موږ به د وېرې له امله د شپې خوب نه شو کولای.» [۱۴۷]

143 . رواداري، ۲۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپریل ۲۳مه.
144 . بندیانو سره د چلند لپاره د ملګرو ملتونو سازمان حد اقل معیاري قواعد، ۶۵ او ۶۶ اصول.
145 . رواداري، ۱۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپریل ۲۹مه.
146 . رواداري، ۱۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپریل ۲۷مه.
147 . رواداري، ۲۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپریل ۲۳مه.

د دې څېړنې يو بل مرکه شوی کس چې د عبادت په طريقه کې د اختلاف له امله يې د يو زنداني شکنجه او ورسره ناوړه چلند په خپلو سترګو ليدلی، داسې ويلي دي:

**«په نظارت خونه کې زموږ سره يو تن شيعه زنداني و، چې د خپلو مذهبي باورونو پر اساس يې د لمانځه پر مهال لاسونه پرانيستي ساتل، يوازې د همدې دليل له مخې تر سپکاوي لاندې راغی او په پای کې په سخت ډول شکنجه شو.» [۱۴۸]**

## ۷. په انفرادي تمبو کې ساتنه

زندانيانو سره د سلوک اړوند د ملګرو ملتونو د حداقل معيارونو د قواعدو ۴۴ اصل څرګندوي چې پرته له انساني تماس څخه د زندانيانو ساتل د ورځې ۲۲ ساعتونو يا تر هغه زيات وخت لپاره منعه دي.[۱۴۹] همداراز، د شکنجې د مخنيوي کنوانسيون د لومړۍ مادې له مخې، که انفرادي تورو تمبو ته د زنداني اچول، د شديد رواني يا جسمي درد، د معلوماتو تر لاسه کولو يا سزا ورکولو په موخه وي، نو دا په ښکاره ډول شکنجه ګڼل کېږي.[۱۵۰] له دې سره، له مصاحبه شويو کسانو څخه راټول شوي روايتونه ښيي چې طالبانو عمداً او د سخت درد، شکنجې، رواني فشار او اعتراف تر لاسه کولو په موخه، قربانيان د اوږدې مودې لپاره، په غير انساني شرايطو کې، په انفرادي تورو تمبو کې ساتلي دي.

**لکه څنګه چې ۲۱ تنو له ۳۴ مصاحبه شويو کسانو څخه څرګنده کړې چې هغوی د نيول کېدو وروسته، اوږده موده په انفرادي تورو تمبو کې، د نامناسبو شرايطو لاندې او پرته له لومړنيو روغتيايي اسانتياوو تېره کړې ده.**

يو مرکه شوی چې د مدني فعاليتونو له امله بندي شوی و، ويلي دي:

**«زه په ترلو سترګو د استخباراتو ۴۰ رياست ته راوړل شوم او په جزايي توګه مې هلته ۳۸ ورځې د انفرادي تورو تمبو شاته تېرې کړې. کوټه تنګه او وړه وه چې نه مې شول کولای پښې مې غځولې وای.» [۱۵۱]**

همدا راز يو بل مرکه شوي ويلي چې:

**«زما نږدې يوه مياشت د انفرادي تورو تمبو شاته تېره شوه. وروسته يې يوې زيرزميني ته بوتلم چې هلته نورې معترضې نجونې هم زنداني وې. درې نجونې د ښځو لپاره د انګليسي کورس او ورزشي ټولنې د جوړولو په تور بندي شوې وې.»[۱۵۲]**

د انفرادي تورو تمبو شاته د اوږدې مودې لپاره د خلکو ساتل د شکنجې او ناوړه چلند ښکاره مصداق دی او په غير صحي شرايطو کې دوام ورکول دوه برابره تخلف ګڼل کيږي. د دې راپور موندنې ښيي چې د پام وړ شمېر بنديان په دې ډول شرايطو کې ساتل شوي دي.

148 . رواداري، ۳۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل پر ۱۷مه.
149 . بنديانو سره د چلند لپاره د ملګرو ملتونو حد اقل معياري قواعد، ۴۴ اصل.
150 . د شکنجې د مخنيوي کنوانسيون، لومړۍ ماده.
151 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د مۍ ۳مه.
152 . رواداري، ۳۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د مۍ ۲۴مه.

یو مرکه شوي په دې اړوند داسې ویلي دي:

**«ما ته‌وله یوه اونۍ د انفرادي تورو تمبو دننه تېره کړه چې پرته له یو زوړ فرش بل هېڅ پکې نه ؤ. مخکې له ما چې څوک پکې ساتل شوي ؤ، هلته یې ادرار کړی و، ډېر بد بوی کاوه، تر دې چې ما نشوای کولای تنفس کړم. په ۲۴ ساعتونو کې درې ځله به یې تشناب ته اجازه راکوله، خو له دې زيات هرکله چې مې غوښتنه کوله، نه یې منله. هوا تر بل هر وخته ډېره سړه وه او زه مجبور وم چې لکه د نورو په څېر هلته ادرار وکړم... وضعیت ډېر خراب و.»** [153]

د ښځو د حقونو یو فعال چې د ښوونځیو د دروازو په تړل کېدو د اعتراض له امله نیول شوی و، داسې ویلي دي:

**«۳۹ ورځې مې په انفرادي تورو تمبو کې تېرې کړې، هغه ځای د یوې طویلې نه هم ډېر خراب او ککړ و. هلته یوازې یو زوړ فرش و چې وینه، غوړي او خواړه پرې توی شوي ؤ او بد بوی یې کاوه. د کوټې چت یې د غنو له جالونو ډک و.»** [154]


## ۸. پرله‌پسې پلټنې او جبري اعتراف

پرله‌پسې پلټنې او جبري اعترافونه، که په هر ډول وي که فزیکي وي یا رواني شکنجې وي، د بشر حقونو په ښکاره ډول سرغړونه ده، د عادلانه محاکمې اصولو پر خلاف چلند دی او له نړیوالو سندونو سره په ټکر کې دي. د یادو سندونو له مخې، پرله‌پسې او اوږدمهاله تحقیقات د رواني شکنجې له هغو تخریبي ډولونو څخه دي چې هدف یې د قرباني د ارادې تضعیف او رواني فشار رامنځته کول دي.[155] که دا اقدامات د معلوماتو ترلاسه کولو، جبري اعتراف یا تنبیه په موخه وي، نو دا د شکنجې کنوانسیون د لومړۍ مادې له مخې سرغړونه بلل کېږي.[156]

د دې څېړنې موندنې ښيي چې طالبانو له هغو بندیانو څخه چې له رواداري سره یې مرکې کړې دي، په تکراري ډول او د اجباري اعتراف د تر لاسه کولو په موخه ورڅخه پلټنې کړې دي. د ځینو قربانیانو څخه د پلټنو شمېر په یوه ورځ کې لسو ځلو ته هم رسېدلی، چې په دې ډله کې تر ډېره هغه معترضې مېرمنې او د بشر د حقونو مدافعان شامل دي چې پرله‌پسې او د بېلابېلو رواني او فزیکي فشارونو لاندې پوښتنې ترې شوې دي.

**«ولې مو د اسلامي امارت پر ضد بغاوت کړی؟»، «ولې د اسلامي نظام پر وړاندې راپاڅېدلې یاست؟»، «د کوم هېواد له لوري مالي ملاتړ ترلاسه کوئ؟»، «د کوم هېواد جاسوسي کوئ؟»، «ولې بهرنیانو او کفارو ته راپورونه چمتو کوئ؟»، «ولې مو د ښځو چادري ته اور ورته کړی؟»، «د کوم شخص لپاره کار کوئ؟»، «په څو ښځینه اعتراضونو کې مو برخه لرله؟»، «ولې مو له امریکایانو او بهرنیانو سره کار کړی؟»، «ولې مو فحشا او زنا په ټولنه کې ترویج کړې؟»، «ولې نجونې د زده‌کړې لپاره هڅوئ چې فاحشې شي؟»، «ولې د دموکراسۍ او بشر د حقونو په نوم کفري کار کوئ؟»، «له کوم سازمان او رسنۍ سره کار کوئ؟» او «ستاسې مشران او همکاران څوک دي؟» دا هغه پوښتنې دي چې د طالبانو محققین د تحقیق پر مهال قربانیانو ته تکرار کړې دي.**

153 . رواداري، ۲۲ مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۳مه.
154 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۸مه.
155 . استامبول پروتوکول، ۴ فصل، B.1.d برخه
156 . د شکنجې د مخنیوي کنوانسیون، لومړۍ ماده.



«۳۹ ورځې مې په انفرادي تورو تمبو کې تېرې کړې، هغه ځای د يوې طويلې نه هم ډېر خراب او ککړ و. هلته يوازې يو زوړ فرش و چې وينه، غوړي او خواږه پرې توی شوي ؤ او بد بوی يې کاوه. د کوټې چت يې د غڼو له جالونو ډک و.»

مرکه شویو دا هم څرګنده کړې چې طالبانو د مخکې یاد شویو شکنجو له بڼو څخه په استفادې، دوی دې ته اړیستي چې د پلټونکو له ذهنونو سره سم، د هغوی د توقع مطابق ځواب ورکړي او پر هغو اعمالو اعتراف وکړي چې هېڅکله یې نه دي ترسره کړي.

د اوږدې مودې پلټنې زیاتره د استخباراتو اداري لهخوا ترسره شوي، او په همدې لړ کې دوه تنه مرکه کوونکي وايي چې د طالبانو د یادې اداري په نظارتخونو کې له دوې څخه سره بهرنیو کسانو هم تحقیق کړی دی.

سره له دې، له ۳۴ تنو مرکه کوونکو څخه ۲۵ تنه وايي چې د طالبانو د شکنجې او بدسلوکۍ تر فشار لاندې یې اجباري اعترافونه کړي، چې له دې ډلې، له ۸ تنو څخه هممهاله لیکلی او ویدیویي اعترافونه هم اخیستل شوي دي.

یو تن د زدهکړې فعال په دې اړه داسې روایت کړی دی:

**«ماته یې وویل چې لاس او مخ دې په اوبو ومینځه او د کامرې مخې ته ووایه چې ما د جمهوریت پر مهال د فحشا د ترویج لپاره کار کاوه، د ښځو د حقونو د ملاتړ او د اسلامي امارت د بدنامولو لپاره مې له بهرنیو هېوادونو پیسې اخیستې. دا کار به نور نه کوم او د اسلامي امارت له مشرتابه او د افغانستان له خلکو بښنه غواړم.»** [۱۵۷]

یوه بله مرکه کوونکې چې له معترضو ښځو څخه ده، داسې ویلي دي:

**«د ۲۱ ورځو تحقیق وروسته، دوی په استخباراتو کې له ما څخه دوه جبري اعترافونه، یو لیکلی او بل ویدیویي واخیستل... هغوی وویل ووایه چې دا اعتراضونه مې د دې لپاره کړي چې بهر ته لاړه شم، د مقاومت جبهې په ګټه او د پیسو د ترلاسه کولو لپاره. ما چیغې کړې، پر ځمکه کېناستم او ورته مې وویل چې ما هېڅکله له بهر څخه پیسې نه دي اخیستې، له هېڅ نظامي جبهې او سیاسي ځېرو سره مې اړیکه نه لرله. زموږ حرکت خپله د ولس له منځه راپورته شوی او موږ یوازې د زدهکړې، تعلیم او د ښځو د حقونو لپاره اعتراض کړی. هغوی وویل که اعتراف ونهکړې، یو کال به دې بند تعیین کړو. آخر مې مجبوراً اعتراف وکړ.»** [۱۵۸]

یوه بله مرکه شوې هم وايي:

**«زه مجبوره شوم هغه متن چې مخکې یې راته راکړی و، ولولم، طالبان وستایم او له خپلو اعمالو پښېماني وښیم. هغوی زما نه فلم واخیست، د ټوپک په میل یې زما اوږه ووهله او په زور یې ماسک زما له مخه لرې کړ.»** [۱۵۹]

همداراز، په ډېرو مواردو کې، د بشر د حقونو مدافعان، په ځانګړې توګه معترضې ښځې، نه یوازې جبري اعتراف ته اړ شوې دي، بلکې د طالبانو له مشرانو څخه بخښنې غوښتلو ته هم اړیستل شوي دي.

157 . رواداري، ۲۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۱مه.
158 . رواداري، ۳۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د می ۲۴مه.
159 . رواداري، ۲۵ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۰مه.

> «زما نه په زور دوه ویډیویي فلمونه واخیستل شول، چې په یوه کې مې د طالبانو له مشر ملا هبت الله نه بخښنه وغوښتله، او په بله کې مې دا اعتراف وکړ چې ما د طالبانو د سیاستونو پر ضد په مظاهرو کې برخه اخیستې، او وومې ویل چې دا کار مې د اسلامي امارت د مخالفینو د فریب او لارښوونې له مخې کړی، او زه پښېمانه یم.» [۱۶۰]

هغه اعترافونه چې د شکنجې په نتیجه کې له قربانیانو ترلاسه شوي، وروسته د طالبانو په محکمو کې د هغوی د محاکمه کولو او مجازات بنسټ گرځېدلي دي، حال دا چې دا عمل د بشر د حقونو له نړیوالو اسنادو، په ځانگړي ډول د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال تړون له اوومې مادې سره په ښکاره تضاد کې دی، او د عادلانه محاکمې ښکاره نقض بلل کېږي.

### ۹. په پټو زندانونو کې ساتنه او غیر انساني شرایط

د بشر د حقونو د نړیوالو اسنادو له مخې، په ځانگړي ډول د بندیانو سره د چلند په اړه د ملگرو ملتونو د حداقل معیارونو د اصولو له مخې، هر توقیف شوی کس باید د انساني کرامت د مراعتولو په چوکاټ کې، په مناسبو شرایطو کې وساتل شي.[۱۶۱] د اشخاصو ساتنه په غیر رسمي، پټو یا شخصي زندانونو کې په کلکه توگه منعه شوې ده.[۱۶۲] له همدې امله، د توقیف شویو کسانو په غیر انساني شرایطو کې او په پټو یا غیر رسمي زندانونو کې ساتل، د شکنجې یا ظالمانه، غیر انساني او سپکوونکي چلند روښانه مصداق گڼل کېږي.

د دې راپور د معلوماتو له مخې، د ۳۴ مرکه شویو کسانو له ډلې، ۴ تنو څرگنده کړې چې دوی په بېلابېلو وختونو کې په شخصي او غیر رسمي زندانونو کې ساتل شوي دي. د دغو کسانو د څرگندونو پر بنسټ، طالبانو هغوی په داسې غیر انساني شرایطو کې ساتلي، چې له دوامدارې شکنجې او بد سلوک سره هممهاله ۇ. یو له دغو کسانو د خپل توقیف ځای د غیر انساني حالتونو توصیف داسې کړی دی:

> «تر نیول کېدو وروسته، زه یو زوړ کور ته یووړم، داسې مې انگېرله چې شاوخوا یې بل کور نشته. هلته اووه یا اته وسلوال کسان موجود وو، او زه د ۲۱ ورځو لپاره د همدې کور په یوه کوچنۍ کوټه کې بندي وم. د دوو شپو او ورځو لپاره یې د تشناب استعمال نه منعه کړی وم. هر کله چې مې چیغې کولې، راتلل او د ټوپک په قنداق به یې وهلم، او ویل به یې: دلته خپل ادرار او غایطه مواد خوره ه... له بله پلوه، رواني فشارونه خورا سخت ۇ، او زه مجبور وم چې همالته، د خپلو جامو دننه، رفع حاجت وکړم. وروسته یې زه یو بل ځای ته بوتلم، چې یو زیر زمیني وه، هلته دننه یو تشناب او یوه گدوډ پخلنځی و، چې یو څه چټل لوښي هم پکې موجود ۇ. دې ځای دوې کوټې لرلې، او پکې د شکنجې مختلف وسایل لیدل کېدل، لکه ځنځیرونه، زولانې، برقي ډنډه، او ماتې څوکۍ... دا دواړه ځایونه په عملي توگه پټ او غیر رسمي توقیف خونې وې.»[۱۶۳]

160 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۸مه.
161 . بندیانو سره د چلند لپاره د ملگرو ملتونو حد اقل معیاري قواعد، لومړی اصل.
162 . د اجباري ترې تم کولو کنوانسیون، ۱۷مه ماده.
163 . رواداري، ۱۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۷مه.

یو پخوانی نظامي چې د طالبانو په شخصي زندانونو کې بندي او شکنجه شوی، داسې بیانوي:

> «زه یې په شخصي زندانونو کې توقیف کړی وم. له نیول کېدو وروسته یې زه زموږ له کلي لږ لرې یو غره ته نږدې ځای کې بندي کړم، چې د یوې پولیسې پوستې غونډې ښکارېده، ځکه وسلوال کسان او یو آشپز هم هلته موجود و. بیا یې زه له هماغه ځایه په شخصي موټر کې بل ځای ته یووړم، چې نږدې درې ساعته واټن یې درلود. د دوی له خبرو مې داسې درک کړه چې دا بل ولایت و، او هلته یې زه یو شخصي زندان ته وسپارلم. څو شپې وروسته یې بیا بېرته هماغه لومړني ځای ته یووړم.» [١٦٤]

یو بل مرکه شوی هم داسې معلومات وړاندې کوي:

> «زموږ په بندخونه کې یو زنداني و چې د سمنګانو له ولایته راغلی و. ویل یې چې د طالبانو د یوه سیمه‌ییز مسؤل په سپارښتنه نیول شوی او د ۴۰ ورځو لپاره د شکردرې ولسوالۍ په یوه شخصي زندان کې توقیف او شکنجه شوی دی. وروسته له ۴۰ ورځو، نوموړی د ولسوالۍ مقام ته وسپارل شو، او له هغه ځایه د کابل د استخباراتو ریاست نظارت خونې ته انتقال شو.»[١٦٥]

## جنسي ځورونه او آزار

جنسي ځورونه د شکنجې له جدي او خطرناکو بڼو څخه شمېرل کېږي چې قربانیانو ته ژور او نه هېرېدونکي زیانونه اړوي. دا ډول شکنجه فزیکي او رواني اړخونه لري او قرباني ته شدید جسمي او رواني درد او رنځ رسوي. که جنسي ځورونه د اعتراف اخیستلو، معلوماتو ترلاسه کولو، سزا ورکولو، وېرولو، یا قرباني د سپکاوي او تحقیر په موخه ترسره شي، نو دا د شکنجې له څرګندو او پیاوړو مصداقونو څخه شمېرل کېږي، لکه څنګه چې د شکنجې د مخنیوي کنوانسیون د لومړۍ مادې له مخې تعریف شوې دی.[١٦٦]

استانبول پروتوکول، د انسان بربنډول، د بدن لمسول او جنسي سپکاوی، د جنسي شکنجې او رواني شکنجې له جملې څخه ګڼلي دي.[١٦٧] له دې سره سره، نړیوال اسناد دولتونه مکلف بولي چې د ښځو ساتنه وکړي، په ځانګړي توګه د بندي کولو پر مهال، د هر ډول جنسي تاوتریخوالي څخه خوندي اوسي.[١٦٨]

**د دې څېړنې د موندنو له مخې، له اوو ښځینه مرکه‌کوونکو څخه شپږو څرګنده کړې چې د فزیکي او رواني شکنجې تر څنګ، د طالبانو د استخباراتو او پولیسو له‌خوا د جنسي آزار قرباني شوې دي. «د بدن لمسول»، «بربنډول» او «جنسي توهین» د هغو لارو له جملې دي چې طالبانو له هغه لارې قربانیان ځورولي دي.**

164 . رواداري، ۱۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۹مه.
165 . رواداري، ۲۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۳مه.
166 . د شکنجې د مخنیوي کنوانسیون، لومړۍ ماده.
167 . استامبول پروتوکول، ۴ فصل، B.1.e و B.1.d برخه.
168 . ښځو سره د تبعیض د له منځه وړلو کمېټه، ۱۹ شمېره عمومي توصیه (۱۹۹۲)، ۶، ۷ او ۹ بندونه، او ۳۵ شمېره عمومی توصیه، (۲۰۱۷)، ۲۴ (الف) او ۳۸ بندونه.

دا ټولې قربانیانې ښځینه اعتراض کوونکې دي او پنځه تنه یې د هزاره او شیعه مذهبي-قومي اقلیت پورې اړه لري. ځینې قربانیان هممهاله د یادو ټولو ښو جنسي آزار تجربه کړې ده.

## ۱. بربنډول

د دوو ښځینه مرکه شویو په وینا، د نیولو پر مهال طالبانو دوی بربنډې کړې دي. دا کړنې چې د سپکاوي، وېرولو او سزا په موخه ترسره شوي، دا ښيي چې طالبان د قربانیانو د شکنجې لپاره له هېڅ لارې ډډه نه کوي. یوه قرباني چې د طالبانو لهخوا د آزار تجربې د بیان پر مهال ژړل او نه یې شوای کولای چې خبرې وکړي، داسې بیان ورکړی دی:

«هغه شپه ډېره وېروونکې وه، حتا په اړه فکر کول او خبرې کول زما لپاره سخت او دردوونکې دي. که څه هم له هغې ورځې ډېر وخت تېر شوی، خو لا هم نشم کولای وواېم چې پر ما څه تېر شول. له پنځو څخه ډېر نارینه چې یونیفورمونه او محلي کالي یې پر تن وُ، راته وویل چې باید خبرې وکړي او د خپلو همکارانو په اړه معلومات ورکړې. چې کله مې ورته وویل چې هېڅوک نه پېژنم، زه یې بربنډه کړم او له ما یې ویډیو واخیسته.» [169]

د بلې مرکه شوې په روایت کې، جنسي آزار له هویتي تحقیر او توهین سره یوځای شوی دی:

«یوې ښځینه ماموري زه یوې کوچنۍ خونې ته بوتلم او ټول کالي یې رانه وویستل. زما ټول بدن‌یې تلاشي کړ. یوه شېبه مې ولیدل چې خونه کمره لري، او زه هلته بربنډه ولاړه وم، چې کله مې اعتراض وکړ، هغې وویل: تاسو هزاره نجونې ډېرې بدنامې او بد اخلاقه یاست. ما دي بدن ځکه وکتلو، چې سبا به خپل بربنډ عکس فیسبوک ته خپرۍ او وایې به چې طالبانو ظلم دربانډي کړی.» [170]

## ۲. د بدن لمس کول

له اوو ښځینه مرکه‌کوونکو څخه یوې یې ویلي چې طالبانو د فزیکي شکنجې پر مهال، د دوی بدن لمس کړی او ځورولي یې دي. دا روایت د شکنجه کوونکو لهخوا د تاوتریخوالي خورا بوګنوونکې بڼه څرګندوي:

«ډېره بده او ناراحته کوونکې صحنه وه، کله چې یې د زندان چت پورې ځوړنده کړې وم، فزیکي شکنجه یې هم راکړه. نارینه شکنجه کوونکي زما بدن ته لاس وروړ، خندل یې، یو ویل د دې ویښتان وګورئ، بل ویل بدن یې څومره سپین دی. ما دومره چیغې وهلې وې چې غږ مې ټپ شوی و.» [171]

همدارز، بلې مرکه شوې هم د شکنجې او تحقیق پر مهال د احتمالي جنسي آزار یادونه کړې ده:

«کله چې د شکنجې له سختوالي بې‌هوښه کېدم او بیا بېرته په هوښ راتلم، احساس مې کاوه چې ګریوان او جامې مې څیرل شوي دي. ډېرې سختې او توری

169 . رواداري، ۸ شمېره مرکه شوې، ۲۰۲۵ کال د اپریل ۱۵مه.
170 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوې، ۲۰۲۵ کال د اپریل ۲۸مه.
171 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوې، ۲۰۲۵ کال د اپریل ۲۸مه.



و يې پوښتل چې د کوم هېواد لهخوا ملاتړ کېږي؟
ما وويل هېڅ هېواد زما ملاتړ نه کوي. زموږ توقع دا
وه چې لږ تر لږه يو يا دوه ښځې به مو په کابينه کې
حضور ولري. هماغه شېبه يو تن پر مخ څپېړه راکړه
او ويې ويل ته رنډۍ، فاحشه، غواړې زموږ حکومت
بدنام کړې؟...

ورځې وې چې په زندان کې مې تېرې کړې.» [۱۷۲] د یادونې وړ ده چې دغه مرکه شوې د خپلو خبرو په بله برخه کې د طالبانو لهخوا د جنسي تېري ګواښ ته هم اشاره کړې ده.

## ۳. کلامي جنسي ځورونه

د دې تحقیق له مرکه شویو ځخه شپږو کسانو ویلي چې د بند پر مهال په تکراري توګه د طالبانو لهخوا له جنسي توهین او سپکاوي سره مخ شوي دي. د دغو کسانو په وینا، دا چلند د نیولو له شېبې ځخه د بند تر پایه روان و او د توقیف د تحقیرووونکې او له تاوتریخوالي د ډکې فضا برخه وه. یوه قرباني چې د طالبانو پر ضد په یوه مظاهره کې د ګډون له امله نیول شوې وه، داسې وایي:

«زه، د انسان په توګه شرمېږم چې هغه سپکې خبرې بیان کړم چې دوی راته کولې. تر ټولو ساده ښکنځل یې (فاحشه) وه. که تحقیق ته یې بیولم (فاحشه)، که پوښتنه یې کوله (فاحشه) که یې راته ویل کښېنه (فاحشه) او که یې ویل پاځه، بیا هم (فاحشه). سره له دې چې دوی زما ټول مشخصات، نوم، تخلص پېژندل، خو هېڅکله یې ما ته په نوم غږ نه کاوه او لکه له یو بندي په څېر چلند یې نه کاوه. ځو واري یې راته وویل: تاسو څومره بېغیرته خلک یاست! سړی نه لرئ چې تاسې وساتي او راټول مو کړي؟» [۱۷۳]

بلې مرکه شوې هم د طالبانو لهخوا د دوامداري جنسي ځورونې یادونه کړې ده:

«دوی ډېر عجیبه خلک ؤ، شپه به د چای ګیلاس په لاس راغلل، د بندخونې دروازه به یې راخلاصه کړه، زه به یې ځورولم. ما ته به یې کتل، یو بل ته یې خندل او جنسي ښکنځل یې راته کول. ډېرې سپکې او شرموونکې خبرې یې کولې چې زه یې له بیانولو شرمېږم. ویل یې ته له کافرانو سره کار کوې؟ فکر یې کاوه چې زه جنسي خدمتونه وړاندې کوم، او له همدې انګېزې سره به راتلل. داسې احساس مې کاوه چې زه د یوې بلې سیارې یم او هغوی د بلې سیارې.» [۱۷٤]

لکه مخکې چې اشاره ورته وشوه او د دوو ښځینه قربانیانو په روایت کې هم تایید شوه، طالبانو د اعتراض کوونکو ښځو د سپکاوي او توهین لپاره په تکراري توګه ناوړه او سپکوونکې کلمې کارولې دي:

«...ویې ویل ته فاحشه او کافره رنډۍ یې، له بهرنیو هېوادونو پیسې اخلې.» [۱۷۵]

بله قرباني ویلي دي:
«و یې پوښتل چې د کوم هېواد لهخوا ملاتړ کېږې؟ ما وویل هېڅ هېواد زما ملاتړ نه کوي. زموږ توقع دا وه چې لږ تر لږه یو یا دوه ښځې به مو په کابینه کې حضور ولري. هماغه شېبه یو تن پر مخ څپېړه راکړه او ویې ویل ته رنډۍ فاحشه، غواړې زموږ حکومت بدنام کړې؟...» [۱۷٦]

172 . رواداري، ۲۶ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۵مه.
173 . رواداري، ۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۱۵مه.
174 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۸مه.
175 . رواداري، ۳۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د مې ۲۴مه.
176 . رواداري، ۲۹ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۱۸مه.

# د نورو کسانو د شکنجې لیدنه

کله چې یو څوک قصداً د بل انسان د شکنجې لیدو ته اړ ایستل شي، دا عمل د رواني شکنجې ښکاره مصداق ګڼل کېږي. استانبول پروتوکول ټینګار کوي چې د نورو کسانو د شکنجې لیدلو ته اړ ایستل، که فزیکي درد هم نه لري، خو د سخت روحي کړاو له امله یو ډول نوې شکنجه بلل کېږي.[177] که څه هم د یو شمېر مرکه شویو په روایتونو کې د قصد عنصر روښانه نه دی، خو د داسې یو چاپېریال موجودیت، چې انسانان پکې شکنجه کېږي، د شاهدانو لپاره ظالمانه، غیرانساني او سپک کوونکی چلند ګڼل کېږي او د آزادۍ د سلب په ځایونو کې د شکنجې د شتون سند ګڼل کېږي.

**د دې راپور د موندنو له مخې، له ټولو مرکه شویو څخه ۱۹ تنو ویلي چې د نورو زندانیانو د شکنجې مستقیم یا غیر مستقیم شاهدان ؤ. له دې جملې ۸ تنو ویلي چې د نورو زندانیانو شکنجه یې له نږدې په سترګو لیدلې او ۱۱ نورو ویلي چې د قربانیانو فریاد او چیغې یې د شکنجې پر مهال اورېدلې دي.**

یو قرباني چې د نورو زندانیانو د شکنجې مخامخ شاهد و، داسې بیان ویلي دي:

> «د استخباراتو په نظارت خونه کې چې زه بندي وم، هغوی یو تقریباً ۳۷ کلن سړی او یو ۱۴ یا ۱۵ کلن هلک د غلا په تور راوستل. بیا له هغو څخه یو د تلیفون له لارې له یو کس سره خبرې وکړې او د یو بل کس نوم یې یاد کړ، ویې ویل ورته ووایئ چې دوه غله مو راوستي دي، راشئ او جزا ورکړئ. ویې ویل چې هغه د خپل واده په مراسمو کې بوخت دی، خو ستاسې پیغام به ورورسوم. څو ساعته وروسته هغه کس له دوو نورو کسانو سره راغی. بیا یې هماغه ماشوم او سړی زما د سترګو پر وړاندې د اوبو په هماغه پایپ سخت ووهل چې مخکې یې زما د شکنجې لپاره کارولی و. د هلک چیغې ډېرې دردناکې او بوګنوونکې وې.»[178]

په دې روایت کې یوه بله مهمه موضوع د طالبانو د استخباراتو اداري لهخوا د جنایي جرمونو د مشکوکو کسانو د نیولو په برخه کې د دوی له قانون څخه پورته صلاحیت دی، چې دا کار د جزایي اجرااتو له اصولو سره سم د پولیسو صلاحیت ګڼل کیږي، نه د استخباراتو. دا ډول اقدامات د طالبانو د ادارو د قانوني بېنظمۍ او خپلسري چلند څرګندونه کوي.

یو بل مرکه شوی وایي:

> «یو سپین ږیری چې د بدخشان د جرم ولسوالۍ و، د دې له امله دومره شکنجه شو چې یوازې له یو سرتیري سره یې عکس درلود، دومره ډېر شکنجه شو چې خبرې کول ترې هېر شول.»[179]

بل مرکه شوی وایي:

> «ځینې کسان یې زموږ د سترګو په وړاندې د برقي شوک، په انبر د ګوتو نوکانو ته په فشار ورکولو، او په کیبل وهلو سره شکنجه کول. موږ به د درد او وېرې له امله چیغې وهلې او د مرګ دعا به مو کوله.»[180]

177 . استامبول پروتوکول، ۴ فصل، B.1.d. برخه.
178 . رواداري، ۷ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپریل ۲۷مه.
179 . رواداري، ۹ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د می ۱۲مه.
180 . رواداري، ۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د جون ۳مه.

یو شمېر مرکه شویو ویلي چې د بند پر مهال یې د نورو زندانیانو چیغې او فریادونه اورېدل:
«ما خپله د بل چا شکنجه په سترګو نه ده لیدلې، خو د نورو زندانیانو فریاد او چیغې مې اورېدې. ځینې شپې دومره په زوره چیغې وې چې موږ به د خپلو غوږونو بندولو ته اړ شو، څو دا ځوروونکې چیغې وا نه ورو.»[181]

همدارنګه یو بل قرباني په دې اړه داسې روایت لري:

> «یوه شپه، چې ډېر ښه نه وم او په ناسته ویده شوی وم، د یو زنداني سرې د ژړا په غږ راویښ شوم چې په پښتو یې زارۍ کولې، ویل یې: قاري صاحب توبه مې ده، مه مې وهه؛ مولوي صاحب توبه مې ده، مه مې وهه. غږ یې ډېر لوړ و، خو لږ څه زما له بند خونې څخه لرې و.»[182]

## د بندیانو وژنه

د نیول شویو یا بندیانو وژل، د بشر حقونو تر ټولو ستره او وېروونکې سرغړونه ګڼل کېږي، چې همماهله د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال تړون او د شکنجې د مخنیوي کنوانسیون له موادو سرغړونه ده، څکه چې دا اسناد د ژوند حق او له شکنجې څخه د خلاصون حق تضمینوي.[183] دا ډول کړنې نه یوازې چې مطلقاً منعه دي، بلکې د ترسره کوونکو لپاره یې نړیوال حقوقي مسؤلیت هم رامنځته کوي.

**سره له دې، د دې څېړنې ۷ تنو ګډونوالو د هغو بندیانو د مرګونو وېروونکې کیسې وړاندې کړې دي چې د طالبانو تر کنټرول لاندې د ازادۍ د سلب په ځایونو کې د شکنجې له امله وژل شوي دي. درې تنو یې ویلي چې دوی په مستقیم ډول د دغو پېښو شاهدان ؤ، حال دا چې څلورو نورو کسانو د نورو د مشاهدې یا کیسې له مخې پرې خبرې کړې دي.**

له دغو مرکه شویو یو تن چې د یو بل بندي د مرګ شاهد پاتې شوی، ویلي دي:

> «ما سره په بند خونه کې یو تن چې د راغ ولسوالۍ یو ځوان و، کله چې شکنجه کېده، له غوږونو یې وینې روانې وې. دوه ورځې وروسته مړ شو، ویل کېدل چې ځانوژنه یې کړې؛ خو موږ ولیدل چې جنازه یې له ماتو لاسونو او پښو سره بهر یوړل شوه.»[184]

یو بل قرباني ویلي چې طالبانو د قدرت تر نیولو وروسته، د هغه دوه پخواني همکاران نیولي او بیا یې وژلي دي:

> «طالبانو په ۲۰۲۲ کال کې لومړی دغه کسان ونیول او بیا یې په سختو شکنجو هغوی ووژل. د دواړو جسدونه یې په یوه ځای کې غورځولي ؤ. د شکنجې سختوالی دومره زیات و چې ټول بدنونه یې تور شوي ؤ، او د وهلو ټکولو ښکاره نښې، چې ما په خپله ولیدې، څرګندې وې.»[185]

181 . رواداري، ۳۴ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د اپرېل ۲۰مه.
182 . رواداري، ۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۸مه.
183 . د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، ۶ او ۷ مادې او د شکنجې د مخنیوي کنوانسیون لومړۍ ماده.
184 . رواداري، ۹ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د می ۱۲مه.
185 . رواداري، ۱۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۹مه.

یو بل مرکه شوي ویلي:

«په غور ولایت محبس کې د یو بندي د مرګ شاهد پاتې شوی یم. دري ورونه چې په وینا یې د سیمه‌ییزو مخالفتونو پر بنسټ په ساغر ولسوالۍ کې نیول شوي ؤ، د یوې میاشتې لپاره یې پرله پسې شکنجه تجربه کړې وه. بالاخره، د غور محبس ته انتقال شول او مشر ورور یې چې نږدې شپېته کاله عمر یې درلود، یوه اوونۍ وروسته مړ شو.» [186]

په دې کیسه او د نورو دوو قربانیانو څرګندونو کې، د طالبانو له لوري د بندیانو پر وړاندې د بې‌رحمۍ وروستی حد څرګندېږي، چې هم له قضایي بهیر پرته وژنه ده او هم داسې شکنجه ده چې د مرګ لامل ګرځېدلې ده.

## د شکنجې او ناوړه چلند پایلې

د دې څېړنې ګډونوالو ویلي، چې نیولو او شکنجې پر دوی ژورې فزیکي او رواني منفي اغېزې درلودې، چې ښایي د عمر تر پایه دوام ولري.

**د مغزي وینې بهېدل، کوڼتوب، د ملا او سر درد، د ناامنۍ احساس، خپګان، د ځان وژنې هڅه او نورې رواني ستونزې، د جنسي ورتیا له لاسه ورکول، د غاړې هډوکي کړېدل، د غاښونو او پښو هډوکو ماتېدل، د بندونو دردونه، د ناستې او تګ مشکل، او د لیکلو پر مهال جسماني ناتواني هغه ځاني زیانونه دي چې قربانیانو یې راپور ورکړی دی.**

لاندې د شکنجې د پایلو دا اړخونه، د قربانیانو د مستقیمو کیسو پر بنسټ، په دوه برخو کې څېړل شوې دي:

### ۱. فزیکي پایلې

د دې څېړنې له ۳۴ ګډونوالو څخه ۲۱ تنه ویلي چې د طالبانو په زندانونو کې د سختې شکنجې له امله له فزیکي ستونزو سره مخ شوي دي.

یو قرباني چې د پخوانیو سرتېرو له ډلې دی، داسې کیسه کوي:

«زما بدن له سره تر پښو پورې تور شوی و. ډاکټرانو راته وویل چې د دماغو متخصص ته اړتیا لرم. د دوستانو په مرسته د کابل یو روغتون ته لاړم. سر مې ایکسرې او سي‌تي‌سکن شو، ویل یې چې د مغز وینه دې بهېدلې. پنځلس ورځې په روغتون کې بستر وم، لا هم درمل خورم او د ډاکټر تر تداوۍ لاندې یم.» [187]

یوې معترضې ښځې ویلي دي:

«د سختې شکنجې له امله مې د غوږ پرده شکېدلې او زیانمنه شوې. د ښي لاس ګوته مې سخته ټپي شوې او همدا اوس هم نشم کولای اوږده موده کښېنم، ځکه چې پښه او ملا مې درد کوي.» [188]

186 . واداري، ۶ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د مۍ ۱۵مه.
187 . رواداري، ۲۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۱۸مه.
188 . رواداري، ۲۶ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۵مه.

یو بل مرکه شوی کس چې د سختې شکنجې له امله یې جنسي ورتیا له لاسه ورکړې او له نورو فزیکي ستونزو سره هم مخ دی، وایي:

**«یو غوږ مې لا هم ډېر درد کوي، ډاکټر راته ویلي چې باید عملیات شي. په تګ کې هم ستونزه لرم، او تر ټولو لویه ستونزه مې غیرارادي انزال او د جنسي ورتیا له لاسه ورکول دي.»** [189]

## ۲. رواني پایلې

د څېړنې له ګډونوالو څخه ۲۳ تنو ویلي، چې له زندانه تر خوشې کېدو وروسته، د سختې شکنجې له امله، له پراخو رواني ستونزو سره مخ شوي دي. ډېرو یې د خپلې تجربو د بیان پر مهال ژړلي، چې دا د ژورې رواني ضربې څرګندونه کوي. د ځانوژنې هڅه، ژور خپګان، شدید اضطراب، د راتلونکي په اړه د نا‌امیدۍ احساس، هېره، عصبانیت، یوازیتوب او ګوښه‌توب، د خوب اختلالات لکه وېره او په خوب کې چیغې وهل، د شپې خپسې، د ژوند او ورځنیو فعالیتونو سره د علاقې له لاسه ورکول، هغه ستونزې دي چې ګډونوالو مطرح کړې دي.

په دې اړه یو ګډونوال ویلي:

**«کله چې خوشې شوم، روحي حالت مې ډېر خراب و. اشتها مې نه لرله او د شپې به مې چغې وهلې. دوه میاشتې له کوره ونه وتلم، ځکه وېرېدم چې بیا به مې ونیسي.»** [190]

همدا راز یو بل ګډونوال ویلي:

**«سره له دې چې له یو رواني متخصص سره مې لیدلي او درمل خورم، لا هم د ژوند نا‌امیدي او د زندان د شکنجې ترخې خاطرې مې ځوروي، او د شپې وېروونکي خوبونه وینم.»** [191]

یو بل ګډونوال وایي:

**«د وېرې احساس، د شپې خپسې او ناکرارې تل له ما سره دي. هغه شکنجې چې تجربه مې کړې، هره شپه زما ذهن او روان ځوروي، او نښې یې زما له بدنه نه وځي. ان زما کورنۍ او ماشومان هم له دې حالته سخت ځورېږي.»** [192]

# د شکنجې او ناوړه چلند عاملین

له دې امله چې د شکنجې او ناوړه چلند بېلابېلې بڼې د قربانیانو د مستقیمو روایتونو پر بنسټ د راپور په پخوانیو برخو کې تشریح شوې دي، نو اوس په دې برخه کې د شکنجه کوونکو د هویت لنډه څېړنه وړاندې کېږي.

189 . رواداري، لومړی شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د می ۸مه.
190 . رواداري، ۲۶ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپریل ۲۵مه.
191 . رواداري، لومړی شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د می ۸مه.
192 . رواداري، ۱۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپریل ۲۷مه.

د دې څېړنې د موندنو پر بنسټ، راپور شوي ۲۵ تنه قربانیان د فزیکي او رواني شکنجې، جنسي ځورونې او نورو سپکونکو چلندونو سره د استخباراتو د اداري له خوا، ۶ موردونه د پولیسو له خوا، او ۲ نورې پېښې د واکمنې اداري د دفاع وزارت پورې اړوند ځواکونو او ۱ پېښه په ګډه د استخباراتو او پولیسو له خوا، او بله پېښه د نورو سیمه‌ییزو مسؤلینو له خوا شوې ده.

همدارنګه، یو کس د پولیسو لخوا نیول شوی او بیا استخباراتو ته سپارل شوی دی، چیرې چې شکنجه شوی دی. دا معلومات د هغو ۳۴ قربانیانو د روایتونو له تحلیل څخه ترلاسه شوي چې له رواداري سره یې مرکې کړې دي.

شکنجه کوونکي عموماً نارینه ؤ، چې د طالبانو د استخباراتو او پولیسو له ادارو سره تړاو لري، او په دغو ادارو کې یې د منځنۍ یا لوړې کچې دندې درلودې. په همدې ترڅ کې، دري تنه هغه مېرمنې چې د مدني اعتراضونو په تور نیول شوې وې، ویلي چې د دې ډلې د استخباراتو او پولیسو په نظارت‌خونو کې د ښځینه ساتونکو له خوا هم شکنجه شوي او بد چلند ورسره شوی دی. دغه کړنې د سنګسار ګواښ، سپکاوی او توهین رانغاړي.

**یو شمېر قربانیان د خپلو شکنجه کوونکو ظاهري بڼې، دندې، او ان تر دې چې نومونه یې هم په یاد لري. د دوی روایتونه څرګندوي چې د استخباراتو د ادارو رئیسان، د استخباراتو د ساحو مسؤلین، د استخباراتو د نظارت‌خونو مسئولان، د ولسوالیو د استخباراتو مسؤولین، د تحقیق مسئولین، د استخباراتو پلټونکي، د پولیسو د حوزو مسئولین او د استخباراتو او پولیسو ټیټ پوړي مامورین، د شکنجې مستقیم عاملین ؤ.**

**د هغو قربانیانو په روایتونو کې چې د استخباراتو له خوا نیول شوي، ګډې تکرار شوي نښې پکې موجودې دي چې شکنجه کوونکو به اکثراً یا خپل مخونه پټول، او یا به یې د قربانیانو سترګې تړلې. دا حالت څرګندوي چې عاملین د شکنجې له حقوقي عواقبو خبر ؤ او هڅه یې کوله چې خپل هویت له قربانیانو پټ وساتي.**

## له خوشې کېدو وروسته ځورونې او تهدیدونه

د دې څېړنې شپږو ګډونوالو ویلي چې له زندان څخه تر خوشې کېدو وروسته هم د طالبانو د استخباراتو له خوا تر تهدید او ځورونې لاندې ؤ، او همداراز ۱۵ نورو کسانو ویلي چې د بېرته نیول کېدو او شکنجې له وېرې له هېواده تښتېدلي دي.

> یو مدني فعال چې د یوې مظاهرې د تنظیم په تور نیول شوی و، رواداري ته داسې ویلي:
>
> «یو تن له هغو کسانو څخه چې زما په نیول کېدو کې یې نقش درلود، وروسته د واتساپ او فېسبوک له لارې هڅه کوله چې له ما سره تماس ونیسي. هغه په پرله پسې توګه راته پیغامونه رالېږل، او پوښتنه به یې کوله چې چېرې یم او څه کوم. د هېواد د پرېښودو ترمخه، اړ وم چې د هغه پیغامونو ته ځواب ورکړم، ځکه د بې‌ځوابه پاتې کېدو له عواقبو وېرېدم. دا حالت زما لپاره د تهدید او رواني فشار یوه بڼه وه.» [۱۹۳]
>
> یو بل مرکه شوی چې د بشري حقوقو مدافع دی، ویلي دي:
>
> «له خوشې کېدو وروسته هم د سیمه‌ییزو طالبانو تر تعقیب لاندې وم. کله به یې زما ورور ته او کله به یې زما یو ملګري ته زنګ واهه او زما د ځای پوښتنه به یې

193 . رواداري، ۲۴ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپریل ۲۶مه.

> کوله. زه به پټ ګرځېدم... یوه ورځ یې زما کور ته احضاریه رالېږلې وه چې باید ولسوالۍ ته ورشم، خو زه په کابل کې وم او ولسوالۍ ته نه ولاړم. زما ورونه یې هم غیرمستقیم ګواښلي ؤ.» [194]

همداراز، یو بل قرباني چې د کورنۍ غړي یې په دوامداره توګه تر تهدید او ځورونې لاندې راغلي، داسې روایت کوي: «کله چې خوشې شوم، زما د تلیفون شمېره یې واخیسته، وروسته یو تن د هغوی د استخباراتو کارکوونکي ماته پیغامونه رالېږل او نورې پیسې یې غوښتې. هره اونۍ به یې راته پیغام لېږه، کله به یې څلور زره، کله پنځه زره، کله لس زره، پنځلس زره او شل زره ډالره غوښتل. زه به یې ګواښلم چې که پیسې ورنه کړم، بیا به نیول کېږم او شکنجه کېږم. ډېر تنګ راغلم او اړ شوم چې نور شپږ یا اووه زره ډالر ورکړم. طالبانو زما دوه کورونه او درې دوکانونه، چې زما شخصي ملکیت ؤ، هم غصب کړل. څو ځل مې کور ته ورغلل، زما له اولادونو څخه یې د تهدید له لارې پیسې غوښتې. اوس د خپلو اولادونو د امنیت او مصئونیت په اړه ډېره اندېښنه لرم.» [195]

# د عدالت او حساب‌ورکونې خنډونه

حقیقت دا دی چې دا مهال په افغانستان کې د عدالت او حساب‌ورکونې تأمین له جدي ننګونو او خنډونو سره مخ دی. ځکه د دغو خنډونو له جملې څخه تر ټولو مهم، د یو خپلواک عدلي او قضایي نظام نشتوالی او همداراز د داسې څارونکو بنسټونو نشتون دی چې د بشر د حقونو د سرغړونو د بې‌پلوه څېړنې صلاحیت او وړتیا ولري.[196] دغه وضعیت د بشر د حقونو د بېلابېلو سرغړونو، په تېره بیا د شکنجې او ناوړه چلند د دوام لامل شوی دی. د طالبانو عدلي او قضایي نظام نه یوازې دا چې د عادلانه محاکمې هغو اصولو او معیارونو ته ژمنتیا نه لري چې د نړیوالو بشري حقونو په سندونو او د افغانستان په پخوانیو قوانینو کې تضمین شوي، بلکې خپله د بې‌عدالتیو او له مجازاتو د خوندي پاتې کېدو د فرهنګ د ترویج یو بنسټ ګرځېدلی دی.[197]

**له دې سره سره، د عدلي تعقیب په بېلابېلو پړاوونو کې مدافع وکیل ته لاسرسی، په ټاکلي وخت کې محکمې ته حاضرې، او د شکنجې اړوندو شکایتونو ته رسېدنه، د عادلانه محاکمې له بنسټیز اصولو څخه دي، چې د دې راپور د موندنو له مخې، طالبانو دا اصول د هغو قربانیانو پر وړاندې په پراخه توګه تر پښو لاندې کړي چې له رواداري سره یې مرکې کړې دي.**

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو ځانګړي راپور ورکوونکي د افغانستان په اړه په یو راپور کې ویلي دي چې د قانوني تضمینونو نشتوالی—په ځانګړې ډول مدافع وکیل ته محدود لاسرسی او د عادلانه محاکمې نورو اصولو ته نه پاملرنه—د خلکو د شکنجې او ناوړه چلند لامل شوی دی.[198]همداراز، د ملګرو ملتونو د مرستیالۍ دفتر (یوناما) په یو راپور کې ویلي دي چې دوی د ۲۰۲۲ کال د جنورۍ له میاشتې تر د ۲۰۲۳ کال د جولای تر ۳۱مې پورې، د طالبانو تر کنترول لاندې زندانونو کې د شکنجې او ناوړه چلند شاوخوا ۴۶۶ قضیې ثبت کړې دي؛ خو دوی له داسې هېڅ مورد سره نه دي مخ شوي چې د پولیسو او استخباراتو د نظارت‌خونو مسؤلینو دې د سرغړونو په تړاو د څېړنو امر کړی وي یا یې د عاملینو د محاکمې هڅه کړې وي.[199]

194 . رواداري، ۷ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۷مه.
195 . رواداري، ۱۳ شمېره رواداري، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۹مه.
196 . رواداري، د طالبانو په عدلي او قضایي نظام کې عدالت ته د لاسرسي وضعیت، ۲۰۲۳ کال جون، ۱۶ مخ.
RW_Rule-of-Law-Report-Dari.pdf/03/https://rawadari.org/wp-content/uploads/2025
197 . هماغه سرچینه، ۱۶مخ.
198 . د ملګرو ملتونو عالي کمیساري، ځانګړی راپورر، په افغانستان کې د بشر حقونو وضعیت، ۲۰۲۴ کال د اګست پر ۳۰مه، ۱۶ مخ.
unofficial-dari-translation-sr-afghanistan-ga79-report.pdf/11-https://www.ohchr.org/sites/default/files/2024
199 . د ملګرو ملتونو مرستیال پلاوی، په افغانستان کې له بندیانو سره چلند، د بشر حقونو رایت: د باور لپاره یو عامل، ۲۰۲۳ کال سپتامبر، ۴۹ مخ.

## ۱. مدافع وکیل ته نه‌لاسرسی

مدافع وکیل ته د لاسرسي حق، د عادلانه محاکمې له بنسټیزو اصولو او د نیول شویو کسانو د حقونو د تضمین له مهمو برخو څخه دی. د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق د ۱۴مې مادې له مخې، هر شخص د جزایي تورونو پر وړاندې دا حق لري چې د خپلې خوښې مدافع وکیل له قانوني مرستې څخه برخمن شي، او که د وکیل ټاکلو مالي توان ونه لري، نو دولت مکلف دی چې ورته وړیا وکیل وټاکي.[۲۰۰] د افغانستان اساسي قانون هم صراحتاً ویلي چې هر شخص له نیول کېدو وروسته دا حق لري چې د ځان د دفاع او د خپل حق د اثبات لپاره مدافع وکیل ولري.[۲۰۱]

**خو د دې راپور موندنې ښيي چې له ۳۴ مرکه شویو کسانو څخه، ۲۸ تنو یې د عدلي تعقیب په هېڅ پړاو کې مدافع وکیل ته لاسرسی نه دی درلودلی. یوازې ۵ کسانو ویلي چې هغوی په محدود ډول، او زیاتره د تحقیق د مرحلې په پای کې، وکیل درلودلی دی. له دې کسانو څخه دوو تنو هېڅکله هم له خپل وکیل سره د اغېزناکې کتنې او سلا مشورې فرصت نه دی موندلی، او یوازې د قضایي ناستې پر مهال یې یو بل لیدلي دي. له دې ډلې څخه، ۲ تنه د ۲ تر ۴ ساعتونو پورې د استخباراتو په توقیف کې پاتې شوي دي.**

مدافع وکیل ته له لاسرسي څخه د قربانیانو پراخ محرومیت، د هغوی پر وړاندې د شکنجې او ناوړه چلند له مهمو لاملونو څخه بلل شوی، او د هغوی د نورو بنسټیزو حقونو د نقض زمینه یې برابره کړې ده.

## ۲. محکمې ته نه‌لاسرسی

محکمې ته د توقیف شویو کسانو پر وخت حاضري، له خپلسرې نیونې او د شکنجې له مخنیوي سره مرسته کوي. د مدني او سیاسي حقونو نړیوال کنوانسیون ټینګار کوي هر څوک چې نیول کېږي باید ژر تر ژره قاضي یا بل صلاحیت‌لرونکي مقام ته وړاندې شي، څو د هغه د توقیف د قانونیت په اړه پرېکړه وشي، او همدارازدا حق لري چې په معقوله موده کې محاکمه یا خوشې شي.[۲۰۲] د افغانستان ۲۰۰۴ کال اساسي قانون، چې د یاد کنوانسیون تابع دی، هم دا ټینګار کړی چې تورن باید له نیول کېدو سره سم پر ده د لګېدلي تور په اړه خبر شي او د قانون له خوا ټاکل شوې موده کې محکمې ته وړاندې شي.[۲۰۳]

**د دې څېړنې د موندنو پر بنسټ، له ۳۴ مرکه شویو کسانو څخه ۲۴ تنه، له شکنجې او ناوړه چلند وروسته، پرته له دې چې محکمې ته حاضر شي، د غیر رسمي میکانیزمونو له لارې—لکه لیکلي تعهد، د مشر ضمانت، د کور یا دوکان قانوني اسناد، نغدې پیسې، وسله، او د کورنۍ یا قومي مشرانو په هلو ځلو—د استخباراتو یا پولیسو له نظارت‌خونو خوشې شوي دي.**

یو تن مرکه شوي کس په دې تړاو ویلي دي:

> «زه د دې شرط پر بنسټ خوشې شوم چې خاموش پاتې شم، بیا د طالبانو پر ضد اعتراض ونه‌کړم، او د نیول کېدو او بند د تجربې په اړه خبرې ونه‌کړم. ما او پلار مې دواړو لیکلی تعهد لاسلیک کړ.» [۲۰٤]

یو بل مرکه شوي کس داسې روایت کړی دی:

> «زما د وټساپ شمېره یې واخسته. موږ یوې بلې خونې ته لاړو، هلته شاوخوا ۴۰ یا ۵۰ کسان موجود ؤ، چې زما ضمانت یې کړی و. هغوی تعهدنامه ولوستله چې


200 . د مدني او سیاسي حقونو بین المللي میثاق، ۱۴مه ماده.
201 . د جمهوري اسلامي افغانستان اساسي قانون، ۳۱مه ماده.
202 . د مدني او سیاسي حقونو کنوانسیون، ۹مه ماده، ۳ بند.
203 . د جمهوري اسلامي افغانستان اساسي قانون، ۳۱مه ماده.
204 . رواداري، ۸ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۱۵مه.

> **زه له هېواده د وتلو حق نه لرم او نور به په مظاهرو او د اسلامي امارت ضد فعالیتونو کې برخه نه اخلم. وروسته د اهل تشیع د کمېسیون دفتر ته ولاړم، هلته یې هم ما نه ضمانت واخیست. همداراز، ما طالبانو ته یو ځل ۴۰۰ زره افغانۍ او بل ځل ۱۸۰ زره افغانۍ ورکړې چې آزاد شم.»** [۲۰۵]
>
> په ځینو مواردو کې طالبانو له قربانیانو څخه د ډېرو پیسو په اخیستو سره هغوی خوشې کړي دي:
>
> **«زما کورنۍ د څلوېښت زره ډالرو په ورکولو سره چې طالبانو غوښتل، له بند څخه په خوشې کېدو کې زما مرسته وکړه. یوه اندازه پیسې مو په کور کې وې، پاتې نورې له دوستانو او خپلوانو څخه پور اخیستل شوې وې. زه نه پوهېږم چې دا پیسې په خاص ډول کوم طالب چارواکي ته ورکړل شوې، خو دومره پوهېږم چې دا پیسې د طالبانو استخباراتو ته سپارل شوې دي.»** [۲۰٦]

سره له دې، یوازې ۶ تنو قربانیانو ویلي چې د دوی دوسیې محکمې ته وړاندې شوې دي او پرېکړه یې شوې ده. له دې کسانو څخه، درې تنو د بې‌ګناهۍ حکم ترلاسه کړی، خو پاتې نور د بند او د دورو په سزا ته محکوم شوي دي. لکه څرنګه چې یو تن قرباني وایي، چې هغه له ډول ډول شکنجو وروسته په پای کې بې‌ګناه وپېژندل شو او خوشې شو. طالبانو ورته ویلي ؤ چې نیول یې د یوې غلط فهمۍ او د همغږۍ د نشتوالي له امله ؤ. [۲۰۷]

> یوه بله مرکه شوې معترضه ښځینه وایي، چې د محاکمې څرنګوالی یې په دې ډول و:
>
> **«په محکمه کې راته وویل شول چې کوم جرم دې نه دی کړی او بله جلسه کې به دې خوشې کړو. زه خوشاله وم، پنځه ورځې، لس ورځې، آخر یوه میاشت تېر شوه خو لا هم زنداني وم. بله میاشت هم تیره شوه، بیا یې محکمې ته بوتلم او یو نیم کال بند باندې یې محکومه کړم. زما لاسونه یې ولچک کړل، ما چیغې وهلې، فریاد مې کاوه، د محکمې حکم مې و نه مانه او دوسیه مې استیناف محکمې ته ولېږل شوه. هغوی هلته دننه محکمه کې هم زه ووهلم. پلار ته مې یې ویلي ؤ چې لور دې عیسوي شوې ده، کافره شوې ده. آخر استیناف محکمې زموږ کورنۍ ته وویل چې باید دا شرایط ومنو: یو نیم کال بند، پنځه زره ډالر نغدي جریمه، د درې کسانو ضمانت، له هېواده نه وتلو تعهد، له اعتراضاتو څخه لیرې پاتې کېدل او له رسنیو سره د شکنجې په اړه د خبرو نه کولو ژمنه. کورنۍ مې خپل کور وپلوره او طالبانو ته یې ۵ زره ډالر ورکړل...»** [۲۰۸]

205 . رواداري، ۲۹مه شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۱۸مه.
206 . رواداري، ۱۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۹مه.
207 . رواداري، ۱۱ شمېره مرکه شوی، د مرکې نېټه؟
208 . رواداري، ۳۲ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د می ۲۴مه.



«راته وویل شول چې تاته د بند تېره شوې سزا درکوو، خو باید ۳۰ تعزیري دُرې وهل درباندې عملي شي؛ که نه، ښایي محاکمه دې میاشتې یا حتی کلونه دوام ومومي، او له کندهاره تأیید ته اړتیا ولري. زه اړ شوم دا حکم ومنم. بالاخره یې په دُرو ووهلم؛ دا دُرې له څرمنې او فلزي ټوټو جوړې وې، چې ډېر سخت درد یې راکاوه.»

یو بل قرباني، چې تر اتو میاشتو بند، ډول ډول شکنجې او د خپلو دوو غاښونو ماتېدو تجربه یې کړې وه، داسې وایي:

**«د محکمې ورځ راورسېده، قاضي ته ودرېدم، له څو پوښتنو او ځوابونو وروسته یې د بې‌ګناهۍ حکم راکړ. خو دا برائت مشروط و، داسې چې یو کس ضمانت، د یوه کور شرعي قباله، د دوو فعالو دوکانونو جواز او د کورنۍ د غړو له لوري د یوه لیکلي تعهد لاسلیک باید وړاندې شي؛ تعهد دا و چې نور به د اسلامي امارت پر ضد «بغاوت» نه کوم.»** [209]

د طالبانو محکمو په ځینو قضیو کې د قربانیانو لپاره عجیبه سزاوې ټاکلې دي. لکه څنګه چې د بشري حقونو یو فعال، چې څلور میاشتې یې زندان تېر کړی، رواداري ته ویلي چې دوی هغه د «مفسد فی‌الارض» په توګه مجازات کړی دی:

**«راته وویل شول چې تاته د بند تېره شوې سزا درکوو، خو باید ۳۰ تعزیري دُرې وهل دربانديې عملي شي؛ که نه، ښایي محاکمه دې میاشتې یا حتی کلونه دوام ومومي، او له کندهاره تأیید ته اړتیا ولري. زه اړ شوم دا حکم ومنم. بالاخره یې په دُرو ووهلم؛ دا دُرې له څرمنې او فلزي ټوټو جوړې وې، چې ډېر سخت درد یې راکاوه.»** [210]

یو بل قرباني وایي، دا چې په فېسبوک یې د لوېدیځ کابل پر یوه ښوونیز مرکز د تروریستي برید پر ضد څو یادښتونه خپاره کړي وو، د طالبانو محکمې د ملي خیانت په تور محکوم کړی دی:

**«هغه تورونه چې قاضي یې پر بنسټ زه په دوو میاشتو او ۱۵ ورځو بند محکوم کړم، دا وو: «ملي خیانت»، «د مجاهدینو سپکاوی»، «درې فېسبوکي اکاونټونه لرل» او «اسلامي بڼه نه درلودل». ما د قاضي پر دې حکم اعتراض وکړ، خو سپکوونکی ځواب مې ترلاسه کړ.»** [211]

## ۳. د شکایتونو نه اورېدنه او له مجازاتو د شکنجه کوونکو معافیت

د شکنجې د مخنیوي نړیوال کنوانسیون دولتونه مکلف کړي دي چې د شکنجې ټول ډولونه د جزايي قوانینو له مخې جرم وګرځوي، او د هغو کسانو لپاره چې شکنجه ورکوي، یا ورسره مرسته او همکاري کوي، مناسبې سزاوې وټاکي. [212]

اوس مهال په افغانستان کې نه داسې اغېزناک قانون شته چې شکنجه جزا وګڼي، او نه هم کوم قضايي بهیر موجود دی چې د شکنجه کوونکو قانوني تعقیب ډاډمن کړي؛ ځکه چې طالبانو د اساسي قانون، جزايي قوانین او د شکنجې ضد ځانګړی قانون پلي کول مخکې له مخکې ځنډولي دي. [213]

209 . رواداري، ۲۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېل ۲۱مه.
210 . رواداري، ۵ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېأ ۲۷مه.
211 . رواداري، ۶ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د می ۲۵مه.
212 . د شکنجې د مخنیوي بین المللي کنوانسیون، ۴مه ماده.
213 . رواداری، وضعیت دسترسی به عدالت در نهادهای عدلی و قضایی طالبان، جون ۲۰۲۳، ص ۱۱.
RW_Rule-of-Law-Report-Dari.pdf/03/https://rawadari.org/wp-content/uploads/2025

د دې له امله، اوس نه کوم قانوني میکانېزم شته چې د شکنجې د جرم مخنیوی وکړي، او نه داسې بنسټونه شته چې د عادلانه محاکمو اصول تضمین کړي. دا مهال، څارونکي بنسټونه لکه د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمېسیون او لویه څارنوالي هم منحل شوي، چې له امله یې قانوني او څارنیز جوړښتونه له منځه تللي؛ هغه جوړښتونه چې د توقیف‌ځایونو څار، د شکنجې اړوند شکایتونو ته رسېدنه، او د شکنجه کوونکو قانوني تعقیب کې یې ځانګړې ونډه درلوده.

بلخوا، طالبان هم د هغو نړیوالو بشري حقونو اسنادو عملي کولو ته ژمن نه دي، چې افغانستان ورسره یو ځای شوی. له همدې امله، اوس د قربانیانو لپاره د عدالت تأمین او د شکنجه کوونکو ځواب ویونکي کول ممکن نه دي. څرنګه چې د دې راپور موندنې ښیي، طالبانو نه یوازې دا چې د قربانیانو شکایتونو ته رسېدنه نه ده کړې، بلکې ځینې قربانیان یې بیا ځلي هم شکنجه کړي او ناوړه چلند یې ورسره کړی دی:

«ما له کندهاره راغلي پلاوي ته د شکنجې او ناوړه چلند شکایت وکړ. وروسته د همدې شکایت له امله د استخباراتو رئیس زه لا سخت شکنجه کړم.» [214]

یو بل مرکه‌کوونکی وایي:

**«محکمې زه بې‌ګناه وبللم او خوشې یې کړم. زما وکیل د زندان د شکنجې خبره وکړه، خو قاضي وویل: هغه څه چې تر محکمې مخکې شوي، موږ پورې اړه نه لري.» [215]**

همداراز یو بل قرباني داسې روایت کوي:

**«قاضي زه په اتو میاشتو بند محکوم کړم. کله مې چې ورته وویل، ما سره ظلم شوی، زما حال وینې، د شکنجې نښې مې پر بدن وینې؟ قاضي عصباني شو.» ۲۱۶ دغه مرکه شوی زیاتوي: څلور ورځې تر تحقیق وروسته یو کس، له قلم او کاغذ سره، زما بندخونې ته راغی. راته یې وویل: شکنجه شوی یې؟ ورته مې وویل: زما حال نه وینې؟ پرته له دوو سترګو، ټول بدن مې تور شوی. وې ویل: زه د بشر حقونو کارکوونکی یم، راته ووایه څو ټوپکونه لرې؟**

یوازې په یو مورد کې قرباني ویلي چې د امر بالمعروف اداري یې شکایت ته رسېدنه کړې ده:

**«له روغتون څخه تر راوتو وروسته مې د یوه ملګري په ټینګار د امر بالمعروف وزارت د شکایتونو اورېدو څانګې ته شکایت وکړ. د هغې څانګې مسؤل د ولسوالۍ د استخباراتو له رئیس سره، چې زه یې شکنجه کړی وم، تماس ونیو، او په دې اړه یې معلومات وغوښتل، خو هغه زما له شکنجې انکار وکړ. وروسته مې واورېدل چې د ولسوالۍ استخباراتو رئیس تبدیل شوی دی.» [217]**

214 . رواداری، مصاحبه‌شونده شماره ۵، ۲۷ اپریل ۲۰۲۵.
215 . رواداري، ۱۹ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ د می لومړۍ نېټه۵.
216 . رواداري، ۳۱ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د می ۲۵مه.
217 . رواداري، ۲۳ شمېره مرکه شوی، ۲۰۲۵ کال د اپرېأ ۱۸مه.

# پایله

لکه څنګه چې د دې څېړنې شواهد او معلومات ښيي، طالبانو شکنجه او ناوړه چلند د ځپلو، وېرې اچولو، سزا ورکولو، د معلوماتو ترلاسه کولو او له قربانیانو څخه د اقرار اخیستلو د وسیلې په توګه کارولي دي. دغه حالت د دې څرګندوی دی چې حاکم مقامات له زندانیانو سره د چلند حد اقل بین المللي معیارونو ته ژمن نه دي او یو اغېزناک عدلي او قضایي نظام نه شته، چې د عادلانه محاکمې اصول پکې تضمین شي.

د قربانیانو د مستندو او باوري روایتونو پر بنسټ، طالبانو د خلکو له نیول کېدو تر خوشې کېدو پورې، له هغوی سره د شکنجې او ناوړه چلند بېلابېل ډولونه ترسره کړي دي. وهل-ټکول، د نوکانو او غاښونو ایستل، برېښنايي شاک، مصنوعي ډوبول، له چت څخه ځوړندول، سپکاوی، توهین او لفظي تاوتریخوالی، د مرګ ګواښ، د اعدام، سر پرې کولو، سنګسار او ژوندي ښخولو تهدید، جبري اعتراف، د بندیانو وژنه، اوږدمهاله تحقیقات، انفرادي تورو تمبو کې ساتل، قومي او مذهبي سپکاوی، جنسي ځورونې او د زندانیانو لپاره غیر انساني شرایط، د طالبانو لهخوا د شکنجې تر ټولو مهمې لارې وې. دغه کړنې نه یوازې دا چې د نړیوالو بشري حقونو له اسنادو، په ځانګړي ډول د شکنجې ضد کنوانسیون سره په بشپړه توګه په ټکر کې دي؛ بلکې د طالبانو له خوا زندانیانو سره د ظلم او بې‌رحمۍ لوړه کچه هم څرګندوي.

بل لور ته، طالبانو پر افغانستان له بیا واکمنېدو وروسته، د بندیانو د بنسټیزو حقونو د ساتنې ټول اغېزناک قانوني چوکاټونه، د اساسي قانون او نورو اړوندو قوانینو په لغوه کولو سره، له منځه وړي دي. دغه حالت د شکنجه کوونکو لپاره د بشپړ معافیت فضا برابره کړې او د معافیت او ځواب نه ویلو فرهنګ ته یې دوام ورکړی دی.

د دې راپور موندنو دا هم ښودلې چې شکنجې او ناوړه چلند د قربانیانو رواني او فزیکي روغتیا ته جدي زیانونه رسولي، او د هغوی په فردي او ټولنیز ژوند کې یې دایمي ستونزې رامنځته کړې دي. سره له دې، د طالبانو تر ولکې لاندې توقیفځایونو کې د ناوړه وضعیت څېړنه او د شکنجې او ناوړه چلند مخنیوی، د نړیوالو سازمانونو له فوري اقدام او مؤثر ځواب ویونکو میکانېزمونو پرته ناشوني دي

# وړانیزونه

د دې څېړنې موندنو ته په پام سره، چې د طالبانو تر کنټرول لاندې توقیفځایونو کې د شکنجې او ناوړه چلند لا زیاته مستندسازي وشي، د عدالت تطبیق، د قربانیانو ملاتړ، د حساب ورکونې تضمین او د بشر حقونو د نورو نقضونو د دوام مخنیوی وشي، رواداري لاندې سپارښتنې وړاندې کوي:

## ملګرو ملتونو ته

۱. په داسې حال کې چې دا مهال د طالبانو تر ولکې لاندې د توقیفځایونو د اغېزناکې او دوامدارې څارنې لپاره خپلواکې ادارې نه شته، نو له ملګرو ملتونو څخه په جدي ډول غوښتنه کېږي چې د یو خپلواک څارنیز میکانېزم د جوړولو لپاره اقدام وکړي.

۲. لکه څنګه چې د دې راپور موندنو ښودلې، په افغانستان کې د توقیفځایونو دننه شکنجه او ناوړه چلند پراخ او اندېښمنوونکي ابعاد لري؛ نو له ملګرو ملتونو، په ځانګړي ډول د شکنجې ضد کمېټې څخه غوښتنه کېږي چې د لا زیاتو څېړنو او مستندولو لپاره اقدام وکړي او پایلې یې شریکې کړي.

۳. دا چې شکنجه د نړیوالو جرمونو له مصادیقو څخه ګڼل کیږي او د جزا د نړیوالې محکمې د قانوني صلاحیت په حدودو کې راځي، نو له دغې محکمې غوښتنه کېږي چې په افغانستان کې د وضعیت ارزونې او د شکنجې د مرتکبینو د محاکمې لپاره عملي ګامونه واخلي.

۴. د دې راپور د موندنو په رڼا کې، له نړیوالې ټولنې غوښتنه کېږي چې د طالبانو د اړ ایستلو لپاره، چې د بشر حقونو د نړیوالو اسنادو (په ځانګړې توګه د شکنجې ضد کنوانسیون) احکامو ته ژمن پاتې شي، پر دې ډلې خپل ډیپلوماتیک فشارونه زیات کړي.

۵. له نړیوالې ټولنې، په ځانګړي ډول د بشر حقونو له ملاتړو هېوادونو څخه غوښتنه کېږي چې د قربانیانو د بشردوستانه مرستو، پناه غوښتنې او نورو اړتیاوو د برابرولو لپاره لازم اقدامات او همکارۍ ترسره کړي.

## واکمنو چارواکو ته

۱. له واکمنو چارواکو غوښتنه کېږي چې د نورو شکنجو، ناوړه چلندونو او د زندانیانو د بشري حقونو له نقض څخه، چې له نړیوالو جزایي مسؤلیتونو سره مل دي، ډډه وکړي، او د پخوانیو قوانینو، په ځانګړې توګه د افغانستان د شکنجې د مخنیوي قانون د پلي کولو زمینه برابره کړي.

۲. افغانستان له ګڼ شمېر نړیوالو اسنادو او تړونونو سره یوځای شوی، چې د شکنجې خلاصون یکې په مطلق ډول تضمین شوی؛ نو له حاکمو مقاماتو غوښتنه کېږي چې د شکنجې د مخنیوي لپاره د همدغو اسنادو په رڼا کې، خپلو قانوني مسؤلیتونو ته د رسېدو په برخه کې لازم اقدامات وکړي.

۳. همداراز، له حاکمو چارواکو غوښتنه کوو چې د آزادۍ د سلب ځایونو د وضعیت څېړنې او ارزونې په برخه کې خپل قانوني مسؤلیتونه عملي کړي او د خپلواکو بنسټونو له خوا د څارنې زمینه برابره کړي.

۴. له حاکمو چارواکو غواړو چې په افغانستان کې د مدني فعالیتونو او د بیان د آزادۍ د ځپلو د وسیلې په توګه له خپلسرو نیونو، جبري ترې تم کولو او شکنجې څخه کار وا نخلي او سمدلاسه یې پای ته ورسوي.

رواداری

RAWADARI